منبع الجهاد

علمي او جهادي مياشتنۍ خپرونه

افغانانو له يونيم مليون نه دزياتو وګړو
قرباني ورکړې او روسي پوځونه يې په
تيښته مجبور کړل څکه خو دهيواد
دمشرتيا کلو حق يواځې او يواځې
دهمدغه قهرمان ولس حق دي.

مونږ امريکا يا بل چاته دا اجازه نه ورکوو چې
د خپلې خوښې حکومت او نظريې خلک په
افغانانو ونيې



زمونږ هيله ده چه نوي کال ته پردښمن دمرګونو ګوزارونو
اودرندوحملوله اړخه هرکلی وويل شي.
افغان مجاهد ولس لکه څنګه چه په پيل کې په تش لاس دجهاد دګرته
دننګلې او دچا مرستوته يې نه ووکتلی همداسې به خپل جهاد ته
دخپل ايمان او عقيدې په تکيه دوام ورکوي.

ديوه مسلمان په توګه زمونږ مکليفيت دالله تعالی په لارکې جهاد
ته دوتلو مکلفيت دي - دوسايلو برابرول او برياليتوب دالله تعالی
کاردي .

الحاج مولانا نظام الدين حقاني دخپلو
قوماندانانو دجنګي تاکتيکو نو جاج اخلي

دنوی لمريز (۱۳۶۹) کال را دبره کيدل او دتقوی ،
صبر ، استقامت ، برکت ، رحمت او نصرت، دنيکمرغه
مياشتی (رمضان) حلول ټولو مسلمانانو ته مبارك
او په افغانستان کی داسلامی حکومت دقيام
په دعا بختور غواړو .

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

الٰہی ارشاد

اِنۡفِرُوۡا خِفَافًا وَّثِقَالًا وَّجَاهِدُوۡا بِاَمۡوَالِكُمۡ وَاَنۡفُسِكُمۡ فِىۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ‌ ذٰ لِكُمۡ خَيۡرٌ لَّـكُمۡ اِنۡ كُنۡتُمۡ تَعۡلَمُوۡنَ ۝

(التوبه ۴۱)

ترجمه

ووځئ که یې سپک یا درانه (په هرحال باید ووځئ) او د الله په لار کې په خپلو مالونو او په خپلو سرونو جهاد وکړئ. دا ستاسې لپاره ډېره ښه ده، که پوهېږئ.

الجهاد

مؤسس : الحاج مولانا جلال الدّین حقانی

دتأسیس کال : ۱۳۶۸ ھ.ش ۱۴۰۹ ھ.ق

علمي او جهادي میاشتنۍ خپرونه

لومړی کال (۱۰) گنه - د۱۳۶۹ھ ش حمل - ۱۴۱۰ ھ ق رمضان المبارک

په دې گڼه کې

شمېره	عنوان	لیکوال	مخ
۱	د نوی کال په مناسبت د الحاج مولانا جلال الدین حقانی پیغام		۲
۲	نوی کال د مشبتو تحولاتو او . . . (سرمقاله)		۷
۳	د مهاجرینو د ستنېدو لپاره د . . .	عصمت قانع	۹
۴	حکمت وفضیلت ماه مبارک رمضان	مولانا سخیداد فائز	۱۳
۵	اتحاد ته ضرورت او د . . .	محمد وزیر	۱۷
۶	استقلال لتوانیا وآزمایش جدی. . .	محمد امین مدقق	۲۰
۷	موږ امریکا یا بل چاته دا . . (مرکه)		۲٤
۸	د ماشومانو د اسلامي ښوونې او . . .	سید محی الدین هاشمی	۳۳
۹	سرطان سُرخ	ترجمه: آیت الرحمٰن	۳۹
۱۰	په آذربایجان کې د یوه امریکایي ژورنالست . . .	ترجمه : سید عبدالله	٤٦
۱۱	جهاد د شعر او ادب په پلوشو کې		۵۲
۱۲	د کمین کشف	محمد عمر اخګر	۵٤
۱۳	مولانا جلال الدین حقانی د جنګ او دیپلوماسی په . . .	ترجمه (اداره)	۵۸
۱٤	د پکتیا په ورستیو فتوحاتو کې نیول شوی عسکر او . . .		٦۰
۱۵	پرخوست د مجاهدینو درانه عملیات		٦۱
۱٦	د مزدور رژیم د وسلو یوه ستره ډیپو . . .		٦۲
۱۷	نومیالی قوماندان مولوی نسیم اخونزاده شهید شو		٦۲
۱۸	د حق دلارې قربانیان		٦۳

دهیئت تحریر تر نظر لاندې

مسوول مدیر

الحاج عبدالباري ننگیال

مرستیال

سید محی الدین هاشمي

مکاتباتي پته

پوست بکس نمبر ۱۰۳۳ یونیورسټي ټاون، پېښور

دنوي كال په مناسبت

د مولانا جلال الدين حقاني

پيغام

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين والصلوة والسلام على رسوله الكريم

اما بعد :

اوس چی زمونږ داسلامي انقلاب او دروسانو او د هغوی د مزدورانو په مقابل کی دجهاد او مقاومت تقريباً دوولس کاله پوره کيږي مجاهدينو په دغه اوږده زمانه کی ډيرې بی مثاله قربانی ورکړی او الله تعالی دوی ته دا توفيق ورکړ چی روسی وحشی پوځونوته يی ماتی ورکړه داسی ماتی چی يواځی په افغانستان کی محدوده پاتی نشوه بلکی د افغانستان د جهاد له برکته په ټوله نړی کی کمونيزم له شرميدلی ماتی سره مخامخ او د کمونيزم زوال له افغانستان څخه پيل شو . د مجاهدينو دجهاد او قربانيو له برکته په ختيځه اروپا ، دبالتيك په سيمه او دنړی په گوټ گوټ او د روس تر استعمار لاندې اسلامی جمهوريتونو کی چی له شپيتو کالونو څخه زيات د روسانو په اسارت کی ښکيل وو ، هغوی ته هم د افغانستان د جهاد په برکت دآزادی وږمې ورسيدې .

دا زمونږ عنعنوي دود دی چی دنوي کال په مناسبت هر څوك خپلو دوستانو ته يوه هديه وړاندې کوي . افغان ولس ته د مجاهدينو تر ټولو ستره هديه او سوغات دادی چی د حق او اسلام سنگرونه له پخوا زيات ټينگ او پياوړي کړی او ددين او وطن د دښمنانو پر ضد خپلو عملياتو او بريااليو بريدونو ته شدت او پراختيا ورکړی او دښمن تر سختو او درندو گوزارونو لاندې ونيسی .

دهمدغه جهاد له برکته مجاهدينو ته په نړيواله سويه داسی سرلوړی او عزت حاصل شوی چی دهغی مثال ډير لږ ميندل کيږي دټولی نړی مسلمانان او اسلامی امت دا خپل وياړگنی او د افغانستان د مجاهد ولس په جهاد او قربانيو افتخار کوي . د همدغه جهاد وړانگود هندوستانی جبر او استبداد پر ضد په کشمير کی د آزادی تحريك په پيا وړي سنگر بدل کړ په فلسطين کی هم د همدغه جهاد دعقيدتی تکيی له مخی مقاومت له پخوا زيات غښتلی او ځپاندشو ، نو ځکه زه يوځل بيا وايم چی زمونږ د مسلمان او مظلوم ولس لپاره دمجاهدينو له خوا ډيره قيمتی هديه داده چی ددوي دعقيدي ، ناموس او وطن د دفاع سنگرونه پيا وړی وسائل شی او د دښمن پرضد عملياتو ته پراختيا ورکړل شی .

زمونږ هيله ده چی نوي کال ته پر دښمن د مرگونو گوزارونو او درندو حملو له لاري هر کلی ووېل شی او استقبال کړي شي،ترڅو زمونږ دمؤمن او قهرمان ولس د مبارزی او جهاد په تاريخ کی له مخکنيو کلونو څخه زيات بارزاو بريمن بابونه وراضافه شی . دغرب دتالی څټو ، ضعيف الا يمانه او منافقينو له خوا د اپروپاگند او مذبوحانه هلی ځلی کيږی چی گنې د مرستو د بنديدو له اړخه به مجاهدين له جهاد نه په شاشی او له مزدور رژيم سره به مصالحی ته اړشی او مخلوط او بيطرفه حکومت به ومنی.بنايږددوي ددغه ډول حربو او مانورو ځواب مجاهدين يواځی دالفاظو او بيانيو له لاري ورنکړی بلکی د عمل په ډگر کی د جنگ او مقاومت په سنگر کی بايد ددی غاښ ماتوونکی ځواب ورکړی او دا ورته ثابته کړی چی دافغانستان مجاهد ولس ددی توان لری لکه څنگه چی دجهاد په پيل کی يی په تش لاس د جهاد ډگرته دنگلی او دچا مرستوته يی نه ووکتلی همداسی به خپل جهاد ته د خپل ايمان او عقيدی په ډاډ دوام ورکوي . او هغه دښمن چی ديونيم مليون شهيدانو دقربانيو په زور يی هغه ته ماته ورکړه اوس دروس او امريکی او نورو اسلام دښمنه طاقتونو د تؤطيواو دسيسو له لاري ددغه گټلی جنگ ثمره او نتيجه داسلام دښمنه طاقتونو له لوټمار څخه خوندي وساتی . اسلام دښمنه عناصر خودا تبليغات

هم کوي چی اوس په افغانستان کی جهاد نه بلکی ورور وژنه دوام لري پداسی حال کی چی زمونږ مسلمان ملت د روسانو له تیري نه مخکی هم د کمونست رژیم پرضد وسله راپورته کړي وه دوی دروسانو له تیري دمخه هم دداخلی مرتدینو او کمونستانو پرضد را ولاړ شوي وو . روسانو خو هغه وخت تیري وکړ چی د دوی مزدور رژیم د مجاهدینو په مقابل کی له ماتی سره مخامخ شو اوبیا ۹ کاله دغه ملت له روسی پوځونو سره په نره مقابله وکړه او کله چی روسی لښکرو ماتی وخوړه او په ظاهری صورت له افغانستان څخه ووتل نو خپلو گوډاگیو ته یی ددرنو او وژونکو وسلو رالیږل دپخوا په نسبت ډیر زیات کړل .

کوم کسان چی دا تبلیغات کوی چی اوس په افغانستان کی جهاد نه بلکی ورور وژنه ده دا خبره د کفر خبره ده . دامت له اجماع ، قرآنی ایتونو او د پیغمبر صلی الله علیه وسلم له احادیثونه دا ثابته ده چی دکمونستانو ، مرتدینو او زندیقانو سره مقابله لکه دروسانو اونورو کافرانو په شیرپه مسلمانانو فرض ده،په خاص ډول دهغو زندیقانو او مرتدینو په هکله اسلام ډیر سخت دریځ نیولی چی هغه په اسلامی ټولنه کی پیدا شوی وی پدی هکله پیغمبر صلی الله علیه وسلم دشدت او غلظت هدایت ورکړی دی او ترهغی چی له خپل کفر او سلطی څخه د زړه له کومی نه وی گرځیدلی له هغوی سره یی له روغی څخه ډیر سخت ممانعت کړیدی .

داسلام په څلورو واړو مذهبونو کی د زندیق حکم دادی چی که زندیق دجنگ په حالت کی ونیول شی دهغه توبه هیڅکله هم نه قبلیږی که چیری په جنگ کی له نیولو مخکی مسلمانانو ته تسلیم شی او توبه وباسی نوتوبه یی قبلیږی هغه به هم تر مراقبت لاندی نیول کیږی چی له کفارو سره یی اړیکی بیرته ټینگی نشی او په عمل کی دا ثابته کړی چی دی پخپله توبه کی صادق دی بیا به ده ته د مسلمانانو په چاروکی برخه ورکول کیږی او که چیری بیا هم دده علاقه او ارتباط له کفارو سره په هر رنگ چی وی ثابت شو نو بیادی واجب القتل دی . د افغانستان کمونستان زندیقان دی چی د یونیم ملیون مسلمانانو د وینی تویولو ، د ملیونونو دمهاجر کولو او دروسانو د راوستلو مسوولیت ددوی په غاړه دی له همدی ځایه ده چی لدوی سره جهاد ورور وژنه نه شی گڼل کیدای او هر څوك چی دا خبره په هر ډول او هر رنگ کی کوی هغه داسلام له دایری څخه وتلی او داسلام دښمن دی .

دقریشو قوم،ابوجهل او دهغه ملگری دقومیت په لحاظ دپیغمبر صلی الله علیه وسلم قوم اواهل دمکی ۇ خوځنگه چی دوی بت پرستی کوله مشرکین وو ، داسلام

دعوت یی نه منلو نو پیغمبر صلی الله علیه وسلم له دوی سره جهاد له نورو ټولو مخکی فرض گانه او دپیغمبر صلی الله علیه وسلم ټول مهم چنگو نه لدوی سره شویدی او دانشی ویل کیدلی چی گنی پیغمبر(ص) ورور وژنه کوله . لدی څخه دا په ډاگه کیږی چی کوم کمونستان چی د افغانستان په هر گوټ او سیمو کی د ملحد رژیم په گټه فعالیت کوی اوله مجاهدینو سره جنگیږی نو هر څوك چی دقومیت له مخی ددوی مراعات کوی دا دالله تعالی د اوامرو خلاف دی ، ځکه دمسلمانانو عزت،ژوند او مستقبل ته همدا کسان له نورو زیات ضرر او تاوان رسولی شی . له گرانو او قهرمانو مجاهدینو څخه زما هیله داده چی دوی د منافقینو ددروغجنی سولی توطئو او مانورو مقابله په عملی ډول سره د جنگ په ډگر کی وکړی او سرکال دنورو کلونو په پرتله خپل گرم سنگرونه لا پیا وړی ، پراخ او مستحکم وگرځوی او داسلام ددښمنانو دهرډول تبلیغاتو طلسمونه دړی وړی کړی .

ټولو مهاجرینو ورونو ته زما پیغام دادی دوی چی د روسانو او دهغوی د مزدورانو د زور زیاتی له امله دقرآنی احکامو په رڼا کی خاص دالله جل جلاله د رضاپاره خپل کورونه او شتمنی پریښی او اسلامی گاونډیو هیوادونو او یاد افغانستان په داخل کی د مجاهدینو ترواك لاندی سیمو ته یی هجرت کړی باید چی دهجرت دستونزو او مشکلاتو په گاللو کی دپوره صبر او حوصلی څخه کاراخلی او یوه شیبه هم له خپلو جهادی او هجرتی رسالتونو څخه غافل نه شی او ددښمن توطئوته متوجه واوسی .

دافغانستان دمجاهد ملت له دینی عالمانو ، دښوونځیو ښوونکو او دمدرسو مدرسینو ته زما پیغام دادی چی زده کوونکی او طالبان په لوړه دینی اسلامی پوهه او د کفر او الحاد په مقابل کی د جهاد په عالی روحیه وروزی ، پخپله د جهاد سنگرونو ته ورشی او دشرعی احکامو په رڼا کی دخپلو مجاهدو ورونو ذهنیتونه روښانه کړی .

زده کوونکو او طالبانو ته زما پیغام دادی چی دټولو دینی او اسلامی مفاهیمو زده کړه په ښه شان سره وکړی ، داسلامی پوهی او بصیرت په رڼا کی دکفر ، الحاد ، فساد او هر ډول بی عدالتیو پر ضد د جهاد او مقابلی لوړه روحیه او جرأت په ځان کی پیدا کړی .

مجاهدو او مهاجرو ډاکترانو اوصحی پرسونل ته زما پیغام دادی چی دجهاد سنگرونو ، آزادو سیمو او د مهاجرو کمپونو ته ورشی او په پوره اخلاص او

صداقت سره دخپلو مجاهدو او مهاجرو ورونو د جهاد تېپیانو او نورونا روغانو صحی خدمت وکړی اوله هغوی سره خپلی مادی او معنوی مرستی لاپسی زیاتی کړی .

دمزدور رژیم ترواك لاندی پوځیانو ملیشو ، ما مورینو او ... ته زما پیغام دادی چی دروسانو مزدور رژیم ته په مادی او معنوی زیانونو وراړولو سره مجاهدینو ته پناه راوړی .

په پای کي سږنی نوی کال چی دروژی دمبارکی میاشتی له راتگ سره سمون خوري او روژه دقرآن عظیم الشان دنزول ، دالهی ازموینی ، صبر ، تحمل ، دنفس دتزکيې ، عباداتو ، برکتونو ، پرکفر او الحاد باندي دفتحی او بریو میاشت ده ، له الله تعالی څخه خپل ټول مؤمن او مجاهد ملت ته دصبر ، استقامت ، پردښمن باندي دوروستنی بری او الهی فیوضاتو څخه ډك كال غواړم .

والســـــلام

الحــاج مـولانـا جـلال الـدین « حـقـانـی »

بسم الله الرحمن الرحيم

سرمقاله

نوی کال د مثبتو تحولاتو او نویو بریالیتوبونو کال

نوی لمریز کال دنویو بدلونونو او تحولاتو سره را دبره شو - لکه څنگه چي تیر کال په خپله لمن کي پر افغانستان درو سانو دوحشیانه تیري او شرمیدلي ماتي داستان له ځان سره ونغښت همدغه وړ له ختیځي اروپا څخه هم د کمونیزم تغر ټول شو او دروسيې دننه هم دخوځښتونو او قیامونو تو پاني څپودکر- ملین دوحشت او استبداد په بورجلونو زلزله گډه کړه .

دغه وړ نوي کال په نړیواله سطحه دمثبتو تحولاتو او دنړۍ دمستضعفو او محکومو ولسونو له پاره داسارت دځنځرونو او زولنود ماتیدو او د آزادۍ او خپلواکۍ له زیري سره غبرگ دزماني په ناپایه واټ پل کینښود ، دنوي کال په پیلیدوز موږ دقهرمان او مجاهد ولس دبي سیاله او پرتمین مقاومت دوولس کلونه په پوره کیدودي ، افغان مجاهد ولس پدغو کلونوکي دزماني په تو پاني سیلیو او دحالاتو په سختو بړ بوکیو کي دخپلي آزادی ډیوه دخپلو وینو په تیلو بله او ځلنده وساتله . دحق په لارکي يي په بي ساري زغم بي دریغه قرباني ورکړی ، وینې يي وښندلی او دړلیو په گولیو ، داور په باران او دوینو اوښکو او ویر ونو په سمندرکي يي دولس دعزت او بقابیرۍ دنجات ساحل ته مخ په وړاندي روانه وساتله ، پدغه اوږده زماني فاصله کي يي دیوې لحظي له پاره نه دستومانۍ څه احساس زړه ته لار پیداکړی شوه اونه دپښېمانۍ او دوه زړۍ تصور ، او دغه وړدر وسي وحشي استعمار دزوال او نړیوالې ماتي کیسه له همدي ځایه شروع شوه .

دملتونو د آزادۍ او دغلامۍ دکړیو دماتیدلو دغه بهیرته يي د تاریخ لوري راوگر ځاوه . او دنړۍ دمحکومو ولسونو له پاره يي یو درس او سر مشق په ځاي پریښود او یو ویښوونکي پیغام او الهام. دا

مثالي مقاومت او دجهاد او مبارزي دادوولس کلونه خپله ديوه ځانګړي تاريخ پيلامه وګرځيده دداسي ځلنده تاريخ پيلامه چې دتل له پاره به دهر جابر او جارح له پاره دمقاومت او خوځښت پيغام له ځان سره لري .

خوددې په څنګ کي داهم لازمه ده لکه څنګه چي مونږ دخپلو برياليتوبونو او لاسته را وړنو يادونه کوو او پخپلو قربانيو وياړووهمدغه وړ دخپلوکمزوريو اونيمګړتيا وو يادونه هم وکړو اودهغې د سمون په لارکي پاخه قدمونه پورته کړو .

ځکه خو موږ يو ځل بياداخبره تکرار وو چي که دجهاد په سطحه موږ نوري ګټي ستونزي او مشکلات هم ولرو خود سياست او ديپلوماسۍپه ډګرکي دواحد قيادت نه درلودل او هغه هم پداسي سرنوشت ټاکونکو شيبوکي زمونږ اسلامي انقلاب له يوه سخت ګواښ سره مخامخ کړي او يو ډير عمده اودفکر وړ معضله يې رامنځ ته کړې ده .

په همدې رابطه موږ وايو چي دروسي پوځونو له په شاتګ وروسته له يو ه کال څخه دزيات وخت په تيريدو ديوه پياوړي او واحد مرکز يت دنشتنو الي او دقيادتو نو تعدداو ګوندي کشمکشونو زمونږ دمجاهدولس دوروستي بري په مخه کي داسي خنډونه واچول چي زمونږ دقهرمان او په وينو کي ولاړ ملت دسپيڅلو آرمانونو او قربانيو څپاند بهير يې له سختو ټکرونو سره مخامخ کړ چي دا يوه داسي جفا ګڼلي شي چي دولس حافظه به يې هيڅکله هم هيره نه کړي .

دخداي (ج) په فضل او دمجاهدينو دهمت او ارادي له برکته زمونږ دجګړي سنګرونه پياوړي دي ، ګرم دي او ځواکمن دي ، زمونږ دولس وينه دقربانۍله پاره ځوښنده او تپانده ده ،دغاز يانو دارادو عظمت څپاند دي خو د اختلافاتو او قيادتونو ربړي ددغوټو لو برياليتوبونو او ګټلي جنګ دسبو تاژعمليه په ډيره چټکتياسره پر مخ بيايي چي دوام يې بې له شکه دانقلاب برى او اهداف له يوه ستر ګواښ سره مخامخ کړيدى.

دنوي لمريز کال په پيليد وښايي چي دپريکنده تصميمونو ، نو يو هيلو ، انقلابي او مخلصانه قدمونو په اوچتو لو سره دخپل مجاهد او قهرمان ولس دسپيڅلي آرمان دتحقق په لارکي دوخت دضرورت او دحالاتو دغوښتنو له مخي داختلافاتو او خپل منځي کشمکشونو له امله دملت په ټټر جوړ زخمونه درمل کړو ، هغه آرمان چي دجهادله پيله زمونږ دولس په سينو کي ټو پونه وهي او هغه دخداي (ج) امر ، دوخت ضرورت او داسلامي امت غوښتنه ده ، داسي غوښتنه چي دنجات او بر ياليتوب رازورسره ترلي اوله هغي پرته دمسلمانانو قوت او برياليتوب ناشوني دى . له همدې لارې موږ کولي شو چي دانقلاب دبشپړ او وروستي بري په لارکي دځنډ او خنډتول عوامل ډير ژر له منځه يوسو .

نوي کال دمبارکي روژې له بختور حلول سره مصادف دي،هغه مبارکه مياشت چي دفضيلت ، تقوا،نصرت او برکت مياشت ده چي دا په خپله يو بختور او نيک تصادف دي ، زمونږ دعاده چي الله (ج) نوي کال زمونږ دمجاهد او قهرمان ولس دبشپړ بري او په هيواد کي داسلامي حکومت دقيام کال وګرځوي .

(آمين)

اداره

عصمت قانع

دمهاجرینو دستنیدو لپاره دملګرو ملتونو کمپاین

دروان عسیوي کال دمارچ دمیاشتي په ورروستيږ لسیزه کي دافغاني مهاجرو دبیا میشته کیدو لپاره دملګرو ملتونو دپروژي مشر شهزاده صدر الدین آغاخان دمهاجرینو دستنیدو او په خپل پلرني وطن کي دهغوي دبیاهستوګني لپاره سیمي ته سفر وکړ .

دآغاخان دسفر یوه مهم فاکتوردژینو ذتوافقاتو دهغه اصل سره ځانګړي تناقض او ضدیت درلود کوم چي دهغه له مخي باید مهاجرین پرته له کوم زوږ او فشار څخه خپل وطن ته ستانه شوي واي او دستنیدلو قانوني مراقبت ئي هم دملګر وملتونو تر نظارت لاندي وو خو په اوسني وخت کي لادافغاني مهاجرینو د هجرت اوله وطن څخه دهغوي دبي‌وطنه کیدو اصلي عامل یعني په کابل کي دروسانو دزور او فشار په نتیجه کي جوړشوي حکومت دواك او اختیار پر مسند باندي تکیه لري او هیڅوك هم دنوموړي رژیم دموجودیت او پر ځاي پاتي کیدو په صورت کي په افغانستان کي دسولي او انساني حقوقو دساتني تضمین نه شي کولای،خو پردي برسیره آغاخان دملګرو ملتونو دخاص وظیفه دار په توګه سیمي ته له یوه داسي پلان سره سفر وکړ چي دهغه میکانیزم او جوړښت په افغانستان کي داوضاع له انکشافا تو څخه پرته ترتیب شوي وو اوپه افغانستان کي ئي داوضاع له روانو انکشافاتو سره اړخ نه لګیده او اصلي فاکتور یي دکابل درژیم دموجودیت په صورت کي په اصطلاح دافغانستان دبیا جوړولو اوهلته دمهاجرینو دبیا ستنیدلو له هلو ځلو څخه سره چینه اخلي دآغاخان دپلان دکمپاین لومړنی پړاو دمجاهد ینو په لاس دآزادو شوو سیمو څخه پیل کیده .

دآغاخان دپلان له مخي داسي ښکاري چي دپلان په دي برخه کي په آزادو سیمو او منطقو کي لومړي باید لوژیستیکي مرسته دملګرو ملتونو دخاصو پروژو لخوا پیل شی اوددغي مرستي تر څنګ دبیاودا نیدلو له پروګرام سره جوخت دمهاجرینو دبیا میشته کیدو اووطن ته وراستنیدوله پاره دیو لړ مادي امتیازاتو لایحه هم ترتیب شوي ده .

ویل کیږي چي دپلان دلومړنی‌برخي لپاره دافغانستان جنوبي او شرقي ولایتونه انتخاب شوي وو . آغاخان دخپل سفر په لړکي دافغانستان دجهاد له

قیادت څخه غوښتنه وکړه چې دده دپروژې دښه عملي کېدو او دکار دګړندیتوب په خاطر په دې هکله له خاص کمیسون سره مرسته او کمك وکړي .

همدارنګه آغاخان دخپل سفر په لړکې مجاهدورهبرانو ته څرګنده کړه چې دنجیب رژیم به په هغو سیموکې چېرته چې دبیا جوړ ولو او بیا میشته کیدلو پروګرام عملي کیږي له هرډول نظامي او پوځي عملیاتو څخه ډډه وکړي .

له دې سره جوخت به کوشش وشي چې دبیا هستوګنې لپاره دملګرو ملتونو له هغې لارښوونکې لایحې سره ښکاره ضدیت لري چې دجینواد تړون په مفاداتو کې یې ذکر شوي دي اوهم دهغې لایحې سره کاملاً متناقضه ده کومه چې پخوا ملګروملتونو دمهاجرینو دبیا ستنیدو لپاره ترتیب کړې وي .

په حقیقت کې هر ډول تعمیري کار او هر ډول تعمیري پروګرام دوخت او زمان له قیدواو بند څخه پرته نه شي عملي کیدلای او په افغانستان کې دسولې ، اطمینان ورنه دي .

ځکه چې دکابل حکومت په خپل مینځ کې دیو سخت اختلاف ښکاردي . او دهغوي وارخطاجنګي ګوزارو نه سمت او هدف نه لري بلکه په وارخطایي سره هر پلوته ځي .

نجیب دخپل حکومت پر ټول ارګانیك چوکاټ باندې جزوي حاکمیت هم نه لري څه داچې هغه په یوه سیمه کې دجنګي عمل دنه تکرار یدو ضمانت ورکړي نجیب په مجبوروخت کې نشي کولای

د کابل د ګوډاګي حکومت دا تضمین چې هغوی به په هغو منطقو چیرته چې د بیا ودانولو او بیا میشته کیدو پروګرام تطبیقیږي جنګی عملیات نه ترسره کوي په هیڅ ډول سره د ډاډ او اطمینان وړنه دی.

ځکه چه د کابل حکومت په خپل مینځ کې د یو سخت اختلاف ښکاردی. او د هغوی وار خطا جنګی ګوزارونه سمت او هدف نه لري بلکه په وارخطایی سره هر پلو ته ځی.

دمهاجرینو دبیا میشته کیدو لپاره هغوي ته دمالي امتیازاتو ترغیب ورکړای شي او هم په زراعتي سکتورکې دکراو کروندې لپاره ځیني سامان آلات وویشل شي تر څو دمهاجرینو او دستنیدو عمل بې له کوم ځنډ او خنډڅخه ادامه پیداکړي .

که څه هم دآغاخان دپروژې پورتنې بنستیز فاکتورونه دافغانستان دبیا ودانولو اوهلته دمهاجرینو دبیامشیته کیدلو لپاره ظاهراً په زړه پورې ښکاري خو په حقیقت کې دغه نقشه دمهاجرینو بیاودانولو او هلته دمهاجرینو دبیا پر ځای کولو کار هم پرافغانستان باندې دمسلطي سیاسي او نظامي او ضاع د په نظرکې نیولو پرته په هیڅ ډول او هیڅ طریقه سره نه شي عملي کیدلای .

دکابل دګوډاګي حکومت داتضمین چې هغوي به پر هغوي منطقو چیر ته چې دبیاودانولو او بیامشیته کیدو پروګرام تطبقیږي جنګي عملیات نه تر سره کوي په هیڅ ډول سره دډاډ او چې ملګروملتونو ته دورکړ شوي ضمانت دقیق رعایت وکړي ځکه هرکله چې له همدغو سیمو څخه دده دموجودیت لپاره دچلنج اثر ښکاره شي نودځان دبقاپه خاطر هر ډول تضمینات په لغته وهلای شي .

دآغاخان دپلان اساسي او متضاد فاکتورخو لو مړي دادي چې ملګري ملتونه تر اوسه پوري دمجاهدینو سیاسي حیثیت دخپلې موسسې تر اداري پلاټ فورم لاندې نه مني .

له بله پلوه بیاپه هغو سیمو کې چې

ترکومه ځایه چی د افغانستان په ودانۍ کی د مجاهدینو په دریغ پورې اړه لري. افغانستان د مجاهدینو دی او د جوړولو هره لار او طریقه یې په خپله مجاهدینو پورې اړه لری.

دمجاهدینو تر کنترول لاندي دئ دبیا کفر دپتهودسیسو اوموامرو د تطبیق جوړولواوبیا میشته کولو پروګرام تطبیق لپاره لګیاده کارکوي او تر اوسه پوري يي لاهغه رژیم ته دافغانستان چوکي په کوي . ددري یو مشهور ضرب المثل دي چي « واك او اختیارکي ورکړي ده چي ددوي یك بام ودوهوا » آغاخان دیك بام ودو هوا لخوا په سلهاوځله دبشر دحقوقودلوړنیو په چکر کي په دیره سپین سترګي سره تحفظاتو څخه په سرغړوني سره محکوم دافغانستان دسیاسي او اجتماعي او ضاع شوي دي او دهمدوي داعتراف له مخي دښکاره واقعیتونو پر خلاف عمل کوي . هیڅ دول سیاسي اواجتماعي بنسټ نه لري دلته مونږ په ډیره اساني سره پوهیدلاي . پر دي علاوه کـه چیرتـه دآغاخان شوچي دملګرو ملتونو موسسه هم دپروژي دتیرکال کار او فعالیت ته سرى دافغانانو دجهادي ارمان پر خلاف دنړیوال په دقت سره وګوري نو دابه جوته شي چي

دآغاخان پلان ددقیقو سیاسي هدفونو دلاس ته راوړلو لپاره طرح شوي او ترتیب شوي دي.

آغاخان تیرکال دسولي داپریشن تر پروژي لاندي پرهغواړخونو دمرستي موادوویشلي دي چي دخپلو خاصوفامیلي او طبقاتي ګتهودامحااو نابودي له ویري په افغانستان کي دیوه معقول اسلامي حکومت له جوړیدوڅخه ویره لري . آغاخان چي په خپله یواسماعلیه شعیه دي ترزیاتي اندازي

همدا یو تصویر کافی دی چې د آغا خان او ملګرو ملتونو د بشر دوستۍ د رواغجنو ادعا ګانو او روانو غورځو پر څو تنه ځواب ووایی.

پوري په دغه کي دي چي دخپل بندرونوکي په سلهاووتهنه غنم چي
پروگرام له مخي زمونږ دوطن اسماعيلي دافغانستان بيا جوړولو او ودانو لو
اقليت ته چي ځيني يي فعلاً دکابل دگوداگي حکومت له مليشاوو څخه گڼل کيږي زيات امداداوكمك ورورسوي اودافغانستان ملي وحدت له يو بل گواښ سره مخامخ کړي .

پردي علاوه دملگروملتونو لخوا دروس او شرقي اروپا دغه شرط هم ومنل شو چي دافغانستان دبيا جوړولو لپاره کومه مرسته چي روسان او نور کمونيستي هيوادونه ورکوي هغه بايد په ځانگړي شکل سره دکابل دحکومت لخوا وويشل شي.

همداوس دشيرخان اوحيرتان په

ترنامه لاندي دملگرو ملتونو له ځانگړي بودجي څخه له آزاد بازار څخه رانيول شوي دي مستقيماً دکابل دحکومت په اختيار کي ورکول کيږي.

نتيجه :

حقيقت دادي چي هيڅ دول تعميري او جوړونکي پلان دهغه ځاي له اوضاع او احوال څخه په مغايرت او تناقض کي دعمل وړنه دي.

ترکومه ځايه چه دافغانستان په بياوداني کي دمجاهدينو په دريځ پوري اړه لري . افغانستان دمجاهدينو دي او دجوړولو هر لاراو طريقه يي په خپله په مجاهدينو پوري اړه لري .

> د ملگرو ملتونو مؤسسه هم د افغانانو د جهادی آرمان پر خلاف دنړيوال کفر د پټهو رسيسو او موامرو د تطبيق لپاره لگيادده کارکوی. او تر اوسه يی لا هغه رژيم ته د افغانستان چوکۍ په واکۍ کې ورکړې چې د همدوی د اعتراف له مخې هيڅ ډول سياسی او اجتماعی بنسټ نه لری.



له افغانستان څخه اوس هم هره ورځ د هجرت دکاروانونو بهير روان دی، آغاخان په کوموسترگو دبيا مېشته کېد وخبرې کوی.



مولانا سخیداد فائز

حکمت و فضیلت

ماه مبارک رمضان

دانشمندان علوم اسلامی در نتیجه تحقیقات علمی و اندوخته های تجربوی گفته اندکه پندارها ،گفتارها و کردارهای مسلمانان از نگاه اسلام . بدو بخش تقسیم گردیده :

۱ – پندار ،گفتار وکردار مثبت = مفید .

۲ – پندار ،گفتار وکردار منفی = مضر .

باغوز و مطالعهٔ همه جا نبه قانون شناسان اسلامی درك کرده اند که هر گونه فکر و عمل مامور به که، از سوی پروردگار حکیم ،رحمن ،رحیم وروٌف به انجام آن امر صادر شده باشدفکر وعمل مثبت بوده از تطبیق و تعمیل آن زندگی انسان رونق و سرو صورت رفاهیت بخش و مملو از سعادت وخوشبختی را در اغوش میکشد ، عدالت فردی و اجتماعی‌تامین و حقوق مادی و معنوی احیأ میگردد ، همه افراد در سایهٔ پیروی از اوامر بصورت مساوی بدون تبعیض از نتائج عملکرد خود بهرمند می شوند ، خلاصه همه مسایل و کردارهای که از جانب شارع به انجام آن امر شده دارای مصالح و منافع بوده وبه تعبیر یاعمال مثبت بحساب میاید.

بالعکس پندارها ، گفتارها وکردارهاییکه در دین مقدس اسلام از آن نهی و ممانعتی بعمل آمده جنبه منفی داشته و با ارتکاب آن محیط زندگی انسانی‌تلخ و مصیبتهای گونا گون دامنگیر حیات و زیست باهمی جامعه میگردد ، مصونیت وامنیت از بین میرود ، علیه زندگی انسانهاتعرض بعمل می اید ، حقوق حیاتی ،مالی و کرامت بشری مورد تاخت و تاز زور گویان قرار گرفته در نتیجه انسانها از امتیاز اتی محروم می مانندکه ستون فقرات زندگی انسانی و هسته های محوری‌حیات بشری بحساب می آید.

روزه یکی از اشیای مأمور به و دارای مصالح وامتیازات بخصو صی ذیل میباشد :

۱ – مصالح و امتیازات عام .

۲ – مصالح و امتیازات مختص به روزه که درسائر ارکان اسلام هر گز سراغ شده نمیتواند.

بدون شك خداوند (ج) به تمام صفات کمالیه موصوف و از هر گونه نقص وعیب منزه است پس از نیاز و– احتیاج که نقص گفته میشود بکلی مبرأ و پاك است روی این دلیل به عبادت بند گان نیز نیاز و ضرورت ندارد مفاد عبادت و ضرر ترك آن به بند گان تعلق می‌یابد به این نکته هم متوجه باید بود که خداوند حکیم‌بوده و هیچ امری را بدون حکمت و فلسفه بصورت عبث و بیهوده به بندگان صادرنمیفرماید، لذاتصورنبایدکرد که در وراء و عقب تشنگی و گرسنگی وترك خواهشاتیکه قبل از روزه شرعا" مجاز بود ،اسرار و حکمتهای برای

روزه دار در میان نباشد . بلی‌ترک خوردنی ،نوشیدنی و جلو گیری از خواهشات جنسی هدف از روزه نیست، بلکه مرام و مقصد از آن خیلی هاعالی وبزرگتراست. روزه مانند سائر عبادات وسیله تهذیب نفس، تزکیه وتقویه روح انسان میباشد ،صائم بانفس سرکش‌وطاغی که قسمتی اکثر بدبختیهااز ناحیه طغیان غرایز نفسی دامنگیر انسان میشود بمبارزه دست میزند و در نتیجه عملا" نیرو مندی و قوت مبارزوی خود را به ا ثبات، میسر سانند.

۱ - روزه دار نیت و عزم گرفتن روزه را از صبح صادق تا غروب افتاب با خود داری از خوردن غذا نو شیدن آب و ارضای جنسی می نماید ،در طول روز از گرسنگی نا راحتی شدید آزارش میدهد ، خوردن - غذا نسبت بهر چیز دیگر بیشتر مورد علاقه اش قرار

روزه مظهر عملی اشتراك دارنده باناداردرمحرومیت از صرف غذا و تحمل فشار وشکنجهٔ جوع وعطش می باشد ، درین ماه سرمایدار ونادار محروم از داشتن غذایی یکروزه یکسان دردگرسنگی رامی کشند ، اغنیابا امساك وخودداری ازخوردن غذا در ظرف روز تکلیف آنانی را خوب درك کرده میتوانند که سالها این رنج رامیکشند .

ترك خواهشات نفسانی علیمنفس فایق میآید ،زیرا از سنگر متجاوز نفس هر لحظه فیر های تقاضای خورد و، نوش و اشباع خواهشات جنسی صورت میگیرد ولی‌سنگر- داران مطیع و تسلیم‌به‌فرمان (من شهد منکم الشهر فلیصمه) با فیر های مقاومتی ،صبورانه ومتین خویش لشکر نفس را هدف قرار داده اجازه نمیدهد استمرار و تسلسل جوابهای مقاومت را خاتمه بخشد ،بلی نیروهای مقاومت و شکیبائی در برابرهجومهای لا ینقطع تقاضاهای نفسی که مصممند در مدت زمان در خشندگی افتاب پیش از استیلای تاریکی شب و ختم میعاد حرب فیصله کن ،سنگر مقاومت را اشغال کند ، از خود مقاومت و شهامت بی مانند نشان میدهد وبا طولانی ساختن صبر وثبات با لاخره سنگر مغرب را فتح و عسکر شکبائی را به قرار گاه تاریکی وصل می سازد و بدینوسیله نیرو های هجومی خواهشات نفسی که با حملات شیطانی خود وبالذید و شرین نشان دادن خوردنی و نوشیدنی در صدد شکست نیرو های روحی و رحمانی برامده‌بودند خود رسوا شده شکست می خورند ،و جنود روحانی میگیرد ، هر لحظه تقاضای غذا خوردن روبه افزایش میرود و استفاده از غذا محبوب ترین مسئله ای به پیش او عرض اندام میکند در عین زمان غذایی لذیذ، و خوش مزه نیز بحضور ش آماده صرف کردن است، در حالیکه جز مراقبت خدا هیچگونه مانعی‌هم‌درمیان، نیست و درعالم اسباب ظاهری جز وجدان حاکمی و جود ندارد و به استثنایی اراده وعزم روزه ،هیچ پشتیبانی و یاری دهنده در جلو گیری از صرف غذای مشتهات در عقب روزه داربمشاهده نه میرسد ،هکذا در هوایی گرم تابستان هجوم تشنگی رطوبت وجودش را بنابودی سپرده وبه آب سزدیکه پیشرویش قرار دار د، سخت نیاز دارد ، این تقاضا ها و نیازمندیهای‌طاقت، فرسا به خوردنیها و نوشیدنیها و مطالبات جنسی روزانه تقریبا" پانزده ساعت و ماهانه در ظرف ۲۹یاسی روز رمضان (۴۵۰) ساعت تکرار می شود.درین کش مکش ها ،نیروی عزم واراده صائم و غریزه صبر وثبات او که در برابر هجوم خواسته های نفسانی مقاومت مسلسل و مکرر از خود ابراز میدارد و هر روز فا تحانه

قرارگاه شام را فتح و جنود غارتگرو تجاوز پیـــــد نفس اماره با لسوء رامفتضحانه شکست میدهد ،دریـــن ، مدرســه مشق وتمرین اراده و درین تربیتگاه صبر وشکیبا ـ یی به اوج نهایی پختگی و نیرو مندی میرسد ،عـــزم و اراده ایکه تااین حدود ترنتگهای مکرر پیگیر ونیروی، صبریکه تا این اندازه مقا ومتش ،ثباتش و پیروزی ابش در مقابل هجوم متجا وزین از بوته تجربه موفقانـــــه بدر آید ،در مراحل احتمالی خطر ناکتر دیگری مانند جهاد مسلحانه با دشمن دین و خاك اسلامی میتوان بر چنین عناصرآزموده اعتماد کرد ،میتوان برعزم متین اراده فولادین و صبر کوهآسای آن تکیه و حساب نمود این است یکی از امتیازات روزه .

یکنفر از دانشمند المانی را جع به تقویه اراده ـ بحثی را برشته تحریر دراورده ،در بحث خود ثابـت ساخته که روزه بزرگترین وسیله برای تقویه ارادهمیباشد روی همین نقش برازنده و ثمر بخش روزه در نضـــج و پختگی اراده است که پیامبر اسلام میفرماید :

(و هوشهرالصبر) روزه ماه صبر است (والصبرثوابه ـ الجنة) و مکا فات صبر جنت است .روزه دار بـــه اساس تر نتگ مکرر و ملسلسل تشنگی وگرسنگی بخـوبی میتواند در جبهه جهاد مدت طولانی ،تلخیفاقگـی را تحمل کند و درنتیجه سنگر دشمن را اشغالنمایـد، و افتخارات زیادی را بدست ارد .

۲ ـ با گرفتن روزه و پیروی ازین فرمان الـــهی قدر نعمتهای خداوند شناخته میشود ،آب و غذاارزش حود رالبلند میبر د و مسلمان بعد از پی بردن بـه قیمت و قدرنعمت ،قلبا" به شکران و سپاس منعـم حقیقی می پردازد و بدین وسیله در نعمتهاافزایـش رخ میدهد ،بلی قدرنعمت در حین محرومیت از ان ـ بخوبی نما یان میگردد ، قدر روشنی روز در تاریکـی شب برملامی شودتلخی است که به شرینی قدر و وزن میدهد ، تشنگی و گرسنگی و محرومیت از خورد ونوش قیمت و ارزش نعمت طعام و شراب را مصور مـــی سازد ، بالعکس بی خبری از تلخی عطش و جـوع و زندگی مسلسل وبلا انقطاع در ناز ونعمت وعـدم محرومیت از خورد نیها و نوشیدنیها و خواسته های نفسانی قدر و اهمیت نعمتها را بکلی بعا لم فراموشی می سپا رد و لذت نعمت هاروبه کا هش میگذرد و صبغهٔ نعمت بودن را از دست داده حتی لذتها ی زندگی مفهوم خودرا میبازد ،لذا فقدان نعمت ومحروـ میت از خوردنیها و نوشیدنیها به آن قدر مید هـــد

۳ ـ روزه و احساس تلخی محرو میت از خوردنیها و نوشیدنیها و خواسته های جنسی عملا" محرومیـت طبقات ناتوان و غریب را به یاد صائم میدهـــد تشنگی و فاقگی عملی ، بهترین واعظ ساکت اسـت که آواز مؤثر این واعظ عملی از سوزش معده و خالی از حرارت عطش و از یبوست و خشکی رگهای وجـود محروم از آب بگوش روزه دار طنین انداز است واورابه فکر محرومیت دائمی و معیار تکلـف مستمر فقراء مـی اندازد ،درغیرآن اگر انسان خود، المودرد شکـم

به این نکته باید متوجه بود که خداوند (ج) حکیم بوده وهیچ امری را بدون حکمت وفلسفهٔ بصورت عبث و بیهوده به بندگان صادر نمیفرماید ، لذا تصور نباید کرد که در وراء وعقب تشنگی وگرسنگی وترك خواهشا تیکه قبل از روزه شرعاً مجاز بوده ، اسرار وحکمت های برای روزه دار درمیان نباشد .

خالی از غذا رانکشد و همواره غذاهای متنوع ومتعـــدد و میوه تازه و لذیذرا صرف نماید چطور شده میـــتواند که بسان محرومین درد گرسنگی را درك کند ،بلـــــی عناصریکه همیشه بخوان طعام شان غذاهای متعـــدد چیده وصرف میگرددفکرمیکنند همه مردم اقلاً یك نـوع غذارا حتما" می یابند. ولی باحلول ماه مبارك رمضان و چشیدن تلخی محرومیت از غذاعواطف دستگیری از بی نوایان تحریك و دست کمك به ایشان دراز میشود روزه مظهر عملی اشتراك دارنده بانادار در محرومـیت از صرف غذا وتحمل فشار وشکنجه جوع وعطش میباشد درین ماه سرمایدارمیلونر و نادار محروم از داشتـــن، غذایی یك روزه یکسان درد گرسنگی رامی کشند ،اغنیاء با امساك و خودداری از خوردن غذا در ظرف روز۔ تکلیف انانی را خوب درك کرده میتواند که سالهــــا ، این رنج را میکشند ،اگراعماق قلوب این دردیدگـان، نسبت به عناصری که مادام العمر به این درد مبتــلا هستند ،رقت و احساس دستگیری راه نیابد، اگـــر چشیدن الم گرسنگی هم ضمیر ایشان را بیدار نسازد و به امداد ورفع نیازمندی منتظرین لقمه نانی وادارشان نکند چه حالتی اینگونه کوردلان را بصیرت خواهدداد بدون شك کم از کم درین ماه خیر وبرکت روحیــــه مواسات زنده میگردد، و روزی همه بشمول بی نوایـان و فاقه کشان وسیع می شود.

٤ ــ روزه چانچه روحا" مسلمان را تقویه ونیــرو می بخشد ،جسما" هم موجبات قوت و بهبود بـــدن روزه داران‌رافراهم می سازد ،زیرا از تسلسل صـــرف غذاها و از فعا لیت مستمر و بلا و قفه ماشـــین معده که در طول سال حتی یکروز هم فرصـــت استراحت ورفع خستگی برایش میسر نمیگـــردد، معده د چار تکلیف خواهدشد و بسا امراض از یـــن ناحیه بو جود انسان راه خواهد یافت میگوید: (معده خانه مرض است ،و فرصت دادن به معده سرمنشاء ــ تداویـــت) البته فرصت مناسبتر از روزه سراغ نمیشود

روی این سبب پیامبر اسلام به روایت طبرانی بـــه اسناد یکه روات آن ثقه است فرموده: (صوموا تصحوا) روزه گیرید تاصحت یابید، بنا برآن روزه درصحت و سلامت و جود انسان رول بسزایی را ایفا ءمنمایـد.

٥ ــ عبادات جملتا" رابطه مسلمان را باپروردگارش قائم و احساس مسئو لیت او را دربرابر خود ،مـــردم و خدایش بیدار و روح انقیاد و اطاعت از ارشادا ت الـهی راتقویت می بخشد ولی روح تسلیمی و خضـوع بخدا در روزه بیشتر نیرومی گیرد،صائم در حـــال اشتها وضرورت به آب و نان در زیر زمین و دورازچشم مردم هم به خود اجازه خوردن و نوشیدن نمیدهـــد این است کمال اطاعت و این است اخلاص بمفهوم‌واقعی کلمــه.

٦ ــ فوق العادگی خاص و امتیازات بالا تر ازهمه در صیام این است که خداوند (ج) روزه را بـــذات بیچون خود نسبت میدهد چنانچه در حدیث قدســـی بخاطر ابراز شرف ممتاز روزه میفرماید: (الصوم لی‌وانــا اجـزی بـه)روزه خاص برای من است ،و مکافات انرا خود بدون ذریعهٔ فرشته میدهـم درحالیکه همه عبادات برای اوست ،زیراهر عبادتدر حین عملی کردنش دیده می شود ولی روزه را جز خدا احدی دیده نمیتوانـــد لذا بخاص به پروردگار تعلق دارد،بند گان از درك ان تا روزه دار به زبان خود از ان اطلاع ندهد از آن اطلاع یافته نمیتواند.

۷ ــ شهوات نفس جنود شیطان شمرده شـــده وبا گرفتن روزه این لشکر شیطان که در حقیقت نیرومند ترین دشمن مسلمان بحساب میأید در برابرنیروی صبر بشکست مواجه میگردد.

۸ ــ دراخیر ابراز باید کرد که از ماه مبارك رمضان به (شهر الصبر) از سوی پیامبر تعبیر بعمل آمده و خداوند (ج) در رابطه با مکافات صابرین در قران‌عظیم الشان بشارت میدهد:

ليکونکی: محمد وزير د منبع العلوم مدرسی طالب العلم

اتحاد ته ضرورت

او د نفاق ناوړه نتائج

اتحاد هغه مقد سه لاره ده چه په دنياکـــــې مسلمانانو ته ستری کاميا بی ورپه بر خه کوی او په اخرت کې هم دلوی خدای جل جلاله د رضامندی او رحمتونوسبب ګرځی او ددی پرعکس نفاق يوه داسی‌دبدبختيو او رنځونو دکـه لارده چه پـــه دنيا کې داسلامی جامعی دضعف او ناکامی سبب، ګرځی او په اخرت کی دخدای جل جلاله دقهــر او غضب سبب .داځکه چه‌نفاق يابيلتون .خوشـــول په بشری جامعه‌کې‌خصومت‌او جنګونو لويه ذريعه د ه نوبايدمونږ له کافرانو څخه عبرت واخلو چه څنګـه په کفر او الحاد را ټول شوی دي‌نو مونږ هم بايد په هغه سپيڅلی دين‌راجمع شو چه هغه موددنيا او اخرت د کاميا بی او بريو متکفل دی ا و د نجات دلاری تو صيه راته کوی ځکه چه لوی خدای جل‌جلاله فرمايی: واعتصمو ابحبل الله جميعا ولا‌ـ تـفرقـو ا .

ترجمه :د خدای جل جلاله په پاك دين (پـــه جمع سره) منګولی ولګوی او له نفاق او تفرق‌څخه پرهيز وکړی نو دغه الهی حکم تامين کول چه پـه اتفاق باندی مونږ. ته امر کوی او له اختلاف څخـه مو منع کوی په ټو لو مسلما نانو فرض او لازم دی ځکه که چيرته مسلمانان د اتفاق په رسۍ منګولـــی ونه لـګوی نو ددنيا ناکامی خو څه کوی چه پـــه اخرت کی به هم له سختو عذابو نو سره مخامخ‌شی الله تعالی فرمايی :ولاتکون کا الذين تفرقـــــوا ،

واختلفوا من بعد ما جاء هم البينت واولــئك لهم عذاب عظيم (٥ پاره ٤ ركوع ١) .

ترجمه :دهغه كسانو په شان مه كيږئ چه تفـرقا و اختلاف يي اختيار كړى وروسته لدى چه د خدا ى جل جلاله واضح ايتونه هم ورته راغلي وء او دغو كسانو ته خامخا په اخرت كې لوى عذاب شته.لدى پرته اسلام مو نږ د نفاق او اختلاف له بدى لا رى څخه منع كوى څو چو لو انسانانو ته د امن اوريښتنى وروولى زمينه مساعده شي او ددات البينى شخړ و او بدبختيو څخه وژغورل شي او په اخرت كې هـم د الهي عذابو نو څخه نجات بيا ومومى نوكه مونږ په غور سره نظر وكړو هيځكله هم چا دنفــاق او، اختلاف په صورت كې برى نه دى تر لاسه كړى او حتما " د سختو مصا ئبو او مشكلاتو سره مخا مـخ شوى او ددښمن په مقابل كې يي له ماتى ســره مخا مخ شوى دى.له رسول الله صلى الله علــيه وسلم څخه حضرت معاذ ابن جبل داسي روايت ــ كوى .

قال قال رسول الله صلى الله عليه وســــلم ان شيطان ذئب الا نسان كذئب الغنم يا ءخذالشاة القاصيةَ والناصيةَ واياكم والشعاب وعليكـــــم بالجماعة والعامة (رواه احمد)مطلب داچي شيطا ن دانسان داسي دښمن دى لكه شرمښ چه دميږويـــا كډانو دښمن دى او هغه چى حمله كوى نو پـــه شازه ميره يي كوى .(شازه هغه ميږى ته وايي‌چــه له رمى څخه ګوښه او ليرى ګرځي او يا په قاصيــه

حمله كوى)دا هغه ميږى ته وايي چه له رمى څخه د خوراك لپاره جدا كړځي او يا په قا صيه باندى حمله كوى دا (هغه ميږه ده چى له رمى څخــــد غافله وى) نو په تاسي اتفاق او اتحاد فـر ض دى او له نفاق او دلبازى څخه ځان و ژغــو رى نو مونږ كه نن پخپله وګورو دښمن به هغه چاتــه ماتى وركوى چى د اختلاف په لارپل پړدى ځكـد كه څوك اختلاف خوښونكي وى او هغه خپله كاميابى په اختلافكې وينى څو له دى لارى خپل هـدف، ته ځان ورسوى نو دادقاصيه ميږى په شان دى او هغه به خامخا ددښمن ښكار كيږى او همدارنګه د نفاق د تقبيح او له هغى څخه د ځان ژغورىې پد هكله پيغمبر صلى الله عليه وسلم داسى فرمايى:

قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم مـــن فارق الجماعــة شبراً فقد خلع ربقـةالا سلام عن عنقه

ترجمه : هرڅوك چى له اسلامى جا معى څخه د اختلاف پر نيت يوه لويشت هم بيل شو نو يقيــنا " چى ده داسلام حلقه يا كړى له غاړى څخــه وايستله .

له همدى ځايه چى د چاله غاړى د اسلام كـړى لرى شوى نو هغه به بيا د اسلام له پاره ايثار، او قربانى څنګه وركړى؟او كه بيايى وركړى نـــو خداى جل جلاله به يي ورڅخه قبول كړى ؟ا و ايا خپل هدف ته به ورسيږى ؟ نه بلكه له هد ف نه به حتما " ناكام پاتى وى او پخپلو منځــــى

> نن چي دافغانستان مؤمنو خلكو ستړيږ خواراستعمار گر او ملحد دښمن ته ماتي وركړه او داسلامي انقلاب دشمري غوټيجي په غوړيدلو دي ، مونږ ته ښايي چي دالهي امر په تعميل اتحاد ته غاړه كيږدو او د اختلاف ، نفاق او بدبختيو لومي له منځه يوسو .

شخړوبه لګيا وی .ځکه اختلاف او نفاق د اسلامی جامعی په منځ کې تنا فر او تحاسد او کینه زیاتوی او دیوبل په منځ کی اسلامی محبت او صله رحمی قطع کوی او دبل کامیابی بده ورته ښکاره کـــوي حتی چی داسلامی امت په منځ کې هرقسم فسادات او شخړی په پراخه پیمانه را منځ ته کوی چه پـــه نتیجه کي يی له اسلامی قوانینو څخه ښــکا ر ه سرغړونوته اړکوی چی ددنیا د امتحان ورکولـــود ښکاره ناکامی او داخرت د الهی عذابو نو سبـــب ګرځــــی.

پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایی :الموءمنـــو ن کرجل واحدان اشتکی عینه اشتکی را ءسه اشتکـــی کله (رواه مسلم)ددی حدیث شریف مطلبداد ی چی مؤ منان دي حتما "داسی متحدشی لکه دانسان دبدن غړی یااندامونه یعنی دانسان په بدن کـــې که سترګه درد منده‌وي نو ټول بدن یی دردمن‌وی او همداراز که سردردمن شی‌نو ورسره ټول بدن پـــه درداخته کیږی له همدی امله داسلامی جامعی شکل دانسان بدن غوندی ښودل شوی نو دهر مسلـــمان درداو غم که هغه دنړی په هره برخه کې ژوندکوی دټول اسلامی امت غم دی باید ددی درد لپار ه ټول اسلامی امت دعلاج لاری ولټوی‌نن چـــــــی د افغانستان خلکو ستر نړی خور دښمن ته ماتی ورکړه او داسلامی‌انقلاب د ثمری غو ټی په غوړیدلو د ی ښایی مونږ دالهی امر په تعمیل اتحاد ته غاړ ه کېږدو اوداختلاف نفاق او بد بختیو لومی له منځـــه یو سو .او ټول جهادی قوتونه سره متحد او غښتلی پراخ صف رامنځ ته کړی او ولس ته د اتحادخواږه وروځکی څو مودیو ولس کلن انقلاب دمصائبومشکلاتو او سختو ربړو نو په نتیجه کې د اتحاد او اتفا ق خواږه په برخه شی او ملت له نورو ناخوالو څخه په امن کی‌پاتی شی او زمونږ هیواد د اسلام تـــر بیرغ لاندی د اسلامی حکومت او نظام په سیوری‌کې بشپړه‌ازادی ته ورسیږی او داسلام په رڼاکی دیوه مطمئن او هوسا ژوند سر منزل ته ورسیږی او د دښمنانو توطیئی اودسیسی له خاوری سرمخاوری شی

محمّدامین مدقق

تبصره :

استقلال لیتوانیاوآزمایش جدی سیاست گورباچف

اعلام آزادی لیتوانیا از جانب پارلمان جدید التشکیل آنکشور جرقه اتشینی است که نقاب های مزورانه کلاسنوت وپرسیتوریکا را از چهره ابر قدرت مهزوم وشکست خورده شرق بدور خواهد افگند وبا وقوع این رویداد اکنون دست اندرکاران این فدراسیون کمونستی بخوبی درک کرده أند که وحدت نامقدس انها چقدر، اسیب پزیر است .

دمیتری لیکاچف تاریخ دان ۵۸ ساله شوروی اخطار دادکه کشور ما سرانجام قربانی این احساسات شده وانتخابات آزادموجب اشغال جنك داخلی درشوروی خواهد شد . نهایتا "دفترپارلمان شوروی وضعرابحرانی یافت تصمیم گرفت تااز همین رئیس جمهور به اصطلاح منتخب دیکتاتور ی سازد که پر قدرت تر از امپراطوران دوران بربریت کمو نیزم باشد.

وقتی این اختیارات بی حدو حصر رئیس جمهور با اکثریت ۵۹٪توسط پارلمان روسیه به تصویب رسید پا رلمان لیتوانیا فیصله واعلام نمود که کشور لیتوانیا، بعداز ۵۰ سال اشغال توسط شوروی بعداز این یك، کشور آزاد می باشد واین اعلام با قاطعیت از جانب پارلمان شوروی رد گردید . این ردعمل پارلمان روسیه درست درزمانی صورت گرفت که گورباچف درمراسم حلف وفاداری خویش بحیث بااصطلاح اولین رئیس جمهور، قانونی کشور قول داد که همه حقوق قانونی مردم لیتوانیا رامحترم خواهد شمرد ولی فقط دوروز بعدازین مراسم همین گورباچف بود که باردیگر به مقامات لیتوانیا اخطار داد تااز فیصله استقلال منصرف شده ودرمدت دوروز به پارلمان روسیه جواب بدهد .این اقدامات ضد ونقیض بطور اشکاری این حقیقت را تائید مینماید که امپراطوری سرخ با یك بحرانی جدی وحل ناپذیر مواجه گردیده ودر تحیر عجیبی بسر میبرد .

ایوانوف یکی از افسران اردوی سرخ می گوید : اقدام لیتو انیا درحقیقت انفجار تباه کننده درمیان اصلاحات گورباچف تلقی می گردد واکنون عده از مشاورین وی توصیه می نماید که گورباچف بایداز صلاحیت های جدید خویش دراشغال مجددلیتوانیا استفاده نماید .به منظور مقدمه چینی بخاطر استفاده

ازین صلاحیت هابود که گورباچف به پارلمان لیتوانیا اخطار داد تادر ظرف دوروز جواب رسمی وی رابدهد ولی این اخطار از جانب پارلمان لیتوانیا نادیده، گرفته شده و رأی ملت را مبنی بر تقاضای آزادی ، کماکان محـــترم‌شمرد . ایوانوف درنهایت نتیجـــه گیری مینماید که لیتوانیا ممکن است درانجام ایـن ماموریت موفق شوُ ولی‌بهترین راه نیل به این هـــدف مذاکرات مستمربا مقامات شوروی خواهد بود .

درخواست این حق مبادرتورزند، ولی وقتی مسکومی‌بیند که ملت های دربند روسیه حاضر أند بادادن هرنـــوع قربانی خویشتن را از شر این آفت زمان نجـــــات بخشند زمامداران کرملین آخرین تلاشهای مذبوحانــــه شان رابعمل می‌آوردند تا اگر بتوانند امپراطوری محکوم بزوالی روسیه راتاچندی از انحطاط مفتضح امیزی نجات بخشند . ازهمین سبب است که گورباچف گاهی جهـــت ارعاب وتخویف ملت های آزادی خواه درلیتوانیا دســت به مانورهای نظامی می زند و زمانی هم پرداخت ۳۳

تعجب آور است در حالیکه حزب کمونست روسیه به انحصار (۷۶) ساله خویش بر قدرت خاتمه داد، اکنون دیده میشوده که انحصار قدرت منحصر تر شده، زیرا قبلاً یگانه مرجع قانونی تصمیم گیری بیروی سیاسی (۱۲) نفری بود ولی اکنون فقط گوربا چوف میتواند هر چه بخواهد انجام دهد.

با آغاز جنبش استقلال طلبی دریکی از جمهوریهـــای بالتیك اعتبار خارجی ریفورم های اصلاحی !گورباچف بشدت صدمه دیده واز جانب دیگر این حرکت موجـب قیامهای دیگری درچهار جمهوری استونیا ،لتویـــــا جورجیا ،ومالدویا خواهد شد چنانچه منجملــــــــه جمهوریت جورجیا قبلا" درخواست نموده است تادرمورد استقلال خویش مذاکراتی را با مسکو انجام دهـــــد وجمهوری استونیا نیز بعداز بحث های داغ روی ایـن موضوع اعلام نمود که حتی حزب کمو نست استونیانیـز خواهان جدائي ان حزب از مسکو می باشد .نکتـــــه مهم که درین ساحـــه گورباچف باآن مواجـــه اســـت ایست بموجب اصلاحات جدید درقانون شوروی هـر جمهوریت فدراسیون قانونا "حق دارد تاخودرا ازمسکو جداسازد .درموقع که این اصلاحات بمیان می آمـــد حکام شوروی فکرمی کردند که نسبت وابستگی هـــای شدید اقتصادی ممکن است جماهیرشوروی نتوانندبـــه

ملیون دالرمصرف فدراسیون شوروی رادربدلی اعطایـــی آزادی مطالبه مینماید ولی متوجه نیست که استثمـــار یك کشور برای ۵۰ ساله متمادی چه بهایی‌دارد کـــه روسها باید آن رابپردازند . چنانچه مقامات لیتوانیـــا درپاسخ به این تقاضا ابلهانه گورباچف به اطـــلاع وی رسانیده اند که لیتوانیایي ها هرگز خواستار اشتراك در فدراسیون شوروی یا سلب‌حق‌خودارادیت خویش نبودند بلکه جبرا "توسط امپراطوری خونخوارروسیه "ستالین "بـمایـــن فدراسیون نام نهاد وضدآزادی کشانیده شده‌اند .کـــه به گمان غالب این .عمل ستالین ،نتیجه تفاهمـــات مخفی وی باهتلر بوده است .ودران زمان بود کـــه ۵۰۰،۰۰۰ لیتوانیایی مجرم آزادی خواهی ومخالفـت بااشتراك آنکشور درفدراسیون نام نهاد "شوروی" از- وطن‌آبایی شان تبعید گردیدند .

هم چنان قدرت های مهم خارجی منجمله امریکـا

وانگلیس تا کنون ادغام لیتوانیارا درین فدراسیون برسمیت نشناخته وازاعلام فعلی پارلمان لیتوانیانیز قویاً جانب داری‌نموده اند .بنا "شکی نیست که استعمال قوه شوروی تأثیرات جدی بر روابط امریکا وشوروی خواهد داشت وهرگاه روابط شوروی با غرب وخاصتا" امریکا برهم میخوردواضح است که پالیسی بازسازی !گوربا چف ازصفحه کاغذ به ساحه عمل وارد نخواهد شد زیرا این پالیسی هرچند تاکنون موفقیتی بدست نیاورده است ولی اگر تحرک نسبی در آن به مشاهده میرسد زاده روابط روبه بهبود تجارتی شوروی با غرب است . طوریکه شوروی حتی درتهیه مایحتاج اولیه خویش چون گندم شدیدا" به غرب وخاصتا" امریکا متکی میباشد واصلاحات اقتصادی‌گوربا- چف‌بوضوح نیازمند آنست تاگندم بیشتری از آن‌سرزمین وارد شده واز کریدت های طویل‌المدت غرب استفاده ، ، اعظمی صورت گیرد .

بعقیده یکی از مبصرین امریکایی این اتکأ خارچشم گوربا چف بوده و وی رااز اتخاذ تصامیم ظالمانه درمقابل لیتوانیا باز خواهد داشت.روس هادرطول ٥٠ سال اشغال لیتوانیا این کشور وسایر مستعمرات خویش رااز نگاه اقتصادی متکی بخود نگاه داشته أندطوریکه محصولات طبعی آنهارا بقیمت ارزان خریداری نموده ، وسعی داشته است تاکشورهای محکوم در تدارك مواد مصرفی چون مواد سوخت ماشین الات و گازطبعی‌متکی به مسکو باشد ودرصورتیکه مسکو ارسال انرا قطع نماید تمام کارخانجاتو وسایل ترانسپورتی در آن سرزمین فلج خواهدشد .ولیتوانیائی ها اکنون درك می کنند که‌ در صورت جدائی کامل از مسکو جوانب اقتصادی

د لتوانیا مبارزین وگړي د روسي استعمار له جخ څخه د خلاصون لپاره د یوې مظاهرې په حال کې

کشورشان چقدر اسیب بزیر اند ولی باانهم آنها حاضر اند دربدل استقلال شان به این قربانی عظیم تن در دهند.

بدیهی است که حل این مشکلات سالهارادربر خواهد گرفت حتی اگر فرضا" لیتوانیائی ها بدون عوض برکارخانجات وتأسیسات روسها قبضه نماید برای انها مشکل خواهدبود معضلات اقتصادی خویش را حل نماید. از جانب دیگر انکشافات اخیر وضع را از بد، بدتر ساخته است زیرا لیتوانیایی ها بیش ازاین حاضر نیستند باجوانب روسی درهیچ ارگان دولتی ورسمی کارنمایند وحتی بتأسی از همین نفرت عساکر لیتوانیائی که دراردوی سرخ مصروف وظیفه بودند قشله های خویش راترك گفته وبه یك شفاخانه صلیب سرخ بین المللی پناه بردندارتش سرخ با تو سل به قوه داخل شفاخانه شده وافراد مذکور رادوباره دستگیر نموده وقشون سرخ مرکز حزب کمو نست آنکشور را که در انتخابات بشکل شرمناکی بازنده شد نیز تحت تصرف خود درآوردند وبه این، ترتیب شاید گورباچف درنظر داشته باشد که بهرصورت، تشدید قیام آزادی خواهی حزب کمونست رادوبار مرجع واقعی قدرت در آنکشور اعلام نماید که بعدا" آن حزب مردودالحاق دوباره سرزمین لیتوانیارادر فدراسیون، شوروی عملی سازد. تعجب آور است در حالیکه حزب کمونست شوروی به انحصار ۷۲ ساله خویش بر قدرت خاتمه داد اکنون دیده میشود که انحصار قدرت حتی منحصر تر شده است زیرا قبلا" یگانه مرجع قانونی تصمیم گیری بیروی سیاسی ۱۲ نفری بود ولی اکنون فقط گورباچف میتواند هر چه بخواهد انجام دهد. بموجب اختیارات جدیدا" اعطاءشده به رئیس‌جمهور گورباچف میتواند پارلمان منتخب رامنحل، قانون اساسی راتعلیق وحکومت نظامی رااعلام دارد. بدیهی است که با موجودیت چنین صلاحیت های گورباچف هرگاه احساسات آزادی خواهانه ملت های محکوم روسیه که وقوع آن حتمی است، اوج بگیرد ویك بحران عمومی سر تاپائی آنکشور را فرابیگیرد برای گورباچف ... راه، باقی خواهد ماند یا اینکه فدراسیون شوروی را رسما" منحل اعلام خواهد کرد ویا هم درمقابل همه این مطالبات به استعمال قوه مبادرت خواهد ورزید که درصورت اخیر لقب "ستالین جدید" را کمائی خواهد کرد.

انکشافات اخیر نشان‌می دهد که گورباچف راهدومی را اختیار خواهد کرد زیرا از همین حالا مشاهده میشود که وی از یك سو سخت تشنه قدرت است و از، جانب دیگر با احساسات نو بنیاد آزادی خواهی بشدت مقابله می نماید ودرهررویداد ده هاتن از عناصر آزادی خواه بطوربیرحمانه بقتل می رسند.

نشانه دیگر اشتیاق گورباچف بـه یك قدرت همه جانبه از اولین مصا حبه وی بعداز انتخاب درك می گرددکه وی گفته بود . بعدازین حتی کوچکترین مسئله نباید بدون مشوره باریئس جمهور فیصله شود.

درانتخابات یك هفته قبل باوجود آنکه مردم شوروی احساس کردند تاغرض مقابله بابحران اقتصادی کشور یك اداره کننده ءباصلاحیتی داشته باشند ولی درعین انتخابات ۸۴٪ مردم خواستار یك رای گیری آزادانه نیز گردیدند ،وصرف ۴۰الی ۴۵ درصد مردم بانظریات گورباچف موافقت داشتند.

اُمید نمایندگان مردم شوروی باملاحظه های ایام نخستین گورباچف بعداز قدرت جدید نقش برآب شده وآنها دریافتندکه از عطای صلاحیت های جدید رئیس جمهور هر گز درجهت حل مشکلات اقتصادی ورفاهی ملت کار گرفته نخواهد شد بلکه فقط وسیلهٔبرای سرکوبی ملت های انکشور خواهدبود. وبقول میخایل بوکاروف یکی از اعضای برجسته پارلمان شوروی حدود ۵۹٪اعضای پارلمان اکنون حاضرأند به گورباچف رأی عدم اعتماد بدهند. تقریبا "همه مبصرین به این نظر أند که گورباچف درانتخابات جدید ۱۹۹۵ شکست خواهدخورد وحتی اگر در روش او تغیر رونما نگردد احتمال نارضایتی های شدید قبل از موعد مذکور نیز بعید نخواهد بود.

موږه امريکا يا بل چاته دا خوښی حکومت او

دلاهور معتبری اووه ورځنی (ثالث)د تیرمیلادی کال‌د اکتوبرد ۱۷-۲۳، نیتی په ګڼه کی له محترم حقانی صاحب سره د افغانستان د جهادپه سیلا بیلو اړخونومرکه کړی چی د منبع الجهاد مجله د هغی پښتو ترجمه درنو لوستونکو ته وړاندې کوي :

(اداره)

پوښتنه : دمجاهدینو مشرانوبه دا ویل چی د روسي پوځونو له وتلو وروسته به ډیرژر دنجیب رژیم نسکور کړی خو داسی ونه شول ، بیاد یخنی او واوری له امله داکار ځنډمن شودل کیده چی له هغی وروسته هم دادی تراوسه مجاهدینو دنجیب رژیم نسکور نشوای کړی تاسی پدی هکله څه نظر لرئ ؟

ځواب :

بسم الله الرحمن الرحیم

هو دا سمه خبره ده ، کله چی روسي پوځونه دمجاهدینو له لاسه له شرمیدلی ماتی سره مخامخ شول دکابل دمزدور رژیم وضعیت هم لدی شه نه ؤ، له همدی امله دمجاهدینو د مشرانو دا خیال ؤ چی دروسی لښکرو له وتلو وروسته به د کابل پوځ وسله پرمځکه کیږدی او دنجیب رژیم به نسکور شی خودا یوقیاس ؤ کومه یقینی دعوه نه وه ، لکه څنګه چی علم غیب یواځی الله تعالی لره دی او هغه جل جلاله پوهیږی چی څه به کیږی او کله به کیږی ، قیاس خود حالاتو دکتلو له امله کیږی او څرنګه چی حالات همیشه بد لیږی ځکه خولې نتائج هم تغیر کوی ، هغه وخت چی مجاهدینو دا خبره کوله هغه وخت دمجاهدینو مرسته کوونکو دمجاهدینو څه نا څه مرسته کوله خو دروسی پوځونو له وتلو او دجنرال محمد ضیاالحق له شهادت وروسته حالات ډیربدل شول زمونږ دوستانو هم زمونږ

اجازه نه ورکوو چې د خپلې نظريې خلک په افغانانو وتپي

هغه مرسته پريښو ده ، له همدې ځايه دمجاهدينو دمرستې په لړ کې پېرلړ والې رامنځ ته شو ، سيلاب ور روان شو داسې وسلې چې روسې پوځونو د خپل موجوديت په وخت کې هم نه وې مجاهدينو ګڼې پوځې څوکې فتحه کړې ، په لويو لارويې تسلط پيدا کړې له (۲۳۰)

زه غربې ولسونو ته وايم چې د مجاهدينو له حکومت څخه ونه ويرېږې او د مجاهدينو پرضد د روانو پروپاګندونو په دام کې ونه نښلې که خداې (ج) مکړه مجاهدين ناکام شې د روس له لاسه دغربې هيوادونو د تباهۍ مخه هيڅوك نشې نيولې . غربې نړۍ که له دغه تباهۍ څخه ځان ژغورې نو دروس د سازشونو د غوړول شويو دا مونو څخه دې ځان خلاص کړې او د مجاهدينو ملاتړ دې وکړې ، مجاهدين به دهيوادونو ددوستې ځواب په دوستې سره ورکوي .

دښارونو دنيولو لپاره چې د کومې وسلې ضرورت ؤ هغه له مجاهدينو سره نه وه .

ددې په مقابل کې نجيب ته د روسانو له خوا له پخوا زياتې پوځې مرستې ورکړل شوې ، د نويو او مدرنو جنګې وسلو استعمال کړې . لدې پرته د هندوستان پوځې مشاورين او پيلوټان هم د رژيم مرستې ته ورسيدل خولدې ټولو سره سره د مجاهدينو په پرمختګونو کې څه کموالې ندې راغلې او رژيم هيڅ ډول برياليتوب ندې ترلاسه کړې. ولسواليو څخه زياتې دمجاهدينو په لاس کې دې ، په تيرو څو مياشتوکې چې مجاهدينو څومره برياليتو بونه ترلاسه کړې دغرب د ډله ايز ارتباط له خوا دهغې نوم هم ندې اخيستل شوې يواځې په جلال آباد باندې دمجاهدينو

د تسلط نه پیدا کولو په اړه منفي تبلیغات کوی .

پوښتنه: دمجاهدینو ځنی مشران وایی چی امریکی په تیرو (٩) میاشتو کی مجاهدینو ته خپلی مرستی بندی کړیدی . خود اخباري خبرونو له مخی داسی ښکاری چی امریکی خپلی مرستی بیرته پیل کړیدی پدی رابطه تاسی څه نظر لری ؟

ځواب: زه یو قومندان یم ، دکوم حزب مشر نه یم . داچی امریکی کله مرستی پیل کړی او څه ډول مرسته کوي زه پدی اړه پوره معلومات نلرم ، دغرب خپلی گټی او اهداف دي . هغوی له مجاهدینو سره دخپلو مقاصدوله مخی مرسته کوی ، لدی پرته له مجاهدینو سره نوره خواخوږی نلری . مونږ وایو چی که دامریکی مرستی بندی وی که جاری وی په جهاد یی کومه خاصه اغیزه نه پریوځی ، مجاهدین په لوی خدای توکل لری او دهمدغه توکل اوړاړ له مخی خپل جهاد جاری ساتی .

خو یوه خبره زه تاسی ته په ډاگه کول غواړم او هغه داچی دمرستی دبندولو په لړکی نه یواځی امریکی خپله مرسته بنده کړیده بلکی گڼو اسلامی هیوادونو هم پخپلو مرستو کی کموالی راوستلی دی .

پوښتنه: دامریکا حکومت استازي له ظاهر شاه سره ولیدل ، د اطلاعاتو ترمخی د ظاهر شاه راتگ د افغانستان د ربړی دحل یوه مناسبه لار گڼلی شی ایاد افغانستان ولس به ظاهر شاه ومنی ؟

ځواب: دا دافغانستان دولس حق دی چی د افغانستان ربړه څه ډول حل کړی شی او څوک دی په دوی حکومت وکړی .

افغان ولس له یونیم ملیون نه د زیاتو وگړو قربانی ورکړی ، روس یی له هیواده ایستلو ته اړکړ ، له همدی ځایه ده چی دهیواد دمشر دټاکلو حق هم یواځی او یواځی دهمدغه قهرمان ولس حق دی . مونږ امریکی یا بل چاته دا اجازه نه ورکوو چی هغوی د خپلی خوښی حکومت او نظریی خلك په افغانانو وتپی .

فعلاً د مجاهدینو عبوری حکومت تشکیل شوی او د

ـ هندوستان دا ویره لری چی په افغانستان کی د مجاهدینو دحکومت د ټینگیدوله امله به افغانستان او پاکستان یوبل ته مخ او استرشی او پاکستان به د افغانستان په ډاړ او تکیه د هندوستان لپاره جدی گواښ را منځ ته کړی او همدا رنگه به د کشمیری آزادی غوښتونکو سره د خپل ملاتړ له مخی هغوی پخپل مقصد کی بریالی شی . او ظاهر شاه خود هندوستان دخوښی سړی دی .

راتلونکی له پاره هم بنیادی اصول ایښودل شویدی او پدی اړه د ظاهر شاه لپاره څه ځای ندی پاتی . روس او امریکه چی د ظاهر شاه د راتلو هڅه کوی دا څو علتونه لری :

۱ ـ روس ځکه دا هڅه کوی چی له ظاهر شاه سره پخوانی اړیکی او زړه دوستی لری او فکر کوی چی د ظاهر شاه له لاری به دیونیم ملیون شهیدانو قربانی هیری او پټی کړی او له روس سره به زړه دوستی بیرته تازه کړی او په سیمه کی به دهغوی د ګټو ساتنی ته تیار ووهی .

۲ ـ هندوستان دا ویره لری چی په افغانستان کی د مجاهدینو دحکومت د ټینګیدوله امله به افغانستان او پاکستان یوبل ته مخ او استرشی او پاکستان به د افغانستان په ړاړ او تکیه د هندوستان لپاره جدی ګواښ را منځ ته کړی او همدا رنګه به د کشمیری آزادی غوښتونکو سره د خپل ملاتړ له مخی هغوی پخپل مقصد کی بریالی شی . او ظاهر شاه خود هندوستان دخوښی سړی دی .

۳ ـ امریکا او غربی نړی په افغانستان کی د اسلامی حکومت له ټینګښت څخه ځکه په ویره کی ده چی دا حکومت به دټولو تراستعمار لاندی مظلومو او مستضعفو ولسونو لپاره د امید مرکز وګرځی او مسلمانان به د یو ځواکمن او پراخ قوت په توګه ددغه مرکز له لاری را منځ ته شی او د توراوسره ښکیلاك (استعمار) په وړاندی به دیوه پیا- وړی چلنج په توګه ودریږی . د غرب دا ګومان دی چی ظاهر شاه له اسلام سره څه علاقه نلری ځکه خو هغه په افغانستان کی دغرب غوښتنو ته د مثبت ځواب ویونکی سړی په توګه د دوی د ګټو او اهدافو خیال ساتلی شی .

د مجاهدینو هیڅ یو مشر به د (۱۵) لکو شهیدانو وینی هیری نکړی چی د کمونیزم او پانګوالی نظام د دکتورینو د ګټو په خاطر په افغانستان د سیکولر نظام جوړیدلو ته لاره پریږدی .

غرب مخکی مجاهدینو ته ویل چی تاسی یوګډ حکومت جوړ کړی هغه به یی سملاسی په رسمیت وپیژنی خوکله چی مجاهدینو عبوری حکومت جوړ کړ غرب نه یواځی داچی هغه یی په رسمیت ونه پیژنده بلکی دهغی پرخلاف یی سخت پروپاګند هم په لاروا چاوه .

ددغی پوښتنی په ځواب کی چی افغان ولس به ظاهر شاه ومنی که څنګه ؟ وایم چی دوې ډلګی دظاهر شاه پلوی کوی :

۱ ـ هغه لږکی (اقلیت) چی په جهاد کی یی برخه نده اخیستی بلکی داسلام آباد ، لاهور ، کراچی او ... په لوکسو بنګلو او یاهم په امریکی ، فرانسی او نورو اروپایی هیوادونوکی دعیش او عشرت ژوند تیروي .

۲ ـ دوهمه ډلګی دنجیب هم فکره طبقه ده، دوی هم خپلی ګټی له ظاهر شاه سره تړلی ګڼی ځکه دا مجرم خلك دی ، دملت

قاتلان او دافغانستان دبربادی عاملین دی . د دوی په گومان به ظاهر شاه د دوی په جرایمو پرده واچوی او په حکومت کی به برخه هم ورکړی. لدی پرته په افغانستان کی د ظاهر شاه پلوی بل څوك نه کوی ، ځکه همده روس ته دا لار پرانستله چی پر افغانستان تیری وکړی .

د مجاهدینو د حکومت پر خلاف سره متحد دی پدی کی ځینی تش په نوم اسلامی هیوادونه هم شته چی دوی ته به لاره صافه کړی . پدی رابطه دروس او هندوستان گډې سره شریکی دی خود حیرانی خبره دامریکا ده . دا سمه ده چی امریکا به پخپل گومان د ظاهر شاه له لاری د

ظاهر شاه ، روس تودو اوبوته له رسیدلو څخه نشی راگرځولی . زه غربی ولسونو ته وایم چی د مجاهدینو له حکومت څخه ونه ویریږی او د مجاهدینو پرضد د روانو پروپاگندونو په دام کی ونه نښلی که خدای (ج) مکړه مجاهدین ناکام شی د روس له لاسه دغربی هیوادونو

د مجاهدینو اتحاد د جهاد د دښمنانو حتمی مرگ دی

پوښتنه : داسی ښکاری چی امریکا ، روس ، هندوستان او ایران سره متفق شوی د پاکستان موجوده حکومت هم دی خبری ته مایل ښکاری چی ظاهر شاه رامنځ ته کړی پداسی نامساعدو حالاتو کی به مجاهدین څه ډول دهغه مخه ونیسی او خپل جهاد به جاری وساتی ؟

ځواب : پدی کی هیڅ شك نشته چی نړیوال کفر په افغانستان کی اسلامی حکومت د ټینگښت مخه ونیولی شی او کومه ویره چی غرب یی له اسلامی حکومت څخه لری هغه به کمه کړی خو ظاهر شاه به څنگه وکولای شی چی په یوه وخت کی دروس او امریکا دواړو گډې وساتلی شی .

امریکا یوی خوا ته وایي چی په افغانستان کی دروس د خوښی حکومت نه غواړی او له بلی خوا د ظاهر شاه ملاتړ کوی . زما په گومان د ظاهر شاه ملاتړ دروس ملاتړ دی چی دا به دامریکا ډیره لویه غلطی وی .

د تباهی مخه هیڅوك نشی نیولی . غربی نړی که له دغه تباهی څخه ځان ژغوری نو دروس د سازشونو د غوړول شویو دا مونو څخه دی ځان خلاص کړی او د مجاهدینو ملاتړ دی وکړی ، مجاهدین به دغربی هیوادونو ددوستی ځواب په دوستی سره ورکوی . د پاکستان لپاره هم د ظاهر شاه ملاتړ ډیر زیانمن ثابتیږی . ځکه د ظاهر شاه لپاره د روس او هندوستان مخالفت ناممکن دی او دا دواړه هیوادونه دپاکستان د بقا او

سالمیت ډیر سخت دښمنان دی همدا هند او روس سره یوځای شول په ۱۹۷۱ م کال کی یې پاکستان دوه ټوټې کړ . له همدی ځایه د ظاهر شاه حمایت به د پاکستان لپاره تبرته دلاستي اچولو په معنا وی .

ترکومه ځایه چې ددغی پوښتنی تعلق دی چې که مجاهدین تنها شی بیا به څه جهاد نه ؤپیل کړی ، بلکی یواځی او یواځی مود الله تعالی په تکیه او ډاډ جهاد ته ادامه ورکړه .

دیوه مسلمان په توگه زمونږ مکلفیت د الله تعالی په لارکی ډگر ته دوتلو مکلفیت دی د وسایلو برابرول او بریالیتوب د الله تعالی کار دی .

دظاهر شاه په اړه ښایی

اسلم بیگ یو تجویز وړاندی کړی چې نجیب دی له اقتداره گوښه کړی شی او د خلقیانو له اعتدال خوښو عناصرو سره دی مجاهدین د خبرو له لاری یو وسیع البنیاد حکومت جوړ کړی تاسی په دی هکله څه نظر لری ؟

ځواب : ښاغلی مرزا اسلم بیگ

پدی رابطه دروس او هندوستان گټی سره شریکی دی خود حیرانی خبره دامریکا ده . داسمه ده چې امریکا به پخپل گومان د ظاهر شاه له لاری د اسلامی حکومت د ټینگښت مخه ونیولی شی او کومه ویره چې غرب یې له اسلامی حکومت څخه لری هغه به کمه کړی خو ظاهر شاه به څنگه وکولای شی چې په یوه وخت کی دروس او امریکا دواړو گټی وساتلی شی .

رنگه جهاد ته ادامه ورکوی نوزه دا خبره کوم چې مونږ نه مخکی یواځی وو اونه اوس یواځی یو . مخکی هم الله تعالی زمونږ مرستندوی ؤ او اوس هم دی ، له چاسره چې الله تعالی ملگری وی هغه ته هیڅ ډول اندیښنه او ویره نه ده په کار .

زه یوځل بیا وایم چې مونږ دکومی دنیاوی تکیی په ډاډ وایم چې افغان مجاهد ولس به هیڅکله ظاهر شاه د واکمن په توگه ونه منی . هو ! که هغه په روسی یا امریکایی ټانکونو سپور راشی نو مجاهدین به یې دکمونستی رژیم په څیر پرضد جهاد جاری ساتی .

پوښتنه : دپاکستان لوی درستیز ښاغلی میرزا

داسلامی فکر خاوند او یو ښه پوځی جنرال دی ، زه د زړه له تله دهغه درناوی کوم خو دا تجویز دهغه خپل شخصی تجویز دی ، مجاهدینو ته د منلو وړندی ددغه تجویز دمنلو معنی به داوی چې له یونیم ملیون شهیدانو ، پنځوس لکو مهاجرو او د افغانستان له مجاهد ملت سره به موغداری کړی وی . دملت په

وړاندی یواځی ډاکتر نجیب مجرم ندی بلکی دخلق او پرچم د ټولو ټول غړی په دغه جرم کی ګډون لری .

پوښتنه : تاسی دعبوری حکومت د ټینګښت په لار کی خورا مهم رول ترسره کړی دی اوس د حزب اسلامی او جمعیت اسلامی د اختلافونو او جګړو له

پوری اړه لری هغه د لس کلن جهاد د ارمانونو پرضد یو خطرناك حرکت دی . یوی سیمه ایزی او ځایی جګړی ته دجماعتی او ګوندی جګړی رنګ ورکول د جهاد د نتایجو د سبوتاژ انډول ګڼل کیږی . په تخارکی د دوو ګروپونو ترمنځ جګړه کومه نوی خبره نده بلکی دادیوی زړی جګړی یوه کړی ده، ددی حل په مقامی توګه پکار

زه دا وایم چی که کوم مجاهد هم پدی تبلیغاتو کی څه رول لوبولی وی ده هم له جهاد سره دښمنی کړی ده . دجهاد دښمنان او داخلی منافقین نه غواړی چی مجاهدین متحد واوسی ، دا ځکه چی دمجاهدینو اتحاد د جهاد ددښمنانو حتمی مرګ دی . دښاغلی حکمتیار او ښاغلی ربانی یوپربل الزامونه اوله عبوری حکومت نه دایستلو او

زه استاد ربانی او انجنیر حکمتیار ته عرض کوم چی د جهاد په خاطر او دیونیم ملیون شهیدانو په خاطر نور خپل اختلافات ختم کړی

امله عبوری حکومت او دجهاد وضعه بیا له بحرانی حالت سره مخامخ ښکاری ددغه بحران دله منځه وړلو لپاره ستاسی مشوره څه ده؟

ځواب : دعبوری حکومت قیام زما کومه کارنامه نده بلکی دا دالله تعالی فضل او کرم او د مجاهدینو د کوښښونو او قربانیو نتیجه ده،ترکومه چی د حزب او جمیعت تر اختلافاتو

وو . انجنیر حکمتیار او استاد ربانی دواړه عالم او فاضل مشران دی دواړوته ښاییدله ددی په ځای چی د خپلو قوماندانانو په څنګ کی دریدلی وای ددریمګړي په موقف کی یی باید دغه ربړه حل او اواره کړی وای خو له بده بخته داسی ونشول ـ دغرب د ډله ایزا رتباط وسایلو او دجهاد دښمنانو دی ته ښه لمن ووهله ـ دکابل رژیم پلویانو او منافقینو هم دلته خو را زیات کار وکړ .

وتلو ګواښونه سم کارندی زه استاد ربانی او انجنیر حکمتیار ته عرض کوم چی دجهاد په خاطر او دیونیم ملیون شهیدانو په خاطر خپل اختلاف پای ته ورسوی او ددښمن دسازشونو له غوړیدلو دامونو څخه را ووځی او په مقامی او ځایي توګه دغه اختلاف او کشاله حل کړی . دوی ته ښایی سملاسی یو د بل پرضد تبلیغات بند کړی ځکه دا نه حزب ته تاوان رسولی شی او

نه جمعیت ته، بلکه په مجموع کی جهاد ته خورا زیات زیان رسوی .

پوښتنه : دحزب او جمیعت دجګړو ترمخه ځنی خلك دا وایی چی د افغانستان جنګ نظریاتی او عقیدتی جنګ ندی بلکی د اقتدار او خپلو مفاداتو

لرونکی ډلی په منځ کی هم اختلاف پیدا شوی دی خو دا واقعه ددوو مقامی قوماندانانو د اختلاف جګړه ده .

اختلاف د صحابه کرامو په زمانه کی هم وو، له همدی ځایه لدی ډول جنګونو څخه دا نتیجه اخیستل غلطه ده چی د افغانستان جنګ عقیدتی جنګ ندی

۱ - که نیغ په نیغه قوماندانانو ته وسله ورکړی شی نو مشهورو قوماندانانو ته به ورسیږی خو غیر مشهور قوماندانان چی هغوی هم په جهاد کی ډیر اغیزمن کردار ترسره کړی هغه به تری بی برخی پاتی شی .

۲ - دا وسله به د هغو

ترکومه ځایه چی ددغی پوښتنی تعلق دی چی که مجاهدین تنها شی بیا به څرنګه جهاد ته ادامه ورکوی نوزه دا خبره کوم چی مونږ نه مخکی یواځی وو اونه اوس یواځی یو . مخکی هم الله تعالی زمونږ مرستندوی ؤ او اوس هم دی ، له چاسره چی الله تعالی ملګری وی هغه ته هیڅ ډول اندیښنه او ویره نه ده په کار .
زه یوځل بیا وایم چی مونږ دکومی دنیاوی تکیی په لاړ جهاد نه ؤپیل کړی ، بلکی یواځی او یواځی مود الله تعالی په تکیه او لاړ جهاد ته ادامه ورکړه .

جنګ دی که دعقیدی جنګ وای نو حزب او جمیعت چی دواړه دیوی عقیدی او نظریی لرونکی دی څنګه پخپلو منځو کی په جګړو اخته کیږی ؟

ځواب : دا یو تاریخی حقیقت دی چی کله کله دیوی نظریی

پوښتنه : ویل کیږی چی امریکا غواړی نیغ په نیغه لویو قوماندانانو ته وسله ورکړی، پر جهاد ددی کار داغیزی په اړه څه نظر لری ؟

ځواب : په مجموعی توګه پر جهاد ددی شه اغیزه نه پریوځی ددی ځولوی نواقص دا کیدی شی:

قوماندانانو لاسونو ته هم ورسیږی چی له هغوی سره د مجاهدینو شمیر دنشت برابر دی دا ډول قوماندانان به دا وسله په جهاد کی د کارونی پرځای په بازار کی خرڅه کړی .

۳ - په هر ګوند کی به په قوماندانانو دتنظیم کنټرول کمزوری شی او د مجاهدینو په

منځ کی به بی نظمی را پیدا کړی . امریکه او نور مرستیال هیوادونه به لدغی لاری د خپلو اجنټانو په پیدا کولو کی کامیاب شی . ځکه خو زما غوښتنه داده چی هر هیواد له مجاهدینو سره څه مرسته کوی هغه دمجاهدینو د حکومت له لاری وکړی .

پوښتنه : ستاسی په نظر دا وخت مجاهدین له کومو مهمو مسایلو سره مخامخ دی ؟

ځواب : پدی لړکی دمجاهدینو د عبوری حکومت په رسمیت پیژندل ډیره مهمه مسله ده .

دغرب دا خبره چی د مجاهدینو په کنترول کی لوی ښارونه نشته هیڅ وزن او ارزښت نلری ځکه د نجیب رژیم له کنترول څخه خو (۹۰) فیصده خاوره وتلی او د مجاهدینو په واك کی ده .

بله دا چی کومو هیوادونو چی دفلسطین حکومت په رسمیت وپیژنده نو د هغه خو یو انچ خاوره هم په کنترول کی نه وه .

۲ ـ له مجاهدینو سره د مرستو د کمښت مسئله ده .

پوښتنه : که په پکتیا کی د جهاد په وضعه څه رڼا واچوی ډیره مهربانی به مووی .

ځواب : په پکتیا کی د ټولو مجاهدینو ګډه شورئ دهری جهادی چاری د اجراء منظوری ورکوی هلته د مجاهدینو یو مثالی اتحاد ټینګ دی اوس هلته په خوست او ګردیز کی دوې شوراګانی موجودې دي چی پخپلو محاذونو کی د جهادی چارو څارنه کوی ، په دواړو محاذونو کی ددښمن دفاعی کمربندونه ړول شوی، مجاهدین له غرونو څخه اواری ته راغلی او خپل سنګرونه یی ټینګ کړی دی . ګردیز تربشپړی محاصری لاندی دی زمونږ سنګرونه د ٤ ـ ٥ کیلومتره په واټن پراته دي اودښمن ټول ځمکنی ارتباط له منځه تللی دی .

په خوست کی مونږ ډیروسترو بریالیتوبونو ته رسیدلی یو نادر شاه کوټ ، الماره ، دومنده ، توره غاړه ، مشکانو ، مندوزی ، قلعه نایب ، سالار ، ملنګ غنډ ، درګی ، موسی خان پوسته ، سیګی پوسته ، سیدکی پوسته ، زیارت پوسته ، جانداد غنډ ، والیم پوسته ، شرین پوسته ، زوړدر ملك ، لوی درملك ، زرپایی پوسته ، پیر باد شاه پوسته ، شاروف پوسته ، او ګنی نوری پوستی او سیمی مجاهدینو فتحه کړی ـ پدی فتوحاتو کی مجاهدینو سپکی او درنی وسلی نقلیهوسیلی ، ټانکونه او مهمات په غنیمت نیولی ، لدی پرته یی غذایی مواد هم ولجه کړیدی .

پوښتنه : هندوستان اوس دنجیب له رژیم سره څه ډول مرسته کوی ؟

ځواب : زمونږ د اطلاعاتو له مخی هند د نجیب رژیم سره دوسلی ، د پوځی مشاورینو او پیلوټانو له اړخه مرسته کوی .

بسم الله الرحمن الرحيم

رب زدني علماً

سید محی الدین هاشمی

د ماشومانو د اسلامي ښوونې او روزنې په هکله ځينې خاصې لارښوونې

د ماشومانو د اسلامی ښوونی او روزنی او پالنی په هلکه ځینی خاصی پاملرنی

وایی چی د نړی پرمخ د ماشوم لومړنی مدرسه د مور غیږ، بیا کورنی محیط او ورپسی ټولنه ده. ماشوم له هغی شیبی څخه چی د نړی پر مخ سترگی پرانیځی د خپل ذهنی انکشاف او ادراك د قوی په اندازه هر شی د هغه پا ملرنه او توجه ځانته جلبوی. د وخت په تیرید و سره څومره چی د هغه خدای جل جلاله ورکړی ذهنی، روحی او فکری قوه وده، او جسم یی نموکوی په هماغه اندازه د اشیاؤ او چاپیریال (محیط) په باب ورسره پوښتنی او غوښتنی مطرح کیږی

که دا ومنو چی د ماشوم لومړنی مدرسه د مور غیږ ده، نومعلومه خبره ده چی په دغه مادی نړی کی د هغه لومړنی ښوونکی مور ـ پلار، ورپسی د کورنی غړی او بیا چاپیریال دی ـ دښوونی او روزنی په مسئله کی د محیط تاثیر هم ډیر زیات دی که محیط او ماحول سم او مناسب وی هلته نوبیا د ماشوم د ښی او سمی ښوونی او روزنی ارزو کیدلی شی، خو که محیط ناسم او فاسد وی په دغسی حالاتو او شرایطو کی دسمی او مناسبی ښوونی روزنی توقع لرل بی ځایه هیله ده.

ماشومان د هری ټولنی ډیره ارزښتناکه پانګه تشکیلوی او د اوسنی نسل دامید سترګی همدی سبانی نسل ته وی. مونږ چی اسلامی امت یو، باید چی دغه ارزښتناکه پانګه مو د اسلامی او شرعی اصولو مطابق په مناسبه توګه وروزل شی او پالنه ومومی، تر څو د اسلامی پوهی او بصیرت په رڼاکی هغوی د الله جل جلاله په وحدانیت، د



حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په رسالت او پیغمبری د زړه له کومی عقیدتمند وګرځی د حق او باطل ترمنځ توپیر وکړای شی، د حق پالوونکی او د هر ډول شرك، الحاد، فسق او فساد پر ضد مجاهده او مجادله خپله تګلاره وګرځوی.

د ماشومانو د ښوونی، روزنی اوپالنی په برخه کی د والدینو مسوولیت او رسالت ډیر دروند دی. د ماشومانو پاك زړونه او مغزونه د موم په شان د هر ډول نقش او انځور قابلیت لری که د هغوی استعدادونه او فکرونه هره خوا رهبری کړای شی پر همغه خوائی، اوس نو که چیری دا رهبری د یوه مسلمان ښوونکی، مدرس او پالوونکی په لاس وشی نتیجه او ثمره به یی هم حتماً د هغه خپله دنیاوی او آخروی سعادت او نیکمرغی وی او هم به د کورنی، ټولنی او حتی اسلامی امت او نړی لپاره ګټور ثابت شی.

خو که د هغه د ښوونی او پالنی موضوع ته خاصه پاملرنه ونه شی او په دی برخه کی له غفلت او بی پروایی څخه کار واخیستل شی، نو

معلومه خبره ده چې هغه به له حقې لارې څخه څخه بې خبره پاتې وي او د وخت په تيريدلو سره به هغه هم د خپل ځان او هم د خپلې کورنۍ، ټولنې او بالاخره د اسلامي امت او نړۍ لپاره د زياتې بدبختي، فساد او عذاب عامل وګرځي.

په پورته دوا ړوصور تونوکي مسووليت والدينو ع جسمي پالوونکو او معنوي رو زونکو ته متوجه دی. الله جل جلاله له په قرآن عظيم الشان کې فرمايي:

ترجمه: «اى هغو کسانو چې ايمان مورا وړي دی خپل ځان او د خپلې کورنۍ غړي د اورله عذاب څخه وژغورئ»

نو د دغه پورتني الهي ارشاد په رڼاکې مور او پلار بايد نه يوازې دا چې د خپلو ماشومانو د اور، اوبو او نورو خطراتو څخه ساتونکي اوسي، بايد چې هغوی د دوزخ د سوځوونکي اور له عذابه څخه هم وساتي.

والدين يوازې او يوازې خپلو اولادونو ته د ديني تعليم اوسمې اسلامي ښوونې، روزنې او پالنې له لارې کولای شي چې د هغوی د دواړو جهانونو نيکمرغي او خوشبختي بيمه او تضمين کړي.

مونږ به دلته پخپله ليکنه کې په لنډه توګه ځيني هغه لومړني مسايل وڅيړو چې والدينو اوپالونکو ته په اسلامي روحيه د ماشومانو د روزنې اوپالنې لپاره ګټور دي:

تر هر څه لومړی والدينو او پالونکو ته دا لازم دی او له لومړيو شيبو څخه بايدا هڅه وشي، هغه څوك چې ماشوم ته شيدی ورکوی (مور ـ دايی) بايد چې صالحه او متدينه ښځه وي او له حلال مال څخه تغذيه وکړي.

کله چې ماشوم په خبرو راځي په تدريجي توګه دی دا کوښښ وشي چې هغه ته دالله جل جلاله نوم او د اسلام د ستر پيغمبر حضرت محمد صلی الله عليه وسلم نوم همدارنګه «بسم الله الرحمن الرحيم» کلمه طيبه او دغسې د اسلام نور مفاهم او ارکان ورزده شي. له ښکنځلو، پوچو او بدو ناوړه الفاظو د استعمال او ورزده کولو څخه دې په بشپړه توګه مخنيوی وکړای شي د مخه تردې چې ماشوم د کورنۍ او کليوالې چاپيريال له چوکاټ څخه بيرون قدم ږدي او دزده کړې لپاره ښوونځې يامدرسې ته ورځي بايد چې په اسلامي روحيه پالل شوی وي او د زده کړې لپاره چمتو وي.

کله چې د ماشوم سن د دې تقاضا وکړي چې نور بايد د زده کړې لپاره په ښوونځي يا مدرسه کې شامل کړای شي، والدين مکلف دي چې هغه بايد د تعليم داسې مرجع ته ور ولي چې هلته ديني علوم لکه: د قرآنکريم زده کړه، تفسير





شریف ، نبوی احادیث ، فقه ، د اسلام تاریخ ، دژبې لیك لوست او نور عصری ، سیاسی ، ساینسی او اجتماعی مضامین د متدینو صالحو او پوهو ښوونکو له خوا تدریس کیږی . والدین باید دا هڅه وکړی چې زده کړی ته د خپلو ماشومانو د ښه تشویق او ترغیب په خاطر له بیلو بیلو روښونو او طریقو څخه کار واخلی . په دې برخه کې ماشوم ته دهغه د علاقی وړهدیو تهیه کول د نورو ترمخه د هغه د نیکو اخلاقو ، پوهې ، هوښیاری او ځیرکې ستاینه ډیر ګټور ثابتیدای شی .

کله که له ماشوم څخه دهغه د ناپوهې له امله کوم بد او ناوړه عمل صادریږی کوښښ دی وشی چې هغه په نرمه لهجه او اسلامی روش سره په مستقیمه یا غیر مستقیمه توګه خپلی سهوی ته متوجه کړای شی کیدای شی چې د توصیی اوپام اړونی له لاری هغه خپلی سهوی او غلطۍ اصلاح کړی او بیایی مرتکب نه شی . د نورو مخکی د ماشوم د تحقیر ، سپکاوی ، رټنی او وهلو ټکولو روش د بدو اعمالو د ارتکاب په لومړی ځل مناسب نه دی او کومه ګټوره نتیجه تری لاس ته نه راځی .

پر والدینو او پالوونکو لازم دی چې د خپل ماشوم د اعمالو او افعالو کلکه څارنه او مراقبت وکړی . او هغه باید په داسی روحیه وروزی چې هرکار د خپلو والدینو او پالوونکو په اجازه او مشوره سرته ورسوی .

د والدینو او روزونکو له مکلفیت څخه یو دا هم دی چې ماشومانو ته د خوړلو ، څښلو ، په لاره تللو ، په مجلس کی د کښیناستلو او له همرزولو ، مشرانو او کشرانو سره د برخورد اسلامی آداب وروښیی .

که چیری ولیدل شی چی ماشوم د پیسو او مادیاتوته زیات لیوال دی ، نو باید چی د توصیی له لاری هغه په دی وپوهول شی چی د دنیا له مال سره زیاته مینه ناوړه عمل دی او انسان د خدای جل جلاله له یاد او نورو نیکو دنیوی کارونو څخه غافله کوی . ماشوم باید چی د روزونکو له خوا په ډیره‌ساده ژبه د حلال ، رښتیا ، صداقت ، امانت دارۍ ، لوړ همت ، نیك اخلاقی جرائت په ګټو او مزایاؤ و پوهول شی او په مقابل کی ورته د حرام ، درواغ ، خیانت پس فطرتی ، بداخلاقۍ ضroونه او له هغو څخه را پیدا کیدونکی مصیبتونه او عذابونه تشریح شی . همدارنګه په دی و پوهول شی چی تکبر ، خود خواهی او غرور انسان څنګه په دواړو جهانونو کی خوار او ذلیلوی او د هغی په مقابل کی ورته حلم تواضع او کمینی څومره ګټه لری او د څه ډول دنیوی او آخروی نیکمرغیو باعث ګرځی . د وی باید پخپل مال او حق قناعت ، پر ځان د باور او صبر په لوړه روحیه وروزل شی اوپر نورو د ظلم تیری ، بل ته د ګدایی لاس نیولو څخه دی په کلکه منع

پاتې په (۲۵) مخ کې

سرطان سرخ

نویسنده : شهید دکتور عبدالله عزام
ترجمه:آیت الرحمن

تمهید :

اعوذ بالله من الشیطان الرجیم

.بسم الله الرحمن الرحیم

فلما ألقوا قال موسى ما جئتم به السحرأن الله سيبطله ان الله لايصلح عمل المفسدين ويحق الله الحق بكلماته ولوكره المجرمون » (یونس ۸۱ - ۸۲)

(پس) چون افگندند (ساحران چوب و ریسمانهای خود را بزمین افگندند) گفت موسی (علیه السلام) آنچه اورده اید آنرا سحر است . هر آئینه خدا زود باطل گرداند آنرا . هر آئینه خدا بصلاح نیارد کار تباهکاران را و ثابت خواهد کرد خدا حق را به احکام خود و اگرچه ناخوش دارند گناهکاران .

قانون الهی قانونیست که باهر قانون دیگری که رویارویی کند آن دیگر قانون را نابود کرده برآن چیره خواهد شد .

آن قانون ، خدایی است که هر باطلی را پایان می بخشد و هر کجی وانحراف را نابود می کند . خداوند به مشیت خود حکم فرموده است تا هر گمراهی نابود شود و هر خباثتی ریشه کن گردد . فطرت بشری طوری آفریده شده است که جز با مبادی خدایی باقانون دیگری همآهنگی پیدا نکند و بنیه انسانی طوری افریده شده است که تنها با ارزشهای متعالی اخلاقی سازگاری دارد از همینرو همه نظامهای بشری در تحقق سعادت انسان ناکام شده و همه تلاشها در جهت نجات انسان از بدبختی اش از غیر راه های که خداوند (جل جلاله) فرموده بدور از شریعت او به ناکامی انجامیده است .

اروپایی از ستم کلیسا فرار کرد و به خدای کلیسا کافر گشت گمان کرد که او سعادت را در نظام فردی مطلق در کپیتالیزم و دیموکراسی خواهد یافت اما بدبختی ، نومیدی و اضطرابش بیشتر شد بناء بسوی نظام اجتماعی مطلق یعنی سوسیالیزم رفت ومیان چنگالهای حیوان درنده خویی گیرافتاد که از نظام سابق هم درنده تر وظالمتر بود . تمدن غربی با دوبخش کپیتالیزم غربی منفعت جو و کمونیزم الحادی شرقی خود به

سقوط مواجه شده است . بشریت تحت ستم و سرگردان به تندی به سوی جان لاك . استوارات میل ، ولتروژان ژاك روسو روآورد و گمان برد كه در فریاد های آنها راه نجات وجود دارد اما هیهات ... اینها نه به نیكبختی رسیدند و نه آرامش یافتند .

سپس بشریت عقب ماركس ، لینین ، تروتسكی و ستالین روان شد اما رنج و دردش دوچندان شد خوابش تعبیر نیافت و به همپاشیدگی روانی د چار شد همه نظامها فرو افتاد و همه برنامه هاناكام از آب درآمد و همه تجارب ناكام شد و تنها نظام الهی باقی ماند كه می تواند انسان را باهستی اش اسكلتش و باجسد ، روح ، اعصاب ، احساسات ، عقل و قلبش مورد خطاب قرار دهد .

وراست فرموده است خداوند كه :«ألا يعلم من خلق وهو اللطيف الخبير »(سوره الملك ـ ١٤) ایا نداند (انچه در دلهاست) آنكس كه بیا فرید (مخلوق را) واوست داننده اسرار خبردار .

از همین رو حضرت رب العزت مسلمین را از گرفتن احكام جز از خود و فرستاده اش محمد صلی الله علیه وسلم برحذر داشته و از سوال نمودن از كافران و اهل كتاب منع نموده است و تربیت نسل مبارك صحابه را تنها برچشمه سارصاف و پاكیزه كتاب و سنت منحصر داشته است .

رب العزت فرموده است :

« يا ايها الذين آمنوا إن تطيعوا فريقا من الذين اوتوا الكتاب يردوكم بعد ايمانكم كافرين وكيف تكفرون وأنتم تتلى عليكم آيات الله وفيكم رسوله ومن يعتصم بالله فقد هدى الى صراط مستقيم ، ياايها الذين آمنوا اتقواالله حق تقاته ولاتموتن الا وأنتم مسلمون واعتصموابحبل الله جميعا ولاتفرقوا واذكروا نعمة الله عليكم اذكنتم اعداء فألف بين قلوبكم فأصبحتم بنعمة اخوانا وكنتم على شفا حفره من النارفأ نقذكم منها كذلك يبين الله لكم آياته لعلكم تهتدون ، ولتكن منكم امة يدعون الى الخير و يأمرون بالمعروف وينهون عن المنكر واولئك هم المفلحون»(آل عمران ـ ١٠٠ ـ ١٠٤)

ای مومنان! اگر فرمان برید گروهی را از اهل كتاب بازمی گردانند شما را پس از ایمان تان كافران وچگونه كافر میشوید حال آنكه شمائید كه خوانده میشود برشما آیتهای خدا و درمیان شماست پیغمبر خدا و هر كه چنگ افگند به (دین) خدا پس به تحقیق رهنمود شد بسوی راه راست .

ای مومنان! بترسید از خدا حق ترسیدن از وی و ممیرید مگر مسلمان . و چنگ افگنید به دین خدا همه شما و پراگنده مشوید . و یاد آرید نعمت خدا را كه برشماست وقتیكه بودید دشمنان ، پس الفت افگند میان دلهای شما (پس) گشتید به نعمت خدا برادر . و بودید بركناره مغاكی از آتش پس نجات داد شما را از آن . همچنین بیان میكند خدا بشما آیات خویش را تا راه یابید . و باید كه باشد از شما جماعتی كه بخوانند بسوی كار نیكو و



د سره سرطان (کمونیزم) د اور په لمبو کې

بفرمایند به کار پسندیده و با زدارند از ناپسند و آن گروه ایشانند رستگاران .

ایات مبارکه فوق راه نجات در دنیا و آخرت را رسم نموده و بهترین عنوانی است برای کسیکه می خواهد راجع به افکار یکه در روی گستره خاکی چیره شد و آنرا زهم پاشیدو بشریت بوسیله آن با بدبختی ، سردرگمی ، رنج و از همپاشیدگی زیادی دست و گریبان شد و به خاك ذلت افتاد و ارزشهای متعالی اخلاقی را از دست داد . آیات مبارك فو ق برای امت اسلامی بیان میدارد که آنها به اساس قدر خداوند بایست نقش تعیین شده خود را ایفا کنند که آن ، نقش رهبری بشریت وگرفتن زمام آنها بسوی افقهای بلند وقله های شامخ است همچو ملت که پیشگام و پیشآهنگ دیگران است باید هادی ای داشته باشد که آن هادی عبارت است از پیامبر صلی الله علیه وسلم . و بایست رهنما و نقشه ای داشته باشد که ان رهنما و نقشه کتاب خدا و سنت پیامبر صلی الله علیه وسلم است و در این دو چیز عصمت و نجات نهفته است و این دو روشهای است که جلو تاریکی ها را می گیرد و در صورتیکه کار ها د رهم و برهم گردد و سرگردانی و حیرت برقلبها چیره شود دران لحظات کتاب سنت به مثابه یك روشنی بارز،گم کرده راهان را رهنمایی می کند برامت پیشآهنگ و رهبر نمی سزد که از نقش رهبری ورهایی بخش اش کنار رود ونباید کتاب خدا و رهنمایی های پیامبر سترگ خود محمد صلی الله علیه وسلم را ترك کند و به عقب کاروانی برود که آن کاروان در زباله دان پلیدی های بشری پرسه می زند و از پلیدی ها و آلودگی های فراهم شده آن ، برنامه زندگی ، قانون اخلاق و رهنمای اندیشه و نظام خود را می گیرد و آن را در خون و دارایی و آبرویش اختیار میدهد که سرانجام به سرگردانی و نابودیش می آنجامد .

یا آیها الذین آمنوا إن تطیعوا الذین کفروا یردوکم علی اعقابکم فتنقلبوا خاسرین . بل الله مولاکم وهوخیر الناصرین . (آل عمران ١٤٩ ـ ١٥٠)

ای مؤمنان ! اگر فرمان برید کافران را باز میگردانند شمارا برپاشنه های شما (پس) باز

میگردید زیان کاران . بلکه خدا یاری دهنده شماست و او بهترین یاری دهندگان است .

طاعت اهل کتاب و کفار برعلاوه ایکه در مرکز رهبری در زمین خلل ایجاد میکند ازیك شکست درونی و خلای روحی و فراغ سهمگین هم حکایت دارد که برخی از آنانیکه القاب وعناوین مسلمانان را حل میکنند باآنمواجه اند .

امام بخاری در صحیحش در کتاب «شهادات» از ابن عباس رضی الله عنهما روایت می کند که گفت : یا معشر المسلمین کیف تسألون أهل الکتاب وکتابکم الذی انزل علی نبیه صلی الله علیه وسلم أحدث الاخبار بالله تقرأ ونه لم یشب وقد حدثکم الله أن أهل الکتاب بدلوا ماکتب الله وغیروا بأیدیهم الکتاب ، فقالوا : هومن عند الله لیشتروا به ثمنا قلیلا ، أفلاینهاکم ما جاءکم العلم عن مساءلتهم ؟ ولا والله ما راء ینامنهم رجلا قط یسألکم عن الذی انزل علیکم»

ای گروه مسلمانان ! چگونه اهل کتاب را می پرسید در حالیکه کتاب شما که خداوند بر پیامبرش فرو فرستاده است نزدیکترین وصادق ترین خبر هاست به خدا ، می خوانید آن کتاب را در حالیکه خلط کرده نشده است (کلام دیگر و تحریف و تبدیلی دران راه نیافته است) و به تحقیق گفته است شما را خدا که یهود و نصارا تبدیل کرده اند چیزی را که نوشته است خدا از احکام و فرستادن رسول الله صلی الله علیه وسلم و تغییرداده اند بدست های خود کتاب خدا را پس گفتند آنها ، آن از نزد خدا است تا دست یابند بوسیله آن بهای اندکی را . آیا باز نمیدارد شما را از پرسیدن ایشان چیزیکه آمده است از علم دین و به خدا سوگند ماهر گزندیده ایم از ایشان مردی را که بپرسد شما را از آنچه فرستاده شده است به شما . و به همین معنی امام احمد از عبدالله بن ثابت روایت می کند که : عمر بن خطاب رضی الله عنه به نزد رسول الله صلی الله علیه وسلم آمد و گفت : ای فرستاده خدا ! (صلی الله علیه وسلم) من به نزد برادری که در بنی قریظه داشتم رفتم واو برای من عبارات مختصر و پرمعنی ای را از تورات نوشت آیا آن عبارات را به تو عرض نکنم .

در این حال چهره پیامبر اکرم صلی الله علیه وسلم د گرگون شد . و عبدالله بن ثابت رضی الله عنه خطاب به عمر بن خطاب رضی الله عنه گفت : آیا اثر گرفتگی بر چهره مبارك پیامبر صلی الله علیه وسلم را نمی نگری . پس عمر (بادیدن این وضعیت) فرمود :

رضینا بالله ربا وبالاسلام دینا وبمحمد صلی الله علیه وسلم رسولا .

را وی میگوید : بعد از این چهره پیامبر به همان صورت اولی برگشته و فرمود :

والذی نفس محمد بیده لواصبح فیکم موسی



اتبعتموه ، لضللتم إنكم حظى من الامم وأناحظكم من النبين . (مسند امام احمد ج۳ / ص٤٧١ و ج٤ / ص٢٦٦)

سوگند به ذاتی که جان محمد دردست او ست اگر موسی درمیان شما ظهور کند سپس او را پیروی کنید در این صورت گمراه شده اید ، شما نصیب من هستید از میان امت ومن نصیب شما هستم از پیامبران .

وحالا در موضوع مورد بحث مان که مارکسیزم است شروع می نمایم :

فصل اول:

جوپیدایش مارکسیزم:

مردم عادتا واژه کمونیزم را برمکتب مارکس در حالت تطبیقی آن اطلاق می کنند ، زیرا مارکس گمان می برد که فلسفه او به اباحت هر چیزی واشتراك در هر چیزی می آنجامد اما طرفداران مکتب های فکری فلسفه او را ما تریالیزم تاریخی یا ماتریالیزم دیالکتیك می نامند که برجدل دوجانبه استوار است .

این افکار چگونه به وجود امد ؟

عقل اروپایی در قرن نزدهم میلادی هر آنچه را با دین و یا اندیشه ایمان به غیب دشمنی داشت می پذیرفت ، از هیمنرو نبرد بی پایانی را برای درهم کوبیدن قیود گران کلیسا آغاز کرد .

عقل اروپایی دشمنی خدایان باانسان را به میراث برد . چه دراساطیر یونانی یاد آوری شده است که «بروميتوس» خدای صنعت وعلم زمانیکه به انسان علم بخشید ، «زیوس» یا «ژوپیتر» خدای بزرگ بر او خشم گرفت و او را از نزد خدایان طرد و او را در یکی از کوه ها محکم بست که پرندگان روزانه گوشت و جگرش را می درند که آن گوشت و جگر در شب به او مسترد میشود تا روز دیگر با همان مصیبت قبلی دچار باشد.

اسطوره یاد شده محرك عقل اروپایی شد و محوری گردید که داستان ها ، نمایشنامه ها و تمثیل های اروپایی پیرامون آن دور می خورد . و این نوشته ها به نوبه خود در پهلوی انسان مظلوم اروپایی در مبارزه اش بر ضد خدایان جبار و ستمگر دروغین قرار گرفت .

کلیسا در قرون وسطی آمد تا «نبرد علم را با دین» برای همه تبلیغ کند از همینرو دست به تأسیس محاکم تفتیش عقاید دانشنمدان و اندیشمندان زد و کتابی نگاشت که سراپا خرافات بود واسمش را «جغرافیه نصرانیت» گذاشت و هرکس که باکلیسا از در مخالفت پیش آمد ، او را کافر خواند واو را شکنجه کرد و سیصد هزار نفر را به قتل رساند و ۳۲ هزار را زنده سوزاند که از جمله آنها یکی هم «برونو» بود که در سال ۱۵۹۸م به جرم اینکه گفته بود : زمین حرکت می کند او را سوزاند و کوپرنیك وگا ليله را هم که همچو نظری داشتند مورد شکنجه قرارداد .

مارکس در مانیفست حزب کمونست که آنرا در سال ۱۸٤۱م نگاشته گفته است :

فلسفه شما «برومیتوس» را که گفته است : «من دشمن همه خدایان هستم» پذیرفته و آنرا برهمه خدایان زمین و آسمان که از درك بشری انکار دارند تعمیم داده است . فلسفه اینك خدای به تر شده است و هیچ رقیبی رانمی پذیرد .

عقلیت اروپایی در تلاش جانشینی برای کلیسا بود که او را ترك کرده و از آن فرار نموده بود ، تا خلای بزرگی را که در زندگی اش رونما شده پرسازد ، پس چه کرد ؟ عقل ، خدای دیگری را عوض خدای کلیسا از طرف مکتب ایدیالیزم با دو جانب آن طرح کرد :

الف:جانب اول که باوجود دگرگونی در جهانبینی به خدا باور دارد که این جناح را هگل رهبری می کند ، هگل به وجود خدا ایمان دارد اما گمان می برد که آن خدا «عقل بزرگ» یا «عقل مطلق» است . او میگوید : ادیان گوناگون مبین مراتب گوناگون نموی فکر بشری است و پوست مارهای است که انسان از خود به دور انداخته است .

ب ـ جانب الحادی آن که از وجود خدا یکسره منکر است که زعیم آن «فیخته» است . سپس عقلیت اروپایی از راه مکتب او گوست کنت (مکتب فلسفی اثباتی یا پوزی تویستم) طبیعت را خدا معرفی کرد . یعنی باور جز به محسوسات به چیز دیگر نمی سزد . «کنت» نظر داشت که فکر بشر سه مرحله را سپری کرده است :

۱ ـ مرحله لاهوتی ، که تفسیر رویداد هارا به خدا رجعت میدهد .

۲ ـ مرحله متافزیکی ، که تفسیر رویداد ها را به نیروهای ما ورأی طبیعی نسبت میدهد بدون اینکه از خدا ذکری کند .

۳ ـ مرحله وضعی که رویداد ها به قوانین طبیعی وحسی تفسیر می گرددو جز به محسوس به چیز دیگری باور ندارد .

فکر اروپایی باگفتار کنت بادرك این مسأله که طبیعت حقیقتی از حقایق هستی است نه تفسیر آن موافقت کرد .

سیسل امریکایی گفته است : طبیعت چیزی را

از هستی تفسیر نمی کند ، بلکه خودش به تفسیر نیاز دارد .

وفویر باخ (شاگرد کنت) به جاگزین شدن انسان در مقام خدا ندا در داد و مطالبه کرد تا انسانیت معبود اکبر ! قرار گیرد .

فویر باخ گفته است : خدا اندیشه اولی من ، سپس عقل اندیشه دومین من و سپس انسان به واقعیتش اندیشه سومین و آخرین من است .

نیچه در کتابش «این چنین گفت زر دشت» در دو رانیکه در دیوانگی هایش دست و پا می زد ! مرگ خدا را اعلان داشت و از تولد انسان قدرت مند حرف زد !

اما این همه حرفها فریاد های آن انسانهای بیمناك از کلیسا و فراریان کلیساست ، فریادهای آنانیکه از شبح کلیسا ترسیده اندو گمان می برند که آن شبح او شان را دنبال نموده خوابرا از دیدگانشان می رباید و راحت شان را برباد میدهد وهستی شان را تهدید میکند .

از همینرو الحاد در اروپا طبیعی نبود بلکه ردی بود برموقف کلیسا و اشتبهاهات و تصرفات ناهنجار آن در برابر انسان در اروپا و موقف تأسف آورو در ناکش در برابر دانشمندان و تجارب بشری و انسانی .

در همچو فضایی مارکس نشونما کرد و از همچو افکاری تاثیر پذیر شد از وجود «الله» منکر شد و بشریت را درلانه اقتصاد محبوس کرد و گفت که تاریخ جهان درحقیقت تاریخ جستجوی طعام است و به این وسیله آنچه از هستی انسانی باقی مانده بود او آنرا نیز درهم کوبید .

استاد محمد بهی عقیده دارد که : کشمکش دین و عقل وحس در اروپا چهار مرحله را به ترتیب ذیل پشت سرگذاشته است :

١ ـ حاکمیت «نص» یعنی مذهب کاتولیکی که پولس وقسطنطین ممثل آن اند .

٢ ـ حاکمیت عقل (مکتب ایدیالیزم) که هیگل و نیچه از رهبرآن آن بودند .

٣ ـ حاکمیت حس (مکتب فلسفی اثباتی یا پوزی تویسم) که رهبرآن «کنت» بود .

٤ ـ مکتب ما تریالیزم د یالکتيك که فیلسوفان آن مارکس و انگلس بودند .

جوی که مارکسیزم در آن بوجود آمد مشحون از عداوت بامسایل غیبی و دارای رنگ کراهت با دین بود هرگاه نام خدا به زبان رانده می شد در اذهانشان یکتعداد چیره های خشمگین و عبوس جبین های گرفته و چشمانیکه از آن بدی می با ردوسینه های تنگ و پر حسد و عقول سخیف «روحانیان احمق مسیحی» نقش می بست !

استاد محمد بهی میگوید : ازینجا واضح میشود که کشمکش علم بادین درحقیقت کشمکش فکر انسانی با مسیحت کلیسا بود و انگیزه های این کشمکش همان شرایطی بود که کلیسا در زندگی

بقیه درصفحه (٥١)

ژباړن: سید عبدالله

په آذربائیجان کی

دیوه امریکایی ژورنالست دسترګولیدلی حال

ددوشنبې په ښار کی (٤٨) ساعتونه څنګه تیرشول

داسلام عظمت یوځل بیا دروس په مرکزی مسلمانو ریاستونوکی راژوندی شوی . اوس منتظراوسئی چې روس، امریکا او نوونړی څنګه له دی ځانو نه خوندی ساتی .

زه دیوی بلی ژورنالستی ایلکزیندراایواکیان سره یو ځای د ١٩٩٠ م کال دفروری یه ١٢ نیټه د دوشنبې په ورځ له مسکو نه دوشنبې ښار ته ورسیدم کله چې مونږ دواړه له هوایی ډګر نه ووتو دکم واټن له امله ډیر ژر دتاجکستان میلمستون ته ورسیدو .په هوایی ډګر کی دخلکو دګڼې ګونې نه داسی معلومیده چې اوضاع ارامه اوعادی ده . خوکله چې مونږ له دغه ځایه ووتو ،ویجاړ شووسړکونو ویرمن سکوت دڅه غمی ییښی غمازی کوله او داسی څرګندیده چې ددغه ځای فضاء دڅه بلی پیښی انتظارهم لری . تاجك ډریور چې زمونږ دسپرلی موټر ئی چلاوه مخکی له دی چې مونږ ترینه پوښتنه،

وکړو پخپله دخبرو لړی پیل کړه وئی ویل :
(ایاتاسو ته دهغی غمی مظاهری علم شته په کومه کی چې ګڼ شمیر خلك وژل شوی دي ؟))
مونږهیڅ نه ویل .تاجك ډریور دخپلو خبروپه دوام کي وویل چې: مونږ له تاجکستان نه ددوښیم ز رو ارمنیانو وتل غواړواوپه (٤٨) ساعتو نو کی د ننه دننه مو هغوی ته له دی ځایه د وتلو اخطار ورکړي دی.»
ماپوښتنه وکړه :
«کوم ارمنیان ،او هغه هم د(٤٨) ساعتو نوپه دومره کم وخت کي .آخرولی او څنګه ؟!»
جواب ئی راکړ:
(دغه خو زمونږ دنوروغوښتنو نه یواځی یوه غوښتنه ده، ارمنیان په اصل کي ددی ځای اوسېدونکی نه دی بلکی له نوروسیمونه راوستل شویدی .زمونږدیوی ډیری پخوانی غوښتنی پهځوابکي چې کومی ودانی او استو ګنځی جوړکړای شوی‌وپه هغی کي نه

يواځې داچې دغه دوهنيم زره راوستل شوی کسان ځای په ځای کړای شول بلکې دغه کورونه يې د دوی په نامه کړل .څومره ظلم دی ،څومره بې انصافي ده سيمه زمونږ ،خاوره زمونږ،پيسی زمونږاو ددی سيمې اصلی وارثان او اوسيدونکی هم مونږنو بيا په څه دغو دبهر نه راوستل شويو خلکو ته پر مونږ باندی فوقيت ورکول کيږی .آخر داولی او په څه ؟ داڅومره نابرابری او ظلم دی.د کمونست ګوند سپی د ژوند ژواك هيڅ موقع مونږ ته نه راکوی او په هر ځای کی مونږ استثماريږو .دلس دولسو کالو نه مونږ ددغو کورونو په تمه ووخوپرته له کوم استحقاق نه دوی ته ورکړای شول .په همدی اساس کورجوړولو دمرکز ی اداری په ودانی باندی هم ايری ايری شوی وې .دپاکولو عملی لاربندکړی وه او عسکرپه پهره ولاړوو.

(مهربانی وکړی نن ماښام او شپه چيرته مه ځی) دميلمستون تاجك منيجرديوډايکمين په ډيره خوږه لهجه مونږ ته وويل .خودجملوله انداز نه ئې معلوميده چی که تاسو دداسی څه اقدام هڅه وکړمنوبيابه په زور راوګرځول شئی).

مونږ دهوټل دپورته منزل دکړکيونه دکتلواراد موکړه.له کړکيو نه ترلری لری پوری هرڅه په اسانه ليدل‌کيدل دسرکونوپه غاړه دولاړوبرقی ستنو په تته رڼاکی — دسوزول شويو مغازو ،تالا والا بازارونو اوپه سرکونو باندی دماتو ګوډو څيزونو انبارونه نظرته راتلل .په دی بهير کی دوړوکړکيو نه تالاشويو سامانونو اوماتو

د شپې په لسو بجو يو ځل بيا اتومات ډزی پيل شوی او بې شميره ګولۍ چليدلې داسی ښکاريده لکه چه مونږ ته ډيره نژدې سخته مرګ ژوبله روانه ده زمونږ له سترګو خوب والوت او ټوله فضا ويرې او غم پخپله غيږ کی نغښتی وه.

تاجکانو بريد وکړاو لوټی ئی کړه. تاسوته به داهم معلومه نه وی چی په موجوده وخت کې په ټول ملك کی اضطراری حالات نافذ دی او کله نا کله خبره د نظامی مقرراتو تنفيذ ته هم رسيږی) برسيره پردی هغه نورڅه ويل هم غوښتل خو کوم هوټل چی زمونږ داستوګنی لپاره ټاکل شو ی ؤ هغه ته راورسيدو .دغلته په پهره باندیوسله وال محافظين‌ولاړو و.مونږ له موټره کښته شو او دريور سملاسی‌د موټر مخ وګرځاوه اوبيرته ولاړ.

زمونږله استوګنی نه لږاخوا ديوه روسی خبری اژانس په دفتر اورپوری شوی و،چی لمبی ئی له دی ځايه هم ښکارېکيدی او ددیبه خواکې دلينين پراسپيکت مرکزی بازار چی ددوشنبې ښار د ملاتير ګڼل کيږی شوو دروازو دحال په ژبه خپل تير غمجن داستان ، او کيفيت بيانوه .دسوزول‌شويوګړندی او سرويس موټرو- نو ډيری هم تر سترګو کيدلی . ايلکزيند راپه ډيره چټکۍ سره ګڼ تصويرونه واخيستل .ايلکزيندرا لا دتصويرونو په کښلو لګيا وه،چی يوه تاجك‌زلمی دشاله خوا راکش کړه اوله عکس ايستلو نه ئی منع کړه خدای خبر دغه زلمی له کومه ځايه دسترګوپه رپکی دلته راحاضر شو. تاجك زلمی مونږ ته وويل :

(لمدی ځايه ولاړشئ ،تاسوخبرنه ئی چی دعکسونو ايستل منع دی؟)

څوك وايي چی منع دی مو نږ امريکايي ژورنالستان يو .

زماد ځواب په اوريدو سره د تاجك زلمی په

لهجه کې دپخوا په نسبت تریخوالی پیداشو.ویـــل
زه وایم چې منع دی او فوری ئی له جیبه شپیلاك
راویوست .زمږوه شوم چې نوموړی ځوان دشپیلاك په
وهلو سره خپل نورملګری راجمع او کیدی شی هغوی
په وسلو هم سنبال وی .داوضاع دنزاکت په پام کې
نیولو سره ماله هغه نه بخښنه وغوښته او پهدوستانــه
اندازکی می دروغږ لاس ورکړاو ایلکزیندرامی همدی
کارته وهڅوله خو نه پو هیږم ولی هغه ایلکزیندراته
له لاس ورکولو نه ځان وژغوره او یواځې دسرپــه
خوځولو سره ئی مننه وکړه یعنی وبخښل شـــوی.
مونږبیرته خپلی کوټی ته راغلو .دشپې په (۱۰/۰۲)
بجو توپکو اتو ماتیك‌دزی پیل شوی او بی شمیـره
ګولی چلیدلی .داسی چې ګڼی زمونږد استوګنځی
نه یواځې د څو سووګزو په واټن سخته مرګ ژوبلهاو

څلور ټانکونه د کور جوړولو د مرکزی اداری دودانی
مخی ته د وظیفی په اجرا ءکولو مامور شوی و و د
کمو نستی واکمنی داتر ټولو غټ مرکز ړومبی لاسوزول
شوی او ایری ایری شوی وءهلته وړاندی یوڅوکسان
داور دخولی نه دپاتی شویو یو څو کړکیږه پرینمځلو
سمولو بوخت وو زمونږ ترشا را روان یو تاجك چپرا-
سی مونږته وویل ؛ښه ځیر شئی پدی کړکیو باندی
دانسانانو وینی نښتی او وچې شویدی ، ځای پـــه
ځای په څو کیدارانو باندی دوینو څاڅکی پراتـــه
دي.دغه مصروف خلکلګیا دي هغه وینی پریمنځـــی
او پا کوی ئی .
مونږ لږشان نورهم وړاندی لاړو. مخامخ یـــو
عسکر ولاړ وءخو هغه پدی حیثیت چې مونـــــږ

د اسلام‌عظمت یو ځل بیا د روس د مرکزي سیمو په مسلمانانو کې راژوندی شوے ، وګورو چې روس او امریکا لدې غورځنګ څخه څنګه ځانونه خوندي ساتلے شي.

وهل تکول روان ؤي .زمونږله سترګونه خوب والوت،
او ټوله فضا ویری او ډار پخپله غیږ کی رانغښتیوه.
لږوخت وروسته له لری لري نه یویو ډز اوریدل کیده.
دشپې‌په دري نیمو بجو د روسیی شو بلو راټلل پیل
شو .شپږ ټا نکونه د هوټل مرکزی دروازی ته ودریدل

سه شنبه ۱۳ فروري ۱۹۹۰:

زه او ایلکزیندرا د سهار په لسو بجو د هوټل د
دروازی پــه لـــور وخـــوځیدو،د ښار
مرکزی برخی ته له دغی دروازی نه لنده لارتللیوه
مونږ دغلته په سلهاو وسله وال عسکر ولیدل چـی
په لاسو نو کی ئی د حفاظت په خاطرډالو نه نیولی
وو دغه ټول عسکری ځوانان روسی وو.دوی ډیـر
مضطرب ښکارهکیدل ، رنګونه ئی ژیړ او الوتی وو .

زورنالستان یو له وړاندی تګ نه منع نه کړو ښایی
چې نږدی به ورسره کوم افسر موجود نه و نو ځکـه
زمونږ د وړاندی تګ مانع نه شو .مونږیو څو قدمـه
نور هم مخکی تیر شوو. تقریبا "د یونیم‌سل ګزو پـه
واټن لری مو هغه برید ولید چې هاخوا ترینمتاجك
پراته وو.روسی سپا هیان هغه لوری ته نه ورتلل ،
خو مونږ لکه دجاسو سا نو هغه ځای‌ته ځانونهورسول
حیرانوونکی وه چې روسي عسکروهیڅ ونه ویل .
خو فکرکوم هغوی نه پوهیدل څه وکړي .مونږ څــه
اندازه وړاندی تللی ووچې دشاوخوا کوڅو او کورونو
نه تاجك‌ځوانان‌په مونږ راټول‌شول او مونږیې محاصره
کړو . پد غو ځوانا نـــو کې یو شمـــیر،
زمونږ په نسبت ښه نیت نه درلو د . هغـــوی
څهرجن معلو میدل مااوویل مونږامریکا یـــی

ژورنالستان یو او ستاسو دستونزو او کړمولیدلو تــــه راغلی یو. خپله کتابچه می زرله جیبه راوایسته او هغوی ته می دپوښتنی په ډول مخ ورواړو.داسی، معلو میدمچی زما خبره ئی زړهتطویدلی وی.

یوه تن غبرګړ: روسان سپی دی ،هغوی مونږ استثمار- وی او بی ګنائی مونږ ووژلو .نړی ته داورسومچــــی مونږهغوی له خپلی خاوری نه هرومرو اوباسو.دغــه ځوان نورهم ډیر څه وویل خوما دهغه څه خــبری نوټ کړی او څه نوری می دساتنی لپاره ذهن تــه وسپارلی .یوه بل ځوان له لاسه ونیوم .ویــــل مونږتاسی له ځان سره شفا خانی ته بیایو ،چــــی پخیلو سترګو د روسانو ظلم وګوری .

یو تاجک زلمی موترراوست ،موتر ته وختو .دوی داسی ګڼلمچی ایلکزیندرا زما ښځه ده نو ځکه ئی زه د هغی خنګته ورجوخت کړم او زما په څنګ کی بیانوږ ډیر ځوانان کښیناستل او دشفاخانی په طرف روان شوو.هلته چی ورسیدو مونږ دواړه ژورنالستان ئــــی یوه واټته بوتلو چی له زخمیانو نه بالکل ډك وء. ځوانانو له ایلکزیند رانه وغوښتل چی دټپیانــــو عکسونه وباسی .هغوی لامخکی دایلکزیندراا وړی تــه ځورنده کمره لیدلی وه.مونږولیدل چی ډیر ځوانان په ګولیو لګیدلی وو.په دوی کې ډیر داسی ووچــــی ددردله شدته نه وربانده ی بی هوښی خپره وه.

(نن سهار هم دوه مړی او څلویښت زخمــــیا ن شفاخانی ته راوړل شـــــویدی)

داخبره دواټ یوه ډاکتر مونږ ته وکړه .خویــــوه ځوان ورچغه کړه او په اوچت اوازئی ورته وویـــــل ته دروغ وائی ،داغلطه ده .دمړو شمیر تردی ډیر زیات دی .پدی جواب ډاکتر شونډی لږ څموځړیدی او غلی شو .خووروسته ئی یوځل بیا مونږ ته وویل ما چی څه لیدلی ووهغه می درته وښودل .

تاجک ځوانانو مونږدواړه بیایو بل موټر کې سپــاره کړو او دمیلمستون پهخواکی ئی کښته کړو .

یوه عجیبه پیښه وشوه .په مونږ پسی شاتمدپراودا ورځپانی دوه روسی ژورنالستان راتلل .مونږ چــــی راستانه شوو وموليدل چی دغه دواړه ژورنالستان پــه ډیره بدهورځ او زخمی حالت کی په اوږدوځوکیـــــو باندی پراته وو.

زمونږ په پوښتنه معلومه شوه چی هغوی هم تاجك ځوانانونیولی وو او دپراودا سره د هغوی دارتباط له مخی ئی ښه ډبولی وواو په پای کی ئی پـــه ډیره مشکله سره او په منډو ځانونه دمرګ لــــــه خولی نه را خـــلاص کړی وو.

وروسته خبر راورسید چی زمونږ داوسیدو دهوټل نه پرته له نورو کَردوځایونونه ټانکونه رخصت شویــدی.

زمونږهوټل ته مخامخ یوه ارته میدانی سیمه چـــی دسترګو په رپـه کی دخلکو نه ډکه شوه پرتهومځوانانو لوډ سپیکر ونه پــه لاس کی نیولی وواو جذباتـــی تقریرونه یی پیل کړل ،مونږ که څه هم په فارسی ژبه نه پوهیدوخودحال دژبی نه مو په ډیر څه ځانونــه وپوهول .زه او زما ملګری ایلکزیندراپه ویره ترهـــه یو ځل بیا له خپله ځایه راولاړشوو ترڅو داوضاع د معلو مولو لپاره دخلکو څنګته ورشـــــو.

دځینو ځوانانو په قول وینا کوونکو دکمونست ګوند دټولو کارکونکو داستعفی مطالبه کوله او ویل ئی مونږ په مسلك کې اسلامی نظام راوستل غواړو . او دا غواړو چی په ارمنییانو برسیره دی ټول روسانههم په فوری ډول دتاجکستان له خاوری نه ووځی.

دماسپښین مهال وء چی له کومه ځایه یـــو ملاراڅرګند شو.لودسپیکر ئی لاس ته ونیو .

الله اکبر ،الله اکبر ،الله اکبر ،اللهاکبر ،لا الـــــه الا الله .ددغه اغیزناك غږ په اوریدوسره دمظا هری

په ټولو خلکو مطلقه خاموشي حاکمه شوه. ټول غــلـي او چوپ شول. داسی لکه چی دراتلونکو پیښو سـره، دمقاومت او مقابلی دچمتووالی په خاطر دخپل ستر مشرنغوتی او لازمولارښوونوته ئی غوږنیولی وی.

مایوځل دخلکو دشمیر د اټکل په خاطرپه مظاهره کوونکو خپل نظر واچوه. دلس زروپه شمیرکی به وو - خوحیرانوونکی خبره داوه چی په دغه ګڼ شمیرخلکو کی حتی یوه زنانه او تورسری هم نه ترسترګوکیده، پرته له ایلکزیندرانه . ایلکزیندراپه وارخطائی خـپل ځان راټول او زماخواته رانزدی شوه. بیا زه اوهغـه دواړه په یوه جګ ځای ودریدو. خلکو صفو نه برا بـر کړل او همدغلته په لمانځه ودریدل. عجیبی دړاډ خپی

چار شنبه ١٤- فروری ١٩٩٠ ع:

سهارپه نهو بجو یوځل بیا دټانکونو غرهار شو. لږ څوروسته معلومه شوه چی څلور پاره شپه پوځ او ـــ ټانکونه ددوشنبی ښارته ورننوتی دی او دڅلورخواونه ئی پراواچولی دی. پدی بهیرکی څه(تاویلی ماویلی) واوریدل شول . زما ملګری دلندو(منی اسکرټ) جامو له کبله دتنقید نښه ګرځیدلی وه تاجک مسلمانانو پـه خپلو ښځوباندی تردیره اسلامی قانون نافذکړی ؤ، له دغه امله دښځوپه لندوجامو، بی حجابه او بی پرو ا، ګرځیدوباندی بندیز لګیدلی و. زمونږنه پرته زمونږسر ه اته روسی ژورنالستان هم ووچی دووتنوئی له پراودا سره ارتباط درلود روسی ژورنالستانو مونږ تـــه د

د هوټل له کړکیو نه تر لیرې لیرې هر څه په آسانه لیدل کیدل. د سرکونو پر غاړه دبر یښنا د څراغونو په تته رڼاکی د سوځول شویو مغازو، تالاو الا بازارونو او په سرکونو باندی ماتو ګوډو څیزونو انبارونه تر سترګو کیدل، د کورونو د ورو کړکیو دننه کنډو کپرو سامانونو د حال په ژبه خپل غمجن داستان بیانوه.

ئی پرمخونو خپری وی. هیڅاعجاله او تادی نـــه کوله. په یوه غږ سره (الله اکبر)به ټول ټیټیـدل او پرمخکه به ئی تندی لګوله. ډیر عجیب نظـم پـه کی موجود و. دلمانځه نه وروسته امام تلاوت شروع کړاو بیا ټو لو خلکو ددعاغوښتلو لپاره په ګډه لاسو- نه پورته کړل. وروسته راته معلومه شوه چی دغـــه تلاوت او نیاود وژل شویو کسانو په حق کی دایصال ثواب لپاره ترسره شو. دتلاوت اونیاوودپای ته رسیدو نه وروسته یوځل بیاشعارورکول پیل شوی.

(مخاکاموف دی له ګوند سره یو ځای مستعفی شی) ـ

(مونږ اسلام غواړو) (مونږکمونستی نظام نه منو)

داهرڅه مونږ په سترګولیدل. یوڅوعکسونه مو واخیستل او خپل استو ګنځی ته راستانه شوو.

احتیاط او عسکری پاس اخستلو مشوره راکړه. دپراودا یوکمونستنماینده خوزښت ډیر نا خوښه وهغه ویـــل دغه کم عقله بنیادپرستان اقتصادی خپلواکی غواړی پداسی حال کی چی دهغوی دریاست واردات له یو ملیون روبلو نه تجاوزکوی خوتولیداو صادرات ئـــی دوارداتو پرتله زښتکم دی. دهغوی مذهب پرستـــی هسی چټیات دي . تاجک ځوانان له ملایانونه نفرتکوی ما په نږدی کی ددمدغه جمله دهغه لسزرو کسانو سره مقایسه کړه چی دملاداذان په غږ سرئی بدنونه داوریدلو لپاره غوږ غوږ ګرځیدلی وو اوداسی هیڅوک موونه لیدچی لمانځه ته نه وی حاضر شوی. لږ وخت وروسته خبر راورسید مچی دښارترټولوغټ څلورلاری کی خلکو د، کمونستی لیدرانو په ځای دخپل مشرتابه هیئت پـه

خپله تاکلي چې تول له ديني اداراوو دمسلمانانوله دلو سرطړيکي لري .ددغو ګردومشرانو غږيودي او هغه داچې ((اسلام دی دهيواد درسمي مذهب په صفت وسل شي له افغانستان سره دی سرحدونه خلاص کړای شي)) داخلکنورنه غواړي چې له روس سره اړيکي ولري او داقتصاد په برخه کې خالص داسلامي اقتصادي نظام پلوي کوي .

تقريبا" پاوکم څلوربجي وی چې دمشرانو (۱۳)) غړومشر٤٢ کلن رهبر نزاري موسی زاده اعلان وکړ چې: زمونږ۱۷ مطالبی دی، دروس حکومت ته اخطار ورکول- کيږي چې زمونږدغه غوښتني بی له څه ځنډه ومنی :دکمونست ګوند ګوښه کول ،له تاجکستان نه له ارمنياييواوسيدونکو ايستل ، داسلامي قوانينو ، نفاذ او داسی نوري زمونږد غوښتنو او مطالبو مهمي برخي دی دده تول ملګري ځوانان او توري لند ی ږيري ئی درلودی .زماچې په دوی سترګی ولګيدی نوراپه زره شومچې دوی ټورته ملايان مايه ايران کی ديرليدلي دی .خوصرف په دومره توپير چې دا د مسلمانانو سنی جماعت دی او سنيان فقه نافذيدل غواړي .په ښارکی دختزيردغوښي په خرڅلاو بنديز لګيدلي ،تلويزيون او راديو دهغوی په واك کی دی قرآن کريم تلاوت او اورول کيږي او ترکومه حده چې امکان لري اسلامي قوانين عملي کړای شوی دی ، پاو باندی څلوربجي کيدونکي ويچې زه او ايلکزيندرا په منډه منډه خپل استو ګنځی ته ورسيدو ځکه چې دشپږنيمو بجو په پرواز کی مونږ بايد مسکوته ستانه شوي‌وای.سامان موهم په کوته کی وران ويجاړ پروت و٤ ،زمونږ پرميز دروس د بهرنيو چارو دوزارت پيغام پروت و٤. پدغه پيغام کی مسکوته زمونږد ، ستنيدو ويناشوی وه.

په پای کی دخپلو وروستنيو دوه کتنو په باره کی عرض کول غواړم په هوائی ډګرکی د لږ څه انتظار په وخت کی می له دوه تنو ښځو سره ملاقات وشو. زما رومبی ملاقات له يوی داسی ښځی سره وشو چې بی لستونولند لباس ئی اغوستی و٤او ډيره غمجنه وه .زه اوس څنګه خپل کورته ولاړه شم ، دابنياد پرست تاجك ددی ډول ښځنی لباس سخت مخالف دی . دويمه داسی ښځه وه چې دسر وينښتان ئی لنډ کړی وو.داښځه معلمه وه‌او دد ی لباس هم د اعتراض وړو٤.هغی د ملا يا نو په نسبت سخت او رکيك الفاظ استعمال کړل .ويل زه خپل کور (فليت) خرڅوم او ځان مسکوته تبديلوم دغو ښځو په ډير عاجزی وويل: معلو ميږی چې په دغو خلکو با ندی د اسلام هيضه لګيدلی ده په جهاز کی می له ځان سره فکر کاوه چې آخر همغه وشول دکوم نه چې ګوربچوف ويره درلوده.د اسلام عظمت يوځل بيا دروس په مرکزی اسلامی رياستونو کی راژوندی شوي منتظراوسی چې روس ،امريکا ا و نور ه نړی څنګه له دی نه ځا نونه خوندی سا تی.

بقیهٔ سرطان سرخ

اروپایی آنرا به میان آورده بود.

بناءً مارکسیزم که شاخه ای از درخت خبیث مادیت‌است در اروپاغرس شده تا درخت کلیسا را زیر فشار گیرد و آنرا از بیخ و بن برکند یا اینکه مارکسیزم به مثابه یکی از میخ های بزرگی بود که در نعش کلیسا کوبیده شد. «ادامه دارد»

جهاد دشعر او ادب په پلوشوکی

دافغان مهاجرينوسپين سبا

عبدالستار عارف جهنک

منم جي بر ببنوبل اباد ودان كوروبه باسو
حورړى وبالي حورړى مىوي بنكلي گلونه باسو
جي سنه طوطيان يكي جعبرړي سنه باغونه تاسو
دباك اسلام يه حاطر اوسيندل سرونه تاسو
****

به دي خوشحال ىم چي آرادي يي غلامان حونه ئي
دلته حبلونوكي پنجرو كي بندىوان حونه ئي
****

ماسره غم دي دهغو چي بندىوان براته دي
نوروتياروكي ناحبره دخيلځان براته دي
خوك دمسكو حيلونو و خوړل خوران پراته دي ـ
خوك دكابل په حلبخانو كي مطلومان براته دي
****

نن دهغوي تيوس يكاردي جي بندي دي هلته
جي شهيدان دي او كه به جرته ژوندي وي هلته؟
****

تاسو حو دلته به آراد ماحول كي ساه واحيسته
دحداي مشكور اوسئ جي دلته مو ساه واحيسته
تاسو هو بنباربي اعتماد كي مو دنيا واحيسته
ره به حوشحال شم كه موحبله حاوره بيا واحيسته

وروركه دورور به كورمىلمه سي داسعور نه دى
داسباسو كور دي دارموبړ بواري كورنه دى
****

موبږه او تاسو سره وروبه بو ايمان موبو دى
حالق موبو، رسول موبو ـ دى اوقرآن موبو دى
موبږه بو موبه ، بواواربو او اعلان مو بو دى
ترحوجي باسو دلته او سي باكستان موبو دى
****

مانه درړه به سترگو ښكاري هغه ورځ به راشي
ملگروستاسو مستقبل به بو ځل سبى صبا سي
****

بيا به هم داافغانستان دافغانانو كوروى
خنگه جي وو داسي به بيا دغيرتيانو كوروى
كه حبر وي دابه دسوحه مسلمانانو كور وي
افغانستان به دهغو ښايسته ځوانانو كور وي
****

جاجي قربان كړى حبلي وبني داسلام به حاطر
دحبل ناموس حبلي حيا اوحپل مرام به حاطر
****

اي ددى رمكي آسمانونو ، دربابونو ربه !
دلوبو-لوبو ىېرولوبو قدرتونو ربه !
اى، اي رموبږ دىامامه اميدونو ربه !
اي دعارف دسترو سترو آرمانونو ربه !
****

چيرته جي وي جبرته حي اوسي مسلمان آراد كړى
افغانسان او فلسطين كسمبر يكسان ازادكړى

زاندم که بیامدیم درملک وجود
بردرگه تو نهاده سر را بسجود
تو خالق عالمی و ما بندهٔ تو
ممنون زالطاف تو هر بود ونبود

محمد زبیر شفیق

دتوري زون

هیبت مې دتکبیرګوره په واړه عالم پربوت
پرتوله نړۍ خورشوپه عرب اوعجم پربوت
ځپودشمال خورکړزمادتوري شرنګاشرنګ چې
محکوم ټول رابیدارشول پرتیوبې ملهم پربوت
نړۍ بې چې له ویرې دستمه لړزیدله
هماغه مغر ورسرګوره زماپرقدم پربوت
بې واکه شول بې باکه دسرونوله‌ار ځښته
ځپې چې په غورځنګ شوې پرې دوینوپرتم پربوت
زګیروو، سلګو، تکبیر موتوپانونه رااوجت کړل
ډیرښه شو چې په کورمو راکښ پربوتوم پربوت
زما دتورې زوربې تا داووته زلزله شو
برلین سره یوځای شولودیوال دستم پربوت
تکبیر بدرګه کیږي له ختیځه تر لویدیځه
په کوردهر ظالم، جابر، سرزوري ماتم پربوت
مړزواندوولسونوته مې روح دقیام پوکړه
بهار دخیلواکۍ شو په ګلونو شبنم پربوت
په جهر دااعلان دي «حق برې وړې باطل پړ شو»
په توره دتوحید دسرکښیو «صنم» پربوت

ای پسرلیه!

سیدخان «وفادار»

ای پسرلیه ستا راتلل څه پکار
ستا د ګلونو سپړیدل څه پکار
پریږده چې وژاړم غمونو سره
د شهیدانو مزارونو سره

ماته وطن نن هدیره شوې ده
کلې او کور مې کنډواله شوې ده
پریږده چې وژاړم قبرونو سره
د شهیدانو مزارونو سره

خو اوس سپرلیه هغه ځوانان نه وینم
ستا د ګلونو نندارچیان نه وینم
سنګر کې لوبې کړې او رونو سره
د شهیدانو مزارونو سره

ستا په راتلوچې باغچې غوړیدې
د بلبلانو ترانې غږیدې
په وچو سریم خزانونو سره
د شهیدانو مزاروونو سره

هغه د رې چې تکې شنې ښکار یدې
هم به او به رڼې رڼې ښکار یدې
نن شاړې ښکارې په بمونو سره
د شهیدانو مزارونو سره

نن شهیدان ستا سره ګلونو وینم
په وینو سره یې کفنونه وینم
څنګه به نه ژاړم غمونو سره
د شهیدانو مزارونو سره

واخ! پسرلیه ډیر غمجن یمه زه
په سرو بمو کې لوغړن یمه زه
«سید خان» وژړیږې خپل شعرونو سره
د شهیدانو مزارونو سره

محمدعمر "اخګر"

نظامي ښوونه او روزنه

دکمین کشف

ددښمن په هکله دمعلوماتو د لاس ته راوړلو دکشف په اصولو کې یو اصل هم دکمین کشفدی.د کمین دکشف، داجرأکولو د پاره معمولا" یوجزوتام ددښمن د حرکت د احتمالي لاروپه یوه برخه کې مخکې له مخکې ځای پر ځای کیږي او دیوناڅاپي حملې پواسطه دښمن له منځه وړی.او په دې توګه ددښمن د افرادو دنیولو او اسنادو، د وسلو د نمونو.او د حربی تجهیزاتو د لاس ته راوړلو لپاره اقدام کیږي .

د کمین کشف د جګړې په هر راز حالاتو کې اود، اراضی او د جوی مختلفو اوضاعو کې اجراءکیږي .

ددې ډول کشف لپاره کوچني جزوتامونه د کشف د، ګروپونو او ډلو په توګه سره مؤظفکیږی او په کوچنیو، جزوتاموکې خصوصا"یوتقویه شوی بلوك ددې فعالیت له پاره ډیر ښه مناسب او دښو اجرأتوقابلیت لرلی شي.

دکمین کشف معمولاً" د سرکونو په غاړه ،پلونو،څلور لارو ،معبرونو،د اوبو منابعوسره او د اراضی په نوروهغو برخوکې چې ددښمن افرادو ،وسایطو او همدارنګه ګروپونود حرکت احتمال موجود وي او خصوصا"داراضی په هغو برخوکې چې دسترواخفأ ښه شرایط ولري اجرأ کیږي.

دکمین کشف دخصوصیاتو د ښې تشریح لپاره پدې هکله دیو بلوك قوماندان فعالیت د نمونې په توګه وړاندې کوو:

پلی کندك د پر مختك په حال کې و، یو خط یې اشغال او تحکیم کړ د کندك قوماندان دې نتیجی ته ورسیده چې ددښمن د احتمالي حملو استقامت دښی له خوا څخه وي نو قرار یې ورکړچی ددښمن د ترکیب او مقصد د ښکاریدلو لپاره یو د کمین کشف دونو،دیرو او ځنګلوپه برخه کې اجرأ کړي .نو ددې قرار دسرته رسولو لپاره یې یو پلی بلوکچی په درنه وسله او یو دلګی استحکام تقویه شوې ؤ ،مؤظف کړ.

د بلوك قوماندان ته یې امر وکړ چې دښمن دافرادو دنیولو او داسنادو او د وسلو د نمونو د لاس ته راوړلو د پاره تاکل شوی ځای ته حرکت وکړي ،او د وظیفې د سرته رسولو څخه وروسته خپل موقعیت ته راستانه شي.

نوموړی قوماندان خپله وظیفه په خریطی باندې مطالعه کړه او تصمیم یی ونیو چې د تقویهاسلحې د رسیدلو سره سم دلاسه د ټاکلې وظیفې پرخوا روان شي . او ددې لپاره چې پرمختك په وخت کې ددښمن له ناڅاپي حملو سره مخامخ نه شي نو دیو دلګی مؤظف کول یې د اوج په حیث لازم وګڼل او هم یې قرار دورکولو او د وضیعت ارزیابی لپاره هغه وخت وټاکه چې تر ټاکلې ځای پورې په لاره تیریده کله چې د تقویه وسایط چې د کندك دقوماندان لخوا تعین شوي وو را ورسیدل ، نو دحرکت امر یې ورکړ په لاره باندې یې د خپلې وظیفې اجرا٦ لپارمخریطه مطالعه او ورستی تصمیم یې ونیولو. ددې ډول کشف

دښې اجرألپاره لازم دی چې تر هرڅه دمخه پر غلیم باندې د اور پوه‌ناڅاپې حمله وشي او بیادخپل جزوتام دحملې بواسطه د کمین وظیفه اجرا' کړي. نو په همدې منظور یې د خپل جزوتام د ورستی تقسیم په هکله فکروکړ چې باید دا بلوکپه دووبرخو ویشل شي :یو ډله دحملې ډله او بله یې د حملې ځای دپاره وي د وظیفې اجرأ او پر دښمن باندې د، حملې د لحضاراتو په هکله یې دا لاندې ځایونه د څارونکو د ځارلپاره وټاکل :

د زراعتی فارم په لویدیځه برخه کې یو څارونکی دغونډۍ په شمالي برخه کې یو څارونکی.
دځنکله په شمالي برخه کې یو څارونکی.
چې دغلیم په لیدلو باندې به ددې سیمې‌په هره برخه کې قادر وي .

ددې لپاره چې دښمن له څو اړخونو څخه د تاثیر لاندې ونیولای شي او پدی توګه د هغو په صفونو کی بې نظمي منځ ته راوړي، نو د بلوک قوماندان، تصمیم ونیو چې د حملې ډله پمدوه کوچنیو ډلو باندې وویشي چې لومړی کوچنۍ ډله د کلي څخه بهر ونو کې ځای پر ځای شي ،تر څو د سرك ټوله هغه برخه چې دښار او کلي په منځ کې د اور لاندې ونیولې شي او دوهمه ډله باید د ځنګله شمال شرقي برخې ته وړاندې ولاړشي ترڅو وکولای شي د غلیم حرکت څخمد ښار نه د زراعتی فارم یا د ښاریر خوا مخنیوی وکړي.

نو د پورتنی ویش په هکله یې لومړی دلګی دلومړی لمبر توپ د لومړۍ ډلې او دریم دلګی د دوهم سپك توپ سره د دوهمې ډلې یه حیث وټاکل . داستحکام دلګی لپاره د ماینونو فرش کول ،د کلي د سیند، پر یله او د درې لارې چې د کمین د برخې څخه بیله شوې لومړی وظیفه او بیا دوی وظیفې‌دسر ته رسولو وروسته یې د هغه فعالیت د حملې دډلې ته یو ځای تعین کړ اوپه آخر کې د حملې ډلې لپاره دلاسې ځای وټاکه چې د کمین د ساحې په منځنیو برخو کې واقع شو او دغلیم د افرادو او ـ صاحب مصبانو د نیولو لپاره د یوې جنګي حملې امکانات ولري.

کله چې بلوك سهار وختي د خپل تقویه وسایطو سره ټاکلی ځنګله ته ورسیده او هلته د بلوك قوماندان لاندې شفاهی امر خپلو مادونانوته ورکړ.

بارز ټکی:

دتپې لویدیزه لمن: لومړی بارزټکی .
توره غونډۍ: دوهم بارزټکی.
ځانګړې ونه: دریم بارزټکی.
فابریکه: څلورم بارز ټکی .

هغه سرك چی د ښار څخه زراعتي فارم او کلي ته تللی د غلیم ځانګړی وسایط افراد او قطارونوحرکت لید ل شو ی.

زمونږ بلوك مؤظف شوی دی چې دکمین کشف دکلی په ونو دیزواوځنګله په سیمه کې اجرأ کړي او ددښمن د افراد، صاحبمنصبانو د وسلو نمو نې اسناد لاس ته راوړی.لومړی دلګی،لمړی لمبر بسلګد توپ سره دحملې حمایه ډله ده.دادلګی وطیفه لري چې په پټه سره‌د کلی دونو شمال شرقی څنډوته ځان ورسوي او پدې ځای کې بشپړ ستر واخفأ اجرأ کړی‌او پر هغه دښمن باندې دپله دریم بارزټکی اوپه کمین ساحه کې لارو د بیلیدوپه برخه کې ښکاره‌شي د اورکولو لپاره بشپړ احضارات ولري.

دوهم دلګی دحملې ډله ده او د استحکام‌ددلګی سره یو ځای وظیفه لري چې دځنګله په شمال لویدیز برخه کې ځای پرځای شي او پر هغه دښمن باندې چې دکمین په ساحه کې ښکاره شي د حملې احضارات ونیسي او له دښمن څخه وسلې او اسناد لاس ته را وړي.

دریم دلګی د دوهم توپ سره د حملې ځای دوهم ډله ده او وظیفه لری چی دځنکله شمال ختیزه

برخه کې بشپر ستروا خفاً سره ځای پر ځای شي او د ـ
دښمن دله منځه وړلو لپاره د کلي جنوب لویدیزتــــه
دوسلوداور پوره احضارات ولـــري.
او هـــم د دوهم دلگی "حملې ډله"فعالیت د اور،
پـــواسطه حمـایـه کـــړي.
د استحکام دلگی دې خپل ماینونه دکلي سیند پر
پله او دسرک د پیلیدواو د کمین پساحه کې فرش کـړي
او وروسته ددغه فعالیت به د دوهم دلگی "حمـلـــې"

ددې واسطی دپرشاتك لاره بنده کړي او که چیـــرې،
شرایط ایجاب کړي نوددې واسطې په لور به اور کـوی
بدی وخت کې به دحملې ډله په چټکۍ سره دددښمـــن
واسطې ته ورنږدې کیږي دافرادوپه نیولو، د اسنادووسلو
نمونوپه اخیستلو به اقدام کوي ،د فعالیت دختمیـــدو
څخه وروسته به بیرته خپل ځای ته ځي .که چیرې د،
دښمن یو کوچنی قطارد "١٠"نه تر"١٢" واسطـــو
پوری ښکاره شي بیاهم دې قطارته موقع ورکـــول ـ





سره یوځای فعالیت کوي دوهم وظیفه لري دوظیفـــې
د پای ته رسیدو څخه وروسته د بیرته راستنیدو پــــه
وخت کې د بلوك دپر شاتك په لاره باندې ماینونـــه
فرش کوي او پدې ډول به د بلوك پرشاتگ حمایه شي.

دبلوك دفعالیت څرنگوالی :

که چیری ددښمن ځانگړی وسایط لکه موترسایکل ،موتـر
اوزرهپوش ښکاره شي نو دې وسایطو ته باید موقــــع
ورکړشي چې مخکې راشي او کله چې د کمین ساحې ته
ورسیږی نو لوړی دلگی ددخیلو وسایطو پواسطــــه

کیږي چې دکمین ساحې ته ورانډې راشي نو ددې ډلـــه
رسیدو سره سم د حملې حمایه ډله په یو وخت کـــې
قطار باندې داسې اور وکړی چې د حملې د حمایې،
لوړی ډله د قطار په مخکنۍ برخه باندې او دوهمـه
ډله به دقطار په آخری برخه باندې اور پیل کړی اوپـه
همدې وخت کې به دحملې ډله د همدې اورونو دحما ـ
یې لاندې پر دښمن حمله کوي او افرادو اسناد ا ود،
وسلو نمونې به لاس ته راوړی د وظیفې د پای تـــه
رسولو وروسته به خپل ځای ته ځـــي.

ورسته به دهرشاتك "رجعت "د امر سره سم دحملې
ډله مخکې د حملې حمایی لومړی ډله دوهمه د هغه
په تعقیب رجعت کوي.

اشارې :

په اور پیل به بې‌سیم کې "اور" "قومانده یوفیر".
دحملې د ډلې پیل په حملماندې په بې‌سیم‌کې
"فتح په وړاندی "په یو فشیګ"
اور بند او رجعت لپاره تولیدل په بې سیم کې
"لمر لویدل" یو سور مشتګ د فعالیت پدی وخت،
زه د حملې د ډلې سره یم او د رجعت په وخت
کې د حملې د حمایه د دوهمې ډلې سره یم.
زما معاون د دوهم دلګی قوماندان دی.
دبلوك قوماندان د خپل جګړیز آمر د ورکولو د آمر
سره پوهیدل کنترول کړه او بیایې د ټولو افرادومواضع
او ستروا خفاء په دقیقه توګه معاینه وکړه،دغلیم دراتګ
په انتظار. چی ناڅاپه ددښمن درې ټانکونه
او درې زرهپوش راڅرګند شول د بلوك قوماندان د
احضاراتو قومانده ورکړه.

ترڅو د کمین ساحې ته راداخل شول د حملې
حمایې ګروپونود اور یوه‌ناڅاپي حمله اجراء کړه
د حملی ګروپ د حملې حمایی ګروپ د اور لاندې
ځان دښمن ته ورساوه پدی وخت‌کې ددښمن د مخکنیې
ټانك او وروستني ټانك د ډز په اثر له کاره ولویده
دښمن ته دیوې منظمې او متشکلې محاربې موقع پیدانشوه.
دحملې ګروپ د صاحب منصبانو او مړیو پلټنه وکړه
د اسنادو اسیرو ،سلاح ، وسایطو نمونه یې ترلاسه
کړه،بیدې ترتیب د بلوك د کمین وظیفه سرته ورسیده.

حکمت و فضیلت...

(انمایوفی الصابرون اجر هم بغیر حساب) یعنی‌اجر
و مکافات صا برین تحت محاسبه وتخمین نمیآیدبلکه
ثواب صابرین از تقدیر و اندازه کردن بیرون است
در حالیکه مکافات سائر عبادات ازین امتیاز وفوق‌العادگی
که مکافات ان درزیر محاسبه امده نتواند برخوردارنیست.
ناگفته نباید گذاشت که امتیازات فوق زمانی نصیب روزه
دارشده نمیتواند که به ایجابات روزه لبیك گویان جواب
مثبت دهد و طبق مقتضای صیام از اوامر الهی پیروی
و از منهیات جلو گیری نماید در غیر ان پیامبراسلام
ابلاغ فرموده :(من لم یدع قول الزوروالعمل به فلیس
لله حاجة فی ان یدع طعامه و شرابه) کسیکه گفتار
وکردار باطل راترك ندهد خداوند (ج) به ترك خوردن
و نوشیدنش التفات نمیکند یعنی چنین روزه بدرجه
اجابت و قبول درگاه ایزد متعال توصل نمیورزد.

د ماشومانو اسلامي...

کړای شی. کله چی ماشوم د تمیز او تشخیص
معین سن ته ورسیږی والدین مجبور دی چی د
فرضی عباداتو په سرته رسولو کی د هغوی کلك
مراقب واوسی. مثلاً د لمانځه په اداً کولو او د
ثوابی روژو په نیولوکی. دا وی یو شمیر هغه
ضروری لارښوونی چی د ماشومانو د دینی ښوونی
روزنی او پالنی په برخه کی ورته د والدینو او
پالوونکو پاملرنه ضروری ده که والدین او
پالوونکی پری عمل وکړی او کوم مسئولیتونه چی
دوی یی د ماشومانو د روزنی او پالنی په برخه
کی لری هغه په ښه شان سره سرته ورسوی
همدغه زمونږ د راتلونکی نسل د دنیوی او آخروی
نیکمرغیو متضمن کیدای شی. او همدا زمونږ د
ټولنی د تدریجی اصلاح او بهبود غوره لاره ده.

○

عظمت چودھری

کمانڈر جلال الدین حقّانی

جو میدانِ کارزار اور ڈپلومیسی کے محاذ پر یکساں مہارت کے ساتھ لڑ رہا ہے

افغانستان کے صوبہ پکتیا کے مجاہد کمانڈر جلال الدین حقانی محض ایک فوجی کمانڈر ہی نہیں ہیں جو افغانستان میں زبردست جنگی حکمت عملی کے ماہر سمجھے جاتے ہیں بلکہ وہ ڈپلومیسی کے محاذ پر بھی ایک مجاہد کی طرح لڑ رہے ہیں اور زبردست ڈپلومیٹ کہلانے کے مستحق ہیں

مولانا جلال الدین حقاني دجنگ په سنگر او دډيپلوماسی په ډگر دواړوکی په ډېر مهارت جنگيږي

د لاهور اووه ورځنی (ثالث) مجلی د ۱۹۸۹م کال د نومبر میاشتی د ۱٦ —۲۰نیـــــتی گنی په ۳۸ مخ کی تر پو رتنی عنوان لاندی د ښاغلی عظمت چودری په قلم یـومضـــــــمو ن خپور کړی چی موږ يي دلته درنو لوستونکو ته پښتو ترجمـه وړاندی کوو ښایی ووایو چی موږ غواړو په هره گڼه کي د ا فغانستان د جهاد او جهادی شخصیتو نوپـــــه اړه دبهرنیو خپرونو ځنی مهم مطالب راواخـــلو. اداره

د افغا نستان د مجاهدینو نو ماند قو مانـــــدان، مولوی جلال الدین حقانی یواځی یو ځی قوماندا ن ندی چی په افغانستان کی د ډیری بریالی جنگـــــی ستراتیژی علمبردار گڼلی شي،بلکی دسیاســــت ا و دیپلو ماسی په ډگر کې هم هغه د یوه سترگورمجـاهد په تو گه په ډیره بریالی او اغیزمنه توگه لگـــیادی جنگیږی .دئ چی‌کله هم د افغانستان‌په جنگــــــی او سیاسي ابعادو خبری کوی یا دژور نالســـــتانو،

پو ښتنو ته ځوابو نه وایی د افغا نستان د جهـــاد
نقشه پداسی تو گه رامخی ته کړي چی له یـــوی
خوا د افغانستان دننه روان حالت د خلکو سترگـــو
ته کیږي او له بلي خوا د نړیوال استکبار لـــــه،
سازشونواوتو طئو څخه داوړ پرده پورته کړي چـــــی
دسیاست او دیپلو ماسی د ډگر ننیو غوښتنو تـــــه
یوه بشپړ ځواب گڼلی شی .

مولانا حقانی چی د خپلو بریالیو جنگی پلانونو
او عملیاتو له مخي د نړی په وړاندی کوم مقام گټلی
دی اود ده د اغیزمنی جنگی ستراتیژی په وړانـــدی
چی دنړی پوځی ماهرینو د حیرانی کومه څرگندونـــه،
کړی همدغه وړ ده.د خپلو څرگندونو ،ویناوو اوموقف
له مخی د پنجاب صوبی ،دژورنالستانو ،روشنفکرانـــو
دانشمندانو او کارپو هانو په وړاندی یو داسی تأثیر،
پری ایښی چی تراوسه د هغوی د زړونو اوذهنونـــو
گوټو نه رڼا ساتی .

دلاهور خبریالانو په گڼو مطبوعاتی کنفرانســونو،
کی د ډیرو مشهورو سیاست پوهانو سره لیدنی کتـــنی
او مرکی کړیدی .خوکوم تأثر ـ اغیز او کیفیت چـــی
دحقانی مرکي او څرگندونو د دوی پر فکر ونو پـــری
ایښی هغه نه یواځی داچی دهیریدو ندی بلکـــی
د نو یو انگیرنواو ولولو زیږونکی هـــم دی.

حقانی پخپلو ویناوو او مرکوکی هغو ټولو سوالونو
ته قناعت بخښونکی ځوابونه وویل چی د خلکو پـــه
ذهن کی یی د افغانستان د جهاد په اړه منگولـــی
خښی کړی وی ،د هغو ټولو شکونو پردې یې څـــیری
کړی چی دجهاددښمنانو له خوا رامنځ ته شوی وی
او دهغه ټولو نارواتبلیغاتو او پرو پاگندونو ماهیـــت
یې افشاء کړ چی داسلام دښکاره او پټو دښمنانـــو
له خوا په لاره اچول شوی وو.

ده دجلال اباد دجگړو او دمجاهدینو له جنگی قوت،
او هلته دجنگ له کیفیت ،وضعی بهرنیو تاثیراتـــو
او په بشپړه تو گه دجلال اباددنه فتحه کیدو د عواملو
او حقیقت داسی مؤثر تعبیر وړاندی کړ چی دهیچا
لپاره یی دهیڅ ډول څه اعتراض ځای پری نښود .
دمجاهدینو د خپل منځی اختلافاتو په هکله یـــې
پداسی اندازه کی د خلکو احساساتو ته ځواب ووایـــه
چی بیا به څوك دجهاد ددښمنانو د تبلیغاتـــو

الحاج جلال الدین حقانی له خپلو مجاهدینو سره د یو بریمن برید لپاره د نویو سنگرونو په لټه کې

په د ام کی ونښلي.ده د مجاهدینو دروانی جنگـــی
ستراتیژی داسی عکاسی وړاندی کړه چی جنگی ماهرین،
دهغی مؤثریت ته گوته په غاښ پا تی شول ده دغرب د
ډله ایزارتباط دوسایلو ددومخی چلند په اړه دحضار و
په وړاندی ژوندی مثالونه کیښودل چی د مجاهدیـــنو
حقانیت او دغرب د ډله ایزارتباط دوسایلو دشومـــو
اهدافو په اړه یی د هغوی ټولی مانوری او پالیسی او
متضاد برخورد ښه تر څرگنداول .

حقانی صاحب څرنگه چی دیوه بریالی پوځـــی
متخصص په توگه دجنگ د ډگر قهرمان او دپو ځـــی
ستراتیژی یو ډیر پیاوړی ماهر پیژندل شوی همدغه و په
د دیپلو مـاسی د میدان ډیر سترگور او با نصیرتـــه
سیاست پوه هم گڼلی شـــی.

دپکتیا په وروستیو فتوحاتو کی نیول شوی عسکر او صاحبمنصبان خوشی کړی شول

دتورې غاړې او دپکتیا په نورو وروستیو فتوحاتـــــو کې نیول شوی عسکر او افراد آزاد کړای شول .

ددغو بندیا نو د خوشې کولو په غونډه کې الحاج مولوی جلال الدین حقانی پخپله وینا کې هغوی تـــه وویل :تاسی پخپلو سترګو ولیدل چې دکابل مزدوررژیم د مجاهدینو په خلاف څو مره ناروا تبلیغات کـــوی. هغوی دمجاهدینو پر ضد دا پروپا ګنډ کوي چې کـــه څوك یوځي مجاهدینو ته تسلیم شي او یا یي هغـــوی ونیسی وژنی یی،خو تاسې ولیدل چې موږ هغه یوځیان هم دادی آزادوو چې تر آخره یی زموږ په سنګرونـــو ګولۍ چلو لـــې دي .

حقانی **صاحب** زیاته کړه:اسلام د امن او ســـلام دین دی او مجاهدینو چې د اسلام د سرلـــوړۍ او حاکمیت له پاره وسله راپورته کړی او جهادکـــــــوی څنکه کولی شي چې له اسیرانو سره دا ډول رویه وکړی او هغوی ته تکلیف ورســـوي.

حقانی**صاحب** وویل :

موږ پو هیږو چې تاسی زیاتره د مجبوریت له مخی په زور او جبر سره د مجاهدینو پر خلاف جګړې تـــــه سوق شوي یاست څکه خو موږ له تاسې سره همدردیاو خواخوږی څرګندوو.

حقانی**صاحب** وویل : مجاهدین هراقدام اوهـــر قدم د اسلام د اصولو له مخی پورته کوي څکه خویـــې تاسې ته په پناه درکولو سره دا ثابته کړه چې مجاهدین له خپلو خلکو او ولس سره څومره مینه لري .

د کابل مزدور رژیم ته له ناروا تبلیغاتواو پروپاګند څخه پر ته بل هیڅ ندی پاتې له همدې امله دهغـــوی چی څومره وس کیږی پدغه لارکې مذبوحانه هلـــیځلـــې کوي خو زموږ پوخ باور دی لکه څنګه چې د هغـــوی جنګی ماشین د مجاهدینود ایمان په مقابل کــــــې دړی وړې شو همدغه وربه یي د پروپاګندونو ،توطئواو، مانورو لومې هم دخپلې غاړې زیندی وګرځــی .

محـــترم حقانی صاحب وویل: مجاهدینو عمومـــــي عفوه اعلان کړی او هر څوك چې له دوی سره یـــــو، ځای شي او پخپلو تیرو عملو نو پیښماني څرګنده کـــړي هغوی به مجاهدین په خپل څنګ پورې نیسي .دخبـــرو په پای کی د محـــترم حقاني صاحبله خوا هریوځـــــې ته یو جوړجامي ،څپلۍ او یونیم زر کلداری دلارېخرڅ هـــــم ورکـــړل شـــو.

پرخوست

دمجاهدینو درانده عملیات روان دی

دحمل (۹): د الحاج مولوي جلال الدین حقانـــي ترقیادت لاندې پر خوست د مجاهدینو درانده عملیات روان دي .

پدغو حملو کې مجاهدینو د مزدور رژیم درې – پوستې فتحـــه کـړیدي.

په رارسیدلو خبرو نو کې ویل شویدي چې دکابـل مزدور رژیم د مجاهدینو پر سنگرونو د سکډ تو غندیـو درې حملې کړیدي چې یې (۳) تنه شهیدان او ٤٥ تنه زخمیان شویدي .

همدارنگه په یوه بل خبر کې ویل شویدي چـــې د مجاهدینو د پرله پسې بریدونو په نتیجه کـــې د خوست هوایي ډگر د رادار دستگاه هم یه بشپــړ توگه له منځه تللې او پردې سربیره دمزدور رژیـــم ، قواووته د سراو مال درانده زیانونه هم اوښتي دي.

دنړۍ معتبرو اژانسونوهم داخبر ونه خپاره کړیدي چـــې خوست د مجاهدینو تر سختو او کفرځپونکو حملو لاندې دی کتونکي وايي چې د خوست محصور پوځونه نشـــي، کولی نور د مجاهدینو د درندو او بریالیو حملو پــه مقابل کې مقاومت وکـــړي.

کتونکي عقیده څرگندوي چې د کابل پوځونه لـــه تسلیمیدو پرته بله لارنلـــري.

دالحاج مولانـــا جلال الدین حقانی ترقیادت لاندې د عبد الله بن مبارک (رض) حربې پوهنتون د محصلین د پوځی تمرینا نو په جریان کی

دمزدور رژیم دوسلو یوه ستره ډیپو وسوځیدله

پکتیا، د ۱۳٦۹ د حمل ۱۳ :

دخوست شمال غربي خواته د منه چینو په سیمه کې د کابل د مزدور رژیم د وسلو یوه ستره ډیپو د مجاهدینو د لرې ویشتونکو توغندیو د حملې له امله د یوې سختې چاودنې وروسته په بشپړه توگه وسوځیدله .

په رارسیدلو خبرو نو کې ویل شویدي چې دوسلو، دغه ډیپو د مجاهدینو دهغو دقیقو عملیاتو په لړکې وروسته له یوې سختې چاودنې اور واخیست او نژدې څو ساعتونه پرله پسې چاودنې کیدلې چې د سخت اورلگیدلوله امله د ډیپو د ننه ټول مهمات او وسلې له منځه تللي او گڼ پوځیان پکې وژل شویدي .

په خبرو نو کې ویل شویدي چې په ډیپو کې له مهماتو پرته راکټونه او نورې درندې وسلې هم وې چې له یوې مخې د اور خوراك گرځیدلي دي.د عیني شاهدانو له قوله چاودنه دومره سخته وه چې ټوله فضانور لوگي لاندې کړې وه او آسمان د دود اولوخړو، تورو وریځو نیولی و .

د راولپنډۍ د نوای وقت ورځپاڼې د اپریل د ١٤ نیټې په گڼه کې ددغه خبر د خپرولو په ترخ کې لیکلي دي چې د مولاناجلال الدین حقاني تر قیادت لاندې د ده د یوه پیاوړي قوماندان شرین جمال په مشرۍ نوموړې حملې بڼه نیولې چې د کابل رژیم لـه پاره د شاهنواز تني له کودتا وروسته دوهمه ډیره ستره ضایعه او نقصان گڼلې شي.

ورځپاڼه لیکي :دکتونکو دا خیال دی چې په خوست کې کلابند پوځونه مجاهدینو ته له وسلې ایښودلو پرته بله هیڅ لارنلري.

نومیالی قوماندان مولوی نسیم اخندزاده شهید شو

پیښور د ۱۳٦۹ هـ ش کال د حمل ٥ :

په ډیرې خواشینۍ سره مو خبر واخیست چې د هلمند ولایت د حرکت انقلاب اسلامي دمجاهدینو

عمومي امير نو ميالى قوماندان مولوي نسيم اخوند-
زاده د يكشنبې د ورځې د ماسپښين په دوو بجو
او پنځه لس دقيقو د پيښور له ښاره ۳۰ كيلومتره
لرې د چراټ په عمومي سړك باندې د اسلام او،
جهاد ددښمنانو له خوا د يوې ناڅاپي حملې په
نتيجه كې د شهادت لوړ مقام ته ورسيد.

په خپرو شويو خبرونو كى ويل شويدي چې له مولوى
نسيم اخوندزاده سره يوځاى په دغه پيښه كې
ملانظرمحمد د هلمند ولايت د مجاهدينو قوماندان، د حركت
انقلاب اسلامي د هلمند ولايت د نمايندگى مسوول،
الحاج عبدالظاهر، مولوى جمعه وار، د سرپل دولسوا-
لۍ د حوزې آمر او د اخوندزاده صاحب دوه تنه
محافظين ملا غلام يحيى او ملااحمداخوند هم
په شهادت رسيدلي دي.

انالله انااليه راجعون.

خبرونه وايي چې د مولوى نسيم اخوندزاده -
جنازه د الوتكى په ذريعه له اسلام اباد څخه
كويټې او بياله هغه ځاى څخه د موټر پوسيله خپلې
سيمې ته د ښخولو لپاره يوړل شوه.

دشهيد الحاج مولوى محمد نسيم اخوندزاده
ژوند، ليك

شهيد الحاج مولوى محمد نسيم اخوندزاده د
الحاج مولوى محمد عمر صاحب ځوى وُچى په
۱۳۳۳ هـ ش كى د هلمند د ولايت د كجكي د
ولسوالۍ د زميندار دسيمي د كنجك دنلي وي،
يخچى په كلي كې دنياته سترگې پرانستې، لومړنى
زده كړه يى له خپل پلار څخه پيل چى بياوروسته
يى لوړو دينى زده كړوته دوام وركړ، كوم
وخت چې په كابل كى كمو نستى كودتاوشوه، نو،
په وسله وال جهاد يى پيل وكړ په ۱۳۵۸ هـ ش
كال كې يې له لسو تنو طالبانو سره دسيمې په
كمو نستانو بريد/ وكړ، نو له دى كبله په هلمند كى
د جهادبنسټ ايښودونكى گڼل كيږى. د ۱۳۵۹-
كال د غبرگولي د مياشتې په لومړۍ نيټه يې موسى-
كلا ولسوالۍ فتحه كړه دې فتحې وروسته د هلمند
ولايت د حركت انقلاب اسلامى د ټولو مجاهدينو
قوماندانانو اودسپين ږيروپه مشوره د هغه ولايت،
د ټولو جبهاتو د عمومي آمر په حيث وټاكل شو، چې
د مركزى دفتر لخواهم تائيدشو، د جهاد په اوږدوكې يې
لس ځله د متجاوزوروسانو ډيرې سترې، سترې
تهاجمي قوې د خداى (ج) په مرسته او دخپل ايمان
په زور په شاوتمبولې.

الحاج مولوي محمد نسيم اخوندزاده دموسى
كلااو كجكي په شمول څو نورې ولسوالى فتحه كړى،
په ۱۳۵۹ او ۱۳٦۰ كال كې يې دري مدرسي په موسى
كلا، زميندواراو تخته پل كى پرانستلى، په ۱۳٦۷ كال
دعبورى حكومت د انتخاب لپاره د مشورتي شوراد
غړى په توگه وټاكل شو.

الحاج مولوي محمد نسيم اخوندزاده تر۱۳٦۵ كال
پورى څلور زره مسلح مجاهدين درلودل.

الحاج مولوى محمد نسيم اخوندزاده د ۱۳٦۹-
كال د ورې په پنځمه نيټه په جلوزوكې د يو
ناځوانمردانه كمين له امله چې د اسلام دښمنو
اجيرانو له خوا نيول شوى و د پنځو تنو قوماندانانو
سره د شهادت جامونه پورته كړل.

اناللّه واناالیه راجعون

بسم الله الرحمن الرحيم

د حق لارې قربانيان

د شهید حاجي گل لنډه پیژندنه

د اسلام د حقی لاری له پیاوړو مجاهدینو څخه یوهم حاجي گل دزمه گل زوی ؤ چی د پکتیا ولایت د خوست دنویی اولسوالی داسمعیل خیلو د دلپوری د کلی اوسیدونکی ؤ .

نوموړی لومړنی دینی علوم د مور مانډی په مدرسه کی لوستی وو او کله چی افغانستان کی د روسانو په دستور او حمایت د ثور خونړی کودتا رامینځ ته شوه اسلامی هیواد پاکستان ته یی هجرت وکړ او له هجرت څخه وروسته یی بیا دکفر او الحاد پر ضد په وسله وال جهاد پیل وکړ .

نوموړی په ډیرو جهادی عملیاتو کی گډون کړی او ددین او وطن په دښمنانو یی مرگونی گوزارونه کړی دی او د سر او مال درانه تلفات یی ور اړولی دی .



بالاخره دغه نومیالی مجاهد په ۱۳٦۱ هـ ش کال د سنبلی د میاشتی په لومړی نیټه د اسمعیل خیلو او مندوزیو په عملیاتو کی د بر خمنخیلو په کلی کی له دښمن سره په یوه مخامخ جګړه کی د شهادت لوړ مقام ته ورسید .

(انا لله وانا الیه راجعون)

د شهید عثمان ګل لنډه پیژندنه

د هغو مؤمنو مجاهدینو په ډله کی چی خاص د خدای (جل جلاله) د رضا او اعلای کلمة په خاطر یی د کفر او الحاد پر ضد وسله وال جهاد پیل کړی دی یو هم عثمان ګل د مازیګر ګل زوی د پکتیا ولایت د خوست د لویی اولسوالی د دلپوری اوسیدونکی په قوم اسمعیل خیل ؤ .

نومړی تر نهم ټولګی پوری د ځربن په ښوونځی کی زده کړه کړی وه او بیا وروسته له دینی علومو سره د زیاتی مینی په اساس یی دښوونځی زده کړه پریښوده او د مورمانډی په مدرسه کی شامل شو ، او وروسته یی د تانی د تره خیلو په مدرسه کی زده کړی ته دوام ورکړ . په ۱۳۵۷ هـ ش کال په افغانستان کی د ملحدینو له خونړی کودتا سره سم یی د پاکستان اسلامی خاوری ته هجرت وکړ او د تعلیم سلسله یی نیمګړی پاتی شوه . له هجرت څخه وروسته سمدلاسه د کفر او الحاد پر ضد دوسله وال جهاد سنګرته ورغی .

په ډیرو جهادی عملیاتو کی یی فعالانه برخه در



لوده چی دلته یی د نمونی په توګه د تراعاری ، بړی ، لیژه ، ډبګی ، ژوره او سنکیو پوستو د عملیاتو یادونه کوو .

بالاخره د اسلام د حقی لاری دغه نومیالی مجاهد د ۱۳٦۵ هـ ش کال د حوت د میاشتی په لومړی نیټه د سنکیو د پوستو په عمومی عملیاتو کی له دښمن سره په یوی مخامخ جګړه کی د ګرینوف د مرمی په ذریعه د شهادت لوړ مقام ته ورسید .

(انا لله وانا الیه راجعون)

د شهید مشرف ګل لنډه پیژندنه

د اسلام د حقی لاری د نومیالیو مجاهدینو په ډله کی چی د جهاد و یاړلی کارنامی به یی د تل

لپاره د افغانستان د مؤمن ملت د جهاد په تاريخ
کی په زرينو کرښو ثبت وی يو هم مشرف گل د
مازيگر گل زوی د پکتيا ولايت د خوست دلويی
اولسوالی د اسمعيل خيلو د دلپوری او سيدونکی ؤ.

نوموړی په افغانستان کی د کمونستانو د الحادی
کودتا د رامينځ ته کيدو سره سم خپله زده کړه
نيمگړی پريښوده او اسلامی هيواد پاکستان ته يی
هجرت وکړ. له هجرت څخه وروسته د اسلام او
جهاد سره زياتی مينی هغه دوسله وال جهاد
سنگرته وروست. د وسله وال جهاد په دوران کی
يی په ډيرو جهادی عملياتو کی برخه اخيستی چی
دلته د نمونی په توگه دژوره، بړی، زرمنځکی،
توری غاړی، د سنکيو پوستی، ليژی په يادونه

اکتفاء کوو.
دغه نوميالی مجاهد د پير کلی غنړ باندی د
عملياتو په جريان کی له يو بل مجاهد سره يوځای
د دښمن له خوا ونيول شو او له سختو شکنجو او
دوه کاله بند تيرولو وروسته بياد وسله وال جهاد
په ليکو کی شامل شو.
بالاخره دغه ميړنی مجاهد د ۱۳۶۸ هـ ش کال د
اسد د مياشتی په ۱۳ نيټه د درگی د دوهمی
فتحی نه وروسته د دور ملکی په يوه پوسته
باندی د عمليات په جريان کی له څلورو تنو نورو
مجاهدينو سره يوځای د دښمن د توپ گولی په
ذريعه د شهادت لوړ مقام ته ورسيد.
(انا لله وانا اليه راجعون)

د شهيد کمين خان لنډ ژوند ليک

د اسلام د حقی لاری د هغو نوميالیو مجاهدينو په
ډله کی چی خاص د خدای (جل جلاله) د رضا
لپاره يی د کفر او الحاد پر ضد وسله وال جهاد
پيل کړی يوهم کمين خان د ترين زوی ؤ چی په
۱۳۴۰ هـ ش کال کی د پکتيا ولايت د خوست د
لويی اولسوالی د سبر يو د قوم د بادخانی په
کلی کی زيږيدلی ؤ.
نوموړی په افغانستان کی د روسانو په دستور او
حمايت د ثور له خونړی کودتا څخه وروسته له
خپلی کورنی سره اسلامی گاونډی هيواد پاکستان
ته هجرت کړی ؤ. سره له دی چی د زياتو

اقتصادی مشکلاتو سره مخامخ ؤ، خو د دغو مشکلاتو سره سره دینی او ایمانی جذبی او د جهاد سره زیاتی مینی هغه د وسله وال جهاد سنگر ځخه منع نه کړای شو او د ژوند تر پایه یی په ډیره میړانه د پکتیا په بیلو بیلو سیمو کی د



کفر او الحاد پر ضد وسله وال جهاد ته ادامه ورکړه، او د بیلو بیلو عملیاتو په ترڅ کی یی له نورو مجاهدینو سره یوځای په ملحدینو او ددین او وطن دښمنانو مرگونی گوزارونه وکړل او زیات مالی او ځانی تلفات یی ور واړول.

لومړنی عملیات یی پخپله علاقداری کی د الحاج مولانا جلال الدین حقانی د جبهاتو مربوط د الحاج مولوی میر داد د شمالی خوست په جبهاتو کی د الحاج اکبر الدین تر قوماندی سرته و رسول او د پوره میړانی په ښود لو سره یی له و یاړه ډکی جهادی کارنامی پریښودی.

بالاخره د حق د لاری دغه نومیالی مجاهد په ۱۳٦۷ هـ ش کال کی د ځاځی میدان په اولسوالی کی له دښمن سره په یوی مخامخ جگړه کی د شهادت لوړ مقام ته ورسید.

(انا لله وانا الیه راجعون)

د شهید عیسی گل لنډه پیژندنه

د حق د لاری قربانیانو په ډله کی یوهم شهید عیسی گل د حاجی زمه گل زوی او د پکتیا د ولایت د خوست دلوی اولسوالی د اسماعیل خیلو د دلپوری اوسیدونکی ؤ.

په افغانستان د ملحدو کمونستانو له کودتا ځخه وروسته یی اسلامی هیواد پاکستان ته هجرت کړی او بیایی په وسله وال جهاد کی برخه اخیستی وه.

نوموړی د جهاد په دوران کی په ډیرو جهادی عملیاتو کی گډون کړی ؤ او د دین او وطن دښمنانو ته یی د سر او مال درانه تلفات وراړولی دی، چی دلته یی د نمونی په توگه ډبگی، ژوره، لیژه، بړی، د سنکی پوستی او توری غاړی د عملیاتو په یادونه اکتفاء کوو.

دغه نومیالی مجاهد د مجاهدینو یو گروپ د قوماندانی وظیفه په غاړه درلوده. هغه وخت چی

ډیر کورنی مشکلات یی هم لرل خو د جهاد مینی دی آرام پری نښود او دوسله وال جهاد سنگر ته یی ورروست .

نوموړی د جهاد په دوران کی په ډیرو جهادی عملیاتو کی برخه اخیستی وه اوهر ځل یی د دین او وطن دښمنانو ملحدو روسانو او دهغوی مزدورانو ته د سراو مال درانه تلفات ور اړولی دی .

بالاخره دغه نومیالی مجاهد دسنکیو په پوسته باندی د مجاهدینو د عملیاتو په دوران کی د شهادت لوړ مقام ته ورسید .

(انا لله وانا الیه راجعون)



په زیر منځکی عملیات شروع شول نوموړی په پیښور کی ؤ کله چی له عملیاتو څخه خبر شول غوښتل یی چی ځان د جهاد سنگر ته ورسوی . خو په لاره کی د موتړ د چپه کیدوله امله په ۱۱ / ٦ / ۱۳٦۷ کال کی په شهادت ورسید .

(انا لله وانا الیه راجعون)

د شهید ولی زار خان لنډ ژوند لیك



د اسلام د حقی لاری د میړنیو مجاهدینو په ډله کی یوهم ولی زار خان د حضرمه گل زوی د خوست د لوی اولسوالی او سیدونکی په قوم اسماعیل خیل ؤ .

کله چی په افغانستان کی د ملحدینو له خوا د ثور خونړی کودتا رامینځ ته شوه . نوموړی اسلامی هیواد پاکستان ته هجرت وکړ ، سره له دی چی

د شهید صابری خان لنډ پیژند لیك

د نومیالیو مجاهدینو په ډله کی یوهم صابری خان د مشك زوی ؤ چی په ۱۳۲۷ هـ ش کال د پکتیا ولایت د تعمیر د اولسوالی د کړوس په کلی کی زیږیدلی په قوم گرموخی ؤ .

نوموړی په ۱۳۶۱ هـ ش کال کی د الحاج مولانا جلال الدین حقانی تر قیادت لاندی د شهید انجینر عبدالقیوم په جبهه کی په وسله وال جهاد پیل وکړ بالاخره دغه نومیالی مجاهد په ۱۳۶۵ هـ ش کال کی د ژوره په جنگ کی د دښمن د وحشیانه بمباری له امله د شهادت لوړ مقام ته ورسید .

(انا لله وانا الیه راجعون)

د شهید بادشاجان لنډ ژوند لیك .

د نومیالی مجاهدینو په ډله کی یوهم بادشاجان د ملك سرور خان زوی ؤ .

نوموړی په قوم اڅړ او د خوست دلویی او لسوالی د اڅړو د کلی او سیدونکی ؤ .

د ثور له خونړی اوالحاذی کودتا څخه وروسته یی د ملحدینو پر ضد وسله وال جهاد پیل کړی او پیاوړی قوماندان شرین جمال تر قوماندی لاندی یی په ډیرو جهادی عملیاتو کی د دین او وطن دښمنانو ته مرگونی گوز ارونه ورکړی دی .

بالاخره دغه زړور مجاهد د ۱۳۶۴ هـ ش کال د جدی په میاشت کی د سنکیو پرپوسته له دښمن سره د یوی مخامخ جگړی په ترڅ کی د شهادت لوړ مقام ته ورسید .

(انا لله وانا الیه راجعون)



د شهید اسمعیل لنډ ژوند لیك

لکه گل د دنیا باغ ته وم راغلی
ماخندلی قدرنه وو خزان راغی

د جهاد د سنگر د نومیالیو مجاهدینو په ډله کی یوهم اسمعیل د صاحب زوی ؤ چی په ۱۳۴۸ هـ ش کال د باك د علاقداری دکوتکیو د کلی په یوه غریبه متدینه کورنی کی زیږیدلی ؤ .

نوموړی تنکی ځلمی ؤ چی دینی او ایمانی جذبی او دجهاد سره بیدریغه مینی هغه د حق د لاری د میړنیو مجاهدینو په لیکه کی و دراوه .

بالاخره حق دلاری دغه تکړه مجاهد د ۱۳٦۸ هـ ش کال د جوزا میاشتی په ۱۷ نیټه د علی شیرو د علاقداری سره نژدی دا خون کلی په مورچو کی د خدای جل جلاله د رضا په لار کی د شهادت لوړ مقام ته ورسید .

(انا لله وانا الیه راجعون)

د شهید میر علی شاه لنډه پیژندنه

میر علی شاه د حاجی گل زوی ؤ چی په ۱۳۴۹ هـ ش کال د پکتیا ولایت د وزی داولسوالی د شورك علاقداری د ابراهیم خیلو په کلی کی زیږیدلی ؤ .

نوموړی د لومړنیو دینی علومو زده کړه د خپل کلی له عالمانو څخه کړې وه‌د کفر او الحاد پر ضد د وسله وال جهاد په دوران کی یی په ډیرو جهادی عملیاتو کی برخه اخیستی وه.

بالاخره د حقی لاری دانومیالی مجاهد د ۱۳٦٦ هـ ش کال د اسد په ۲۴ نیټه د خوست د لوئ اولسوالۍ دژوره په سیمې کی د شهادت لوړ مقام ته ورسید .

(انا لله وانا الیه راجعون)

د شهید حضرت خان لنډه پیژندنه

د هغو مجاهدینو په ډله کی چی و یاړلی جهادی کارنامی به یی د تل لپاره د افغانستان د مسلمان ملت د جهاد په تاریخ کی په زرینو کرښو ثبت وی یو هم حضرت خان ددلو جان زوی ؤ چی په



۱۳۳۷ هـ ش کال د پکتیا ولایت د گردیز د تعمیر د اولسوالی د کړوس په کلی کی زیږیدلی او په قوم اموزی ؤ .

نوموړی په ۱۳٦۲ هـ ش کال کی د الحاج مولانا جلال الدین حقانی ترقیادت لاندی په وسله وال جهاد پیل وکړ .

بالاخره د اسلام د حقی لاری دغه پیاوړی مجاهد په ۱۳٦٥ هـ ش کال د ژوری په جگړه کی د ملحدینو د وحشیانه بمباری له امله د شهادت لوړ مقام ته ورسید .

(انا لله وانا الیه راجعون)

د شهید ظاهر خان لنډ پیژند لیك

د اسلام د لاری د هغو نو میالیو مجاهدینو په ډله کی چی خاص د خدای (جل جلاله) د رضا او اعلای کلمة الله په خاطر یی د کفر او الحاد پر ضد وسله وال جهاد پیل کړی ، یوهم ظاهر خان د حیدر خان زوی ؤ چی په ۱۳۳۹ هـ ش کال د پکتیا د ولایت دبنوزایی په کلی زیږیدلی ، په قوم بنوزایی ؤ .

نوموړی په ۱۳۵۹ هـ ش کال د الحاج مولانا جلال الدین حقانی ترقیادت لاندی د شهید انجینر عبدالقیوم په جبهه کی په وسله وال جهاد پیل وکړ بالاخره دغه نومیالی مجاهد د قوماندان عزت شاه په شمول له نورو (۲۲) تنو مجاهدینو سره یوځای دکنی په ژرندو کی د شهادت لوړ مقام ته ورسید .

(انا لله وانا الیه راجعون)

د شهید عزیز خان لنډه پیژندنه

د افغانستان د مسلمان ملت د جهادی پاڅون د نومیالیو او توریالیو مجاهدینو په ډله کی یوهم عزیز خان د سالم خان زوی ؤ چی په ۱۳۴۷ هـ ش کال د پکتیا ولایت د خوست د لویی اولسوالی د یعقوبیو په علاقداری د ستر کلی په یوه غریبه



او متدینه کورنی کی سترگی نړۍ ته پرانیستی وی . نوموړی په ۱۳٦٥ هـ ش کال کی دینی او ایمانی جذبی او د جهاد مینی هغه د وسله وال جهاد سنگرته وروست او د جهاد په دوران کی یی په ډیرو جهادی عملیاتو کی په میړانه برخه اخیستی وه او پر ملحد دښمن یی مرگونی گوزارونه کړی وو . دلته یی د نمونی په توگه د خوست د علیشیرو او یعقوبیو سیمو کی د عملیاتو په یادونه اکتفاء کوو .

بالاخره د اسلام د حقی لاری دغه نومیالی مجاهد د یوویشت کالو په عمر په ۱۳٦۸ کال د خوست د یعقوبیو په علاقداری کی له دښمن سره د یوی مخامخ جگړی په ترغ کی دلوی خدای (جل جلاله) د رضا په لار کی د شهادت لوړ مقام ترلاسه کړ .

(انا لله وانا الیه راجعون)

بسم الله الرحمن الرحيم

د رحمت ، مغفرت او نجات میاشت

بیهقی یوحدیث رانقل کړیدی ، د حدیث راوی حضرت سلمان فارسی رضي الله تعالی عنه وائی : رسول الله صلی الله علیه وسلم د برات د میاشتی په وروستی ورځ مونږ ته یوه و ینا وکړه و یی فرمایل :

« ای خلکو ! پرتاسی باندی یوی ډیری لوی میاشتی خپل سیوری غوړولی دی دا ډیره برکتی میاشت ده . دا هغه میاشت ده چی په هغی کښی یوه شپه داسی شته چی له زرو میاشتو نه غوره ده . الله تعالی ددی میاشتي روژی فرض کړیدی او دهغی د شپی قیام یی نفل ګرځولی دی . چاچي په دی میاشت کښی د کوم نیك عمل په سرته رسولو سره خدای ته د ځان نږدی کولو هڅه وکړه هغه د هغه چا په څیر دی چی په نورو وختونو کښی یوه فریضه اداء کړی او چاچی پدی میاشت کښی یوه فریضه اداء کړه نو داسی دی لکه چی په نورو وختونو کی او یا فریضی اداء کړی رمضان د صبر میاشت ده او دصبر ثواب جنت دی دا یو له بل سره د خواخوږی میاشت ده . دا هغه میاشت ده چی د مسلمان روزی پکښي زیاتیږی کوم روژتی چی په دی میاشت یو بل روژتی ته روژه ماتی ورکړی نو داکار د هغه د ګناهونو د بښل کیدو او ددوزخ نه د هغه د خلاصون وسیله ګرځی او دومره ثواب ګټی څومره چی هغه روژتی ته په برخه کیږی بی له دی چی د هغه روژتی له اجر نه څه کم شی . راوی وائی چی مونږ صحابه وو عرض وکړ : یا رسول الله ! زمونږ هر یو خو دا وس او توان نلری چی یو روژتی ته روژه ماتی ورکړی ؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : الله تعالی دغه ثواب هغه چا ته هم ورکوی چی کوم روژه تی ته یو غړپ شیدی ، یا یوه دانه خرما او یا یو غړپ او به ورکړی . اوڅوك چی کوم روژه تی ته په مړه خیټه خواړه ورکړی نو الله تعالی به هغه زما له حوض کوثر څخه خړوبه کړی چی بیابه هیڅکله تږی نشی ترهغه پوری چی جنت ته داخل شی . دا هغه میاشت ده چي لومړی لسیزه یی رحمت ، منځنی یی مغفرت او وروستی یی له دوزخ له اورنه خلاصون دی او چاچي د رمضان په میاشت کښی پخپلو خدمتګارانو او لاس لاندی کسانو باندی آسانه کارونه وکړل الله تعالی به هغه ته بښنه وکړی او له دوزخ نه به آزادی ورته په نصیب کړی »

88 9 21